د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د شوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د
تالیف لوی ریاست

پښتو

لسم ټولګی

پښتو — لسم ټولګی

لړۍ. اخیستنه او
سره قانوني چلن

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش.

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو
د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تألیف لوی ر یاست

پښتو

لسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش.

الف

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال:

ـ پوهنمل بربالی باجوړی

علمي او مسلکي ايډيټ:

ـ محمد زرين انځور

ديني، سياسي او کلتوري کمټه:

ـ ډاکټر عطاء الله واحديار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئيس.

- حبيب الله راحل د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

ـ مولوي خليل الله فيروزي

د څارنې کمټه:

ـ دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين.

ـ دکتور شېرعلي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول.

ـ د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس.

کمپوز او ډيزاين:

ـ صفت الله مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هېواد به تل ځلېږي — لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پېغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميِ. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو مینديِ او پلرونه هم د خپلو لونړو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برېښاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیارکاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وموميِ.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له مینديِ او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک لړ

شمیره	د لوست نوم	مخ
لومړی لوست	دعا	۱
دویم لوست	نعت	۷
دریم لوست	سوله	۱۱
څلورم لوست	ادب څه ته وایي؟	۱۷
پنځم لوست	خوشحال خان خټک	۲۳
شپږم لوست	پښتو نحوه یا جمله پوهنه	۳۱
اووم لوست	ملي نظمونه	۳۹
اتم لوست	ولسي کیسه	۴۷
نهم لوست	سید بهاوالدین مجروح	۵۳
لسم لوست	عروضي نظمونه	۶۱
یوولسم لوست	پښتو هنري نثر	۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیره	د لوست نوم	مخ
دولسم لوست	د پښتو ادبياتو لرغوني دوره	۷۷
دیارلسم لوست	ښځې او لنډۍ	۹۱
څوارلسم لوست	افضل خان او تاریخ مرصع	۹۹
پنځلسم لوست	پښتو لنډه کیسه	۱۰۷
شپاړسم لوست	ویلیام شکسپیر	۱۱۳
اوه لسم لوست	مېرمن سپینه	۱۱۹
اتلسم لوست	کانړه (لنډه کیسه)	۱۲۵
نولسم لوست	لفظي صنعتونه	۱۳۱
شلم لوست	هجري او د هغه حبسیات	۱۳۷
یوویشتم لوست	پښتو سفرنامې	۱۴۳
دوه ویشتم لوست	معنوي صنعتونه	۱۴۹
درویشتم لوست	چاپېریال ساتنه	۱۵۷
څلرویشتم لوست	د هوتکو ادبي دربار	۱۶۳
پنځه ویشتم لوست	د ماین خطرونه	۱۷۱
شپږویشتم لوست	اصطلاحات او محاورې	۱۷۷
اوه ویشتم لوست	د روږدیوالي لاملونه	۱۸۳
اته ویشتم لوست	پښتو لهجې	۱۸۹
	ویپانګه	۱۹۵
	اخځلیکونه	۲۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

موږ مسلمانان د هر کار پیل د بسم الله په ویلو کوو، ځکه چې د بسم الله په ویلو سره په هر کار کې برکت پیدا کېږي او د کار پای په ښه شان سرته رسېږي. یا د خدای ﷻ نوم یادوو او یا د کار پیل په دعا سره کوو. د پښتو ژبې پخواني دیوانونه په حمد پیلېږي. حمد د خدای ﷻ ثنا او ستاینه ده او تل په نظم کې وي. ځینې کتابونه په مناجات هم پیلېږي. مناجات هم دعا ده چې له خدای ﷻ څخه کېږي، کېدای شي چې په نظم کې وي او یا په نثر کې. په پښتو ادب کې د مناجات خورا په زړه پورې نمونه په نظم کې د بیټ نیکه ده چې په تېرو ټولګیو کې مو لوستلې ده. موږ تل خدای ﷻ ته په زاري او دعا کې یو او له خدای ﷻ نه راز، راز غوښتنې لرو. تاسې په تېر ټولګي کې د پښتو کتاب د یونس خیبري په حمد پیل کړی و. ددې ټولګي د کتاب پیل د نومیالي شاعر ګل پاچا الفت په دعا سره کوو، چې خدای جل جلاله زموږ په زده کړه کې خیر او برکت واچوي.

_ د حمد او مناجات ترمنځ څه توپیر دی؟

_ موږ ولې د کار په پیل کې دعا کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټول جهان واکداره! ته هر څه لرې او هر څه کوی شې. د هر چا امید تاته کېږي او هر څوک هر څه له تا غواړي. ستا خزانې او کارخانې ډکې دي. ستا په باغونو کې د شیدو او عسلو ویالې بهېږي.

ستا بخششونه او انعامونه بې پایانه دي. ستا د رحمت نور په ځمکو او اسمانونو کې نه ځایېږي.

فقیران او مسکینان درنه د ډوډۍ سوال کوي.

ماړه او بډایان درنه اشتها او د هضمولو قوت غواړي.

څوک درنه په زاریو او دعاګانو اولادونه غواړي. ځینې وایي چې مال او دولت راکړه!

یو وایي چې جنت مې په کار دی. بل وایي له دوزخه امان او پناه غواړم.

مرتبې او لوړې درجې له تا سره دي، کامیابي او موفقیت ستا په توفیق حاصلېږي. دین او دنیا ستا په لاس کې دي.

راحت، زحمت، عزت او ذلت ستا له خوا انسان ته رسي.

بهار او خزان ته راولې، مرګ و ژوند ستا په اختیار کې دی.

هر څه ته کوې او هر څه له تا غوښتل کېږي.

ددې جهان او د هغه جهان اجرونه، خیرونه، خوندونه او خوشحالۍ خلکو ته، ته ورکوې. زه پوهېږم چې تا سره هر څه شته.

مګر زه هر څه نه غواړم. زما دعا او د زاهدانو دعا، زما ارزو او د پادشاهانو ارزو یو راز نه ده.

زما سوال د بډایانو او مسکینانو له سواله ډېر توپیر لري.

زه نه وایم چې ځمکې او پیسې راکړه. نه غواړم چې عزت مې ډېر لوړ او رتبه مې لوړه شي. موټرونه او اسونه مې نه دي په کار.

قصرونه او عمارتونه نورو ته ورکړه!

پټې او باغونه هغه چاته وبخښه چې په خاورو نه مړېږي.

په بانکونو کې د سوداګرو پیسې زیاتې کړه.

د بزرګۍ اعتبار مه راکوه! ځکه چې ستا په طاعت او عبادت له خلکو نه اجر او عزت

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل راته ښه نه ښکاره کېږي.

زه له دې ټولو نه تېر يم او نور څه غواړم.

زه هغه څه غواړم چې ته يې هم غواړې.

هو، زه ستا له رضا نه خلاف څه نه غواړم.

زه وايم په جهان کې د ظلم بيرغ نسکور کړه. حق او عدالت ته قوت ورکړه! په زړونو کې رحم او د خير مينه واچوه!

په دماغونو کې د حق نور او د حقيقت رڼا پيدا کړه! ته کولای شې چې د ظلم قوت په وړو، وړو کانړو ميده، ميده او ذرې، ذرې کړې يا د هوا په ماشو ظالمان تباه کړې.

مګر موږ د اتوم په بمونو هم دا کار نشو کولای.

د ليکوال لنډه پېژندګلوی:

ګل پاچا الفت د مير سيد پاچا زوی او د سيد فقير پاچا لمسی دی. د لغمان په عزيز خان کځ کې په (۱۲۸۸ هـ ش، ۱۹۰۹م) کال کې زېږېدلی دی. د ننګرهار او کابل په مدرسو کې يې زده کړې کړي دي او رسمي ماموريت يې د انيس د ورځپاڼې په اداره کې پيل کړی و. الفت د رسمي دندو په بهير کې په لوړو څوکيو کارونه کړي دي او دوه دورې په پارلمان (ولسي جرګه) کې د خلکو د استازي په توګه هم پاتې شوی دی. ګل پاچا الفت د پښتو ژبې له پنځو ستورو څخه دی چې پښتو ژبې او ادب ته يې زيات خدمتونه کړي دي. ډېر کتابونه يې ليکلي دي چې مشهور يې دادي: غوره شعرونه، غوره نثرونه، ليکوالي (املا او انشا) ادبي بحثونه، څه ليکل يا ليک پوهه او نور...

ګل پاچا الفت په نظم او نثر دواړو کې د پوره صلاحيت خاوند و، چې غوره اشعار يې د شعرونو ټولګه او غوره نثرونه يې د معاصرو ادبي نثرونو په زړه پورې مجموعه ده. ګل پاچا الفت په ۱۳۵۶ل کال د قوس په ۲۸مه نېټه له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

په دې دعا کې له خدايه غوښتل شوي دي چې په نړۍ کې دې ظالم نه وي، ظلم او تېرى دې نه وي. دا تر ټولو غوره دعا ده، ځکه چې د ټول انسانيت خلاصون پکې نغښتى دى. کله چې ظالم او ظلم نه وي نو محکوم او مظلوم به هم نه وي. برابري، عدل او مساوات به وي او دا هغه څه دي چې د اسلام مبارک دين يې غواړي او د خداى ﷻ رضا هم په دې کې ده. موږ هم بايد تل له خپل خداى ﷻ څخه د خير دعا وغواړو چې په هغه کې د ټولو انسانانو خير وي.

موږ بايد خود غرضه او خودبين ونه اوسو چې هر څه د ځان لپاره وغواړو، بلکې خپله هوساينه د نورو په هوساينې کې ولټوو.

هغه څه چې د ځان لپاره يې غواړو د نورو لپاره يې هم بايد وغواړو. د اسلام مقدس دين موږ عدل، وروړى او برابرۍ ته رابولي نو بايد موږ هم پخپلو کړو وړو کې دغه اصل په پام کې ونيسو. چاته ازار ونه رسوو. د چا په حق سترګې پټې نه کړو او په وروړى، سوله او امن کې ژوند وکړو.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې وروسته له ښوونکي څخه په وار سره متن په لوړ اواز ولولي او لاندې پوښتنو ته دې ځوابونه ووايي:

- د حمد او مناجات ترمنځ څه توپير دى؟
- د دعا او مناجات ترمنځ څه توپير دى؟
- مناجات په نظم کې وي که په نثر کې؟
- ولې د هر کار پيل په دعا سره کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن لنډیز پخپلو خبرو کې ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

۳ـ زده کوونکي دې پخپله خوښه په څو کرښو کې یوه دعائیه ولیکي او په ټولګي کې دې یې واوروي.

۴ـ زده کوونکي دې متن په غور ولولي او په متن کې دې شخصي ضمیرونه، ملکي ضمیرونه او استفهامي ضمیرونه په نښه کړي.

شخصي ضمیرونه: د لومړي شخص، دویم شخص او دریم شخص لپاره کارول کېږي. په دوه ډوله دی، منفصل او متصل.

منفصل ضمیرونه: هغه دي چې مستقل وي او له بلې کلمې سره پیوست نه وي.

لکه: زه، ته، دی، موږ، تاسې، دوی.

متصل ضمیرونه: هغه دي چې په خپلواک ډول نه کارول کېږي له نورو نومونو سره یوځای وي لکه: مې، مو، یې، دې.

ملکي ضمیرونه: چې یو څیز په چا پورې اړوند بولي، لکه: زما، ستا...

استفهامي ضمیرونه: د پوښتنې لپاره کارول کېږي، لکه: څوک، چا.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې دغه دعائیه شعر په غور ولولي او مفهوم دې پخپلو کتابچو کې ولیکي، په بله ورځ دې په پښتو درسي ساعت کې واوروي:

که هر څو یم له عمله بېنوا
ربه ته مې د امید غونچه کړې وا
ما له قهره په امان کړې ذوالجلاله
یا جماله رحم ته وکړې پر ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر نیکی باندې قوت راکړې قادره!
له بدی مې په امان لرې مولا
و نیکی ته مې محتاج نه یې خاونده
نه زما په بدعتو لرې پروا
ستا له وارو مناهیو نجات راکړې
پر ما امر کړې قایم تر ابدا
هر عادت مې پر طاعت باندې حساب کړې
که صحیح چېرې له ما نه سي ادا
د شیطان له بده مکره نجات راکړې
هم د نفس له وسوسې او له هوا
په یقین کې مې لرې باور له مخه
ما له ملکه د ګمان لرې جدا
ما توانګر د قناعت په خزانه کړې
چې مې نه وي وسوسه ددې دنیا
امید ډېر لرم باري ستا و کرم ته
چې غالبه مې پر خوف باندې رجا
ستا دیدار به روزي زما ((جمعه)) کړي
په نصیب، مې شفاعت کړې د پښوا

حاجي جمعه بارکزی:

حاجي جمعه بارکزی د پښتو ژبې شاعر و چې له ۱۲۰۰ هـ. ق. نه تر ۱۲۵۹ هـ. ق. پورې يې ژوند کړی دی. دی د کندهار په زاړه ماشور کلي کې اوسېده او د سردار کندل خان معاصر و. د خپل وخت عالم او صوفي شاعر و. د نقشبندیه طریقې پیرو و. څو ځلې حج ته په پښو تللی و. دده په شعرونو کې د کندل خان د حکومت ګډوډیو او ظلمونو ته اشاره شوې ده او هم يې د پښتنو غازیانو هغه حملې یادې کړي چې د انګرېزانو پر خلاف يې کړي دي. دیوان يې د علومو اکاډمۍ له خوا په ۱۳۶۰ هـ. ش. کال چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعت

نعت هغه موزون کلام دی چې د اسلام د ستر پیغمبر محمدﷺ ستاینه پکې شوی وي.
په نعت کې معمولاً شاعر د حضرت محمدﷺ د سیرت ستاینه کوي او ددې په څنګ کې ورسره د خپلې مینې اظهار کوي. په پښتو شعر کې له لرغونو زمانو څخه تر کلاسیکې شاعرۍ او ننني شعر پورې دا لړۍ رارسیدلې ده.
د پښتو شعر په زیاترو دیوانونو کې له حمد نه وروسته د اسلام د ستر لارښود حضرت محمدﷺ په اړه نعت ویل شوی دی.
کله کله دا ستاینه په نثر کې هم وي خو بېلګې یې په نظم کې زیاتې دي. په پښتو کې حمدونه او نعتونه په جلا جلا مجموعو کې هم راټول او خپاره شوي دي. په دې لوست کې مو د کلاسیکې دورې دیو شاعر خواجه محمد بنګښ یو نعت غوره کړی دی.

نعت څه ته وایي او موضوع یې څه وي؟
ستاسې کوم نعت په یاد دی څو بیتونه یې په ټولګي کې نورو ته واورئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمده ستا و لور ته به سفر کړم
په لېمو به در روان شپه به په سر کړم
رنګينه جامې به واغوندم حبيبه!
ځان به ستا د بورجلونو قلندر کړم
زه که ستا تر مبارکې روضې ورشم
په بنو به دې جارو خاورې د در کړم
سعادت د دوارو کونو زما دادی
چې په خاورو، دې روښان دواړه بصر کړم
پيشکشي مې د عمل په مخکې نشته
شرمنده به در حاضر دا خپل بشر کړم
جګې جګې نوراني جمال څرګند کړه
د غفلت توره تياره شوه چې نظر کړم
ته نظر د عنايت رابانديې وکړه
بېهوده مينې هر ګور سره اوتر کړم
زه خواجه محمد هر ګوره ګنهګار يم
دېر اميد له شفاعته د سرور کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاعر لنډه پېژندګلوي:

خواجه محمد بنګښ د پښتو ادبياتو د منځنۍ دورې شاعر دی. د مغلي پاچا اورنګزيب د پاچاهۍ په وخت کې يې ژوند کاوه. د خوشحال خان خټک معاصر او د پښتنو د بنګښو قبيلې ته منسوب دی. په بنګښو شاعرانو کې لومړنی د ديوان خاوند شاعر دی. ديوان يې په پېښور کې چاپ شوی دی. خواجه محمد بنګښ په پېښور کې ژوند کاوه او د تصوف په سلسله کې د چشتيه طريقې پيرو و. دی د شيخ عبدالرحيم مريد و.

دده په اړه پوره معلومات نشته. د زېږېدنې او مړينې نېټه يې نه ده معلومه. قبر يې هم نه دی معلوم. شعرونه يې عشقي، عرفاني او اخلاقي مضامين لري. خواجه محمد بنګښ د خپلو يارانو په مړينه ډېرې ښې مرثيې ليکلي، خو دده مرثيه چا نه ده ليکلې.

د پښتو ژبې يو شاعر بيدل يې د يو نکته دان شاعر په توګه يادوي. خواجه محمد بنګښ په خپل يو شعر کې د اورنګزېب د پاچاهۍ وخت ته داسې اشاره کوي:

د اورنګ په پادشاهۍ کې مې نياو نه شي
زه خواجه محمد به ووځم بل لور ته

د متن لنديز:

نعت هغه موزون کلام دی چې د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمدﷺ ستاينه پکې راغلی وي. پښتو ديوانونه په حمد پيلېږي او ورپسې نعت راځي چې په نعت کې د حضرت محمدﷺ د سيرت ستاينه کوي. خواجه محمد بنګښ چې د کلاسيکې دورې شاعر دی په دغه نعت کې يې د حضرت محمدﷺ مزار ته د ورتلو ارمان کړی او د خپلو ګناهونو د شفاعت هيله ترينه لري، شاعر خپله نېکمرغي داګڼي چې دده تر مزاره ورشي او د عنايت نظر ورباندې وشي. په پښتو پخوانيو او اوسنيو شعرونو کې د نعتونو نمونې زياتې دي چې شمېر يې سلګونو ته رسېږي. ځينې نعتيه مجموعې هم په معاصره دوره کې خپرې شوي دي چې يو شمېر نعتونه يې راټول کړي دي. ځينې داسې پښتانه شاعران هم شته چې د نعتونو مستقلې مجموعې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې له ښوونکي وروسته په وار سره متن په لوړ اواز ولولي.
ښوونکی دې د زده کوونکو سم ویل وڅاري.

۲ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره د نعت یو، یو بیت معنا کړي او نور زده کونکي دې د نعت سم ویل او سمه معنا کول وڅاري.

۳ـ زده کوونکي دې لاندینۍ لغتونه معنا او په مناسبو جملو کې وکاروي:

حبیب، بورجل، قلندر، روضه، سعادت، بصر، جګې جګې، جمال، عنایت، اوتر، شفاعت، سرور

۴ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- د نعت ویونکی څوک او د چا معاصر و ؟
- دکوم پاچا په وخت کې یې ژوند کاوه؟
- د دې شاعر د شعرونو موضوعات څه دي؟

۵ـ د لاندې بیتونو مفهوم په وار سره په شفاهي توګه وویاست:

پیشکشي مې د عمل په مخکې نشته
شرمنده به در حاضر دا خپل بشر کړم
جګې جګې نوراني جمال څرګند کړه
د غفلت توره تیاره شوه چې نظر کړم

۶ـ زده کوونکي دې په شعر کې نومړي په نښه کړي او ودې وایي چې کوم نومړي دي ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د اسلام د ستر پیغمبر محمد (ص) په اړه په یو مخ کې لیکنه وکړي، او په بله ورځ دې خپله لیکنه په پښتو درسي ساعت کې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســوله

جګړه او سوله د انسانانو له ژوند سره سمه رارواته ده. سوله د جګړې ضد کلمه ده. په جګړه کې انسان وژنه، بربادي او ناخوالې وي.

ټولنيز ژوند له ګډوډيو سره مخامخ کېږي. په سوله کې ارامي، خواخوږي، سوکالي او امن وي. سوله ټولنيز ژوند تنظيموي او د جګړې ناخوالې له منځه وړي. جګړه د تباهۍ او بربادۍ نوم دی او سوله د ارامۍ او ودانۍ ضمانت کوي. جګړه نه ګټه لري او نه ګټل، سوله نه ماته لري او نه بايللل. په دې لوست کې به تاسې د سولې د ارزښت او ګټو په اړه ولولئ چې ژوند پرته له سولې څومره ستونزمن او له کړاو نه ډک دی.

_ که سوله نه وي نو ژوند به له کومو ستونزو سره مخامخ وي؟

_ په سوله کې د انسانانو د ژوند کوم حقونه خوندي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله د صلحې په ښه يوه عربي کلمه ده چې ډېرې معناوې لري خو يوه معنا يې چې ډېره کارول کېږي هغه د جنګ جګړې بندول دي.

سوله د جنګ بندول، د شخړو لرې کول او د اختلافاتو ختمول دي. يا سوله هغه ترون دی چې جنګ او شخړې پرې ختمېږي. که په کوم ځای کې سوله نه وي، نو هلته خلک يو له بل سره په جګړه اخته وي. د ژوندانه ټول ورځني کارونه نه شي کولای او خلک دې ته اړ کېږي چې ليرې ځايونو ته مهاجر شي او ژوند په سختۍ تېر کړي. په جګړه کې خلک وژل کېږي. مينديې او پلرونه بې اولاده کېږي، ماشومان بې پلاره او بې مورې کېږي.

په جګړه کې خلک د ټوپک په ژبه غږېږي او په ځمکو کې د غنمو پر ځای ماينونه او بمونه کري. په ماينونو زرګونه خلک وژل کېږي او ځينې خپل لاسونه، سترګې او پښې پکې له لاسه ورکوي. ماينونه د خلکو ژوند اخلي او هېواد ورانوي. که سوله نه وي، خلک خپه او ژوند په سختۍ تېرېږي.

په انساني ټولنه کې خلک ډول ډول دي. انسانان کله يو له بل سره جوړېږي او کله نه جوړېږي. نارينه، ښځې، ځوانان او سپين ږيري د هر څه په اړه بېل، بېل نظرونه لري. دا څه بد کار نه دی. که مورږ په کومه خبره له چا سره نه جوړېږو، کومه ګناه نه ده، خو که له يو بل سره خبرې وکړو، نو څرګندېږي چې کومه خبره د ټولو په ګټه ده. که څوک زمورږ خبره نه مني مورږ حق نه لرو چې هغه مجبوره کړو چې بايد حتماً زمورږ خبره ومني. مورږ بايد دا زده کړو چې خبرې په دليل سره وکړو او منطقي وغږېږو. که چېرې څوک د ټوپک په زور مجبور کړو چې زمورږ خبره ومني، نو هغه به له مورږ نه ډار شوی وي. په زړه کې به يې زمورږ خبره نه وي منلي او له مورږ نه به کرکه هم کوي.

مورږ بايد په دې وپوهېږو چې خلک ډول، ډول دي. د يو لاس ګوتې هم برابرې نه دي. يو تور، بل سپين، څوک جګ، څوک ټيټ، څوک چاغ او څوک ډنګر دی. يو په يوه ژبه خبرې کوي او بل په بله ژبه. سره له دې چې يو له بله توپير لرو خو د ځان او خپلو کورنيو لپاره هغه څه غواړو چې ټول يې غواړي. خواړه، د څښلو اوبه، د اوسېدو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ژوند د چلولو لپاره کار.

موږ ټول دا هیله لرو چې زموږ اولادونه روغ، غښتلي او کورنۍ مو خوشحاله وي. دې هیلې ته د رسېدو لپاره موږ باید په سوله او ارامۍ کې ژوند وکړو.

په دې نړۍ کې چې موږ ژوند کوو نو خلک ډول ډول دي او باید چې همداسې وي، ځکه که ټول خلک یو ډول وای دا دنیا به پېکه او بې خونده وای. د همدې لپاره د یو سړي څېره بل ته ورته نه ده. یو سړی یو کار ښه کولای شي او بل سړی بل کار. یو دهقان دی او بل خټګر. څوک د اوسپنې کار کوي او څوک د وړیو او وریښمو کار، یو سوداګري کوي او بل دوکانداري، یو مستري دی او بل ترکان. موږ په خپل ورځني ژوند کې دې ټولو کسانو ته اړ یو. که څوک موږ ته ورته نه دی، یا یې جامې زموږ غوندې نه دي او یا یې غږېدا بل ډول ده، ددې معنا دا نه ده چې هغه له موږ نه ښه او یا بد دی. څه پروا کوي که موږ یو له بله توپیر لرو؟ که څوک یو کار زموږ په څېر نه کوي، موږ یې باید بد ونه ګڼو. موږ یې له نورو زده کوو، نو نور خلک کولای شي چې له موږ نه یې زده کړي. که موږ یو بل ته درناوی ونه کړو او یو له بل سره ناسته ولاړه او خبرې ونه کړو، نو سوله به نه وي.

د انسانانو ترمنځ توپیرونه اختلافات رامنځته کوي خو د اختلافاتو پالل اختلافات زېرولي. دا باید په یاد ولرو چې د اختلافاتو د حل ډېرې لارې شته. کله چې ماشومان په خپل منځ کې جنجال کوي نو مور او پلار یې ورسره خبرې کوي او جوړوي یې. کله چې دګاونډیانو ترمنځ ستونزې پیدا شي، جرګه یا شورا ورسره مرسته کوي چې یو له بل سره روغه وکړي. کله کله بیا خلک د خپلو ستونزو د حل په خاطر قاضي، وکیل او محکمې ته ورځي. که هېوادونه یو له بل سره شخړه ولري، پخپلو منځو کې کښېني او د حل یوه لاره پیدا کوي. که په دې هم جوړ نه شي، نو د ملګرو ملتونو له موسسې نه مرسته غواړي، لنډه دا چې د اختلاف د حل لپاره ډېرې لارې شته. موږ باید خپل اختلاف د خبرو او جرګو له لارې حل کړو، نه د زور له لارې. زور بدمرغي راولي، زور اختلاف نه حل کوي، بلکې اختلاف زیاتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو لازمه ده چې موږ خلک سولې ته راوبلو او ویې هڅو چې د جګړې پر ځای سولې ته غاړه کېږدي.

د یونسکو کړنلاره په دې جملې پیلېږي: (ځرنګه چې جګړه د انسانانو له ذهن نه پیلېږي، نو د سولې د دفاع سنګر هم باید د انسانانو په ذهن کې رامنځته شي.)

په پښتو لیکنې (تحریري) او نالیکنې (شفاهي) ادبیاتو کې هم په سوله او امن ټینګار شوی دی او تل یې خلک سولې او امن ته رابللي دي. د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې لکه لنډۍ او ځینې نورو ډولونو کې، دغه موضوع ډېره ښه انځور شوې ده. په زیاتو لنډیو کې جنګ غندل شوی او ناوړه پایلې یې په ګوته شوي دي، لکه:

د ښو توپکو وستاکاره
د ښو ځوانانو خون به ستا په غاړه وینه

همدارنګه په پښتو شعر کې هم له لرغونو زمانو څخه رانیولی تر ننه پورې سوله او امن ستایل شوی، جنګ یې غندلی او سولې ته یې خلک رابللي دي.

د منځنۍ دورې یو شاعر ملا جان فدوي هوتک جګړه مارو ته د سولې په هکله داسې وایي:

عارفان کا له جهانه سره سوله
تا ترلی په جهان د سولې ور دی

همدارنګه د پښتو ژبې پخوانیو او اوسنیو شاعرانو هېڅکله سوله له پامه نه ده غورځولې او جنګ یې غندلی دی.

رحمان بابا په دې لاندې شعر کې په څومره ښکلي ډول خلک سولې ته رابللي دي:

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي
کوهی مه کنه د بل سړي په لار کې چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
آدم زاد په معنا واړه یو صورت دی هر چې بل آزاروي هغه آزار شي
هغه زړه به له توپانه په امان وي چې کښتۍ غوندې د خلکو باربردار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په معاصره شاعري کې سوله له هري دورې نه زياته راغلې ده او ولسونه يې د سولې په ساتلو مکلف ګڼلي او د جګړې تباهي او بربادي يې يو په يو بيان کړې ده. په معاصر شعر کې مو دلته دوه نمونې غوره کړي دي چې تاسې به يې ولولئ

مينه کر دی په وطن کې د ګلونو مينه ژوند او سعادت دی د قامونو
د ژوندون ترخه په مينه خوږه کېږي ورکوي مينه خواري د ولسونو
کوم قامونه چې په مينه سره ژوند کړي تل وي خلاص د زمانې له افتونو
مينه مينه ده چې جوړ پرې دا جهان دی مينه اصل د وجود او د انسان دی

ارسلان سليمي

چې خپل کور ودانوم زه د بل کور نه ورانوم زه
نه مې چا سره بدي ده نه مې چاته بدنيتي شته
له هر چا مې وروروليي ده خپل پردي سره اشتي ده
زه هر چا لره ښه غواړم زه چې ځان لره څه غواړم

دوست محمد کامل مومند

د متن لنديز:

سوله د جګړې بندول دي. سوله د جګړې ضد کلمه ده، په جګړه کې وژنه، ورانول او له تباهۍ او بربادۍ نور څه نشته. په سوله کې ارامي، وروروليي، مهرباني، سوکالي او ترقي ده.

انسانان په خپلو منځو کې توپيرونه لري او هر سړی د خپل استعداد او توان سره يو کار کوي. ځکه چې موږ يو د بل کار ته اړ يو. د انسانانو ترمنځ اختلافات هم شته خو دا اختلافات د خبرو اترو له لارې بايد حل شي. هېڅوک حق نه لري چې په چا باندې په زور يوه خبره ومني.

که اختلافات شديد شي، نو د حل لپاره يې سپين ږيري، جرګې، محلي شوراګانې شته. له دې سره قاضي، وکيل او محکمې هم شته چې شخړې حلوي.

د هېوادونو ترمنځ که اختلافات پيدا کېږي نو ملګري ملتونه يې حلوي. هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلافات د خبرو او مذاکرې له لارې حل کېدای شي. نو لازمه نه ده چې د جګړې لاره ونیول شي او سوله له منځه لاړه شي.

موږ ټولو ته لازمه ده چې د سولې د دفاع او ساتنې فکر د انسانانو په ذهنونو کې وروزو، ځکه چې جګړه هم له همدغه ځای نه پیلېږي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د ښوونکي له لوستلو څخه وروسته د متن یو، یو پراګراف ولولي او مفهوم دې یې څرګند کړي.

۲ـ زده کوونکي دې په دوه پراګرافونو کې د جګړې زیانونه او د سولې ګټې ولیکي او په وار سره دې یې په ټولګي کې واوروي.

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره په لاندې موضوع باندې خبرې وکړي او خپل خپل نظر دې څرګند کړي (څنګه کولی شو د خلکو په ذهنونو کې د سولې ساتنې اصل وروزو.)

۴ـ (خلک ډول ډول دي) زده کوونکي دې وویي چې دا جمله څه معنا لري. د ټولنې په ګټه ده که په تاوان؟

۵ـ دوه زده کوونکي دې د نورو په استازیتوب په وار سره په دې خبرې وکړي چې څنګه کولای شو اختلافات حل کړو؟

۶ـ زده کوونکي دې په دې خبرې وکړي چې ښځې د سولې په راوستو کې څه رول لوبولای شي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کورونو کې متن په غور سره ولولي او بیا دې ددې متن په رڼا کې د سولې په هکله یوه لیکنه وکړي. بله ورځ دې یې په پښتو درسي ساعت کې د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادب څه ته وايي؟



موږ په ښوونځي کې او هم له ښوونځي څخه د باندې ځینې کلمې اورو او یا یې په کتابونو او مجلو کې لولو، خو په اړه یې دومره معلومات نه لرو چې ورباندې وپوهېږو، د بېلګې په توګه ادب، ادبیات، ادبپوهنه، کره کتنه، ادبي تاریخ، ادبي ژانر او داسې نورې کلمې یا اصطلاحات چې په ادب یا ادبیاتو پورې اړه لري خو ځینې یې له معنا او تعریف سره لازمه اشنایي نه لري. ددې لپاره مو په دې لوست کې په ادب خبرې کړې او د ادب ځینې څانګې مو درته په لنډه توګه روښانه کړې دي چې د ادب هره څانګه په لنډ ډول وپېژنئ.

_ ادب څه ته وایي؟

_ شعر او داستان هم د ادب برخې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوانيو د ادب د کلمې په هکله ويل چې د ادب کلمه له (هذب) نه اخيستل شوې چې (هذب) د بې عيبه معنا لري. د (هذب) کلمه به د هغې ونې لپاره استعمالېده چې څانګې او ښاخونه به يې پرې شول او صافه به شوه.

وروسته بيا دا کلمه د هغه چا لپاره کارېده چې عيبونه به يې ورک شول او مهذب به شو. وروسته دغه (هذب) په ادب واوښته.

د ادب کلمه په تهذيب هم معنا شوې لکه څه شی چې له چا سره لايق او مناسب وي دې ته هم ادب ويل کېږي. په تعريف کې به يې داسې ويل کېدل چې ادب هغه پوهه ده چې انسان په خپله وينا او بيان کې له تېروتنې څخه ساتي. همدارنګه ادب پوهې، زيرکۍ اخلاقي تهذيب او فضيلت ته هم وايي او په اصطلاح کې هغه پوهه او رياضت دی چې انسان ته فضيلت ورپه برخه کوي او پخپلو کړو وړو کې يې له تېروتنې څخه ژغوري.

په اوسنيو څېړنو کې ادب يو ژبنی هنر دی چې واقعيتونه په انځورونو کې وړاندې کوي. ادب واقعيت مخامخ او نېغ په نېغه نه بيانوي بلکې په ښکلي او احساس پاروونکي شکل يې وړاندې کوي. شاعر او ليکوال له واقعيت څخه خپله اخيستنه کوي او بيا يې په عاطفي بڼه انځوروي. د ادبي ژانر (شعر، کيسې، ډرامې، طنز او نورو) مهمه ځانګړتيا داده چې احساس ولېږدوي او که دا کار ونه کړي او د اورېدونکي يا لوستونکي پر عواطفو اغېزه ونه کړي هغه ادبي اثر نه دی. ادب مخامخ نصيحت او لارښوونه نه کوي خو يوه پېښه داسې بيانوي چې تر لوستلو وروسته د شخص په سلوک او فکر کې مثبت بدلون راولي. بد ته بد ووايي او له ښو سره مينه وکړي. ادبيات د انسان ښکلاييز ذوق تسکينوي، سرکښه غرايز تعميروي، شډل ذوقونه يې تربيه کوي. د غمونو او اندېښنو په وخت کې انسان ته تسلي ورکوي. ادبيات دوې مهمې برخې لري چې يوه يې تخليقي ادبيات او بله يې تحقيقي ادبيات دي.

تخليقي يا هنري ادبيات هغو ادبي اثارو ته ويل کېږي لکه شعر، داستان، ډرامه، طنز، ادبي ټوټه، تکل او داسې نور... تحقيقي ادبيات د ادبي اثارو د ماهيت، منشاء، تکامل او څرنګوالي په باره کې څېړنې ته ويل کېږي. په بله وينا تخليقي ادبيات هنري ادبي اثار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او تحقيقي ادبيات ددغو اثارو په باره کې بحث او څېړنه ده چې دغو تحقيقي ادبياتو ته ادبپوهنه هم وايي.

ادبي ژانرونه:

ژانر (genre) فرانسوي کلمه ده چې د نوع يا ډول معنا لري. ادبي اثار د شکل او جوړښت له پلوه د يوه يا بل ژانر په ډله کې راځي. په اروپا کې پخوا دغه ژانرونه منل شوي وو:

ايپيک، ليريک او ډراماتيک

ايپيک حماسې ته وايي. په نثر او نظم دواړو کې راتلای شي. د ايپيک يا حماسې ځينې نامتو نمونې دادي: د هومر ايلياد او اوديسې، د هند مهابهارا ته د فردوسي شاهنامه، د پښتو آدم خان درخانۍ او مؤمن خان او شيرينو.

د ليريک کلمه له لاتين څخه راوتلې ده. لاير د موسيقۍ يو ډول تاريزه اله وه چې سندرې به ورسره ويل کېدې. ليريک کلمه د غنايي اشعارو لپاره کارول کېږي چې دغه اشعار د تخيل، هيجان او ترنم څرګندې نښې له ځان سره لري او د شاعر ځانګړي احساسات څرګندوي. په اوسني وخت کې ناول، لنډه کيسه، شعر، ادبي ټوټه او تکل منل شوي ادبي ژانرونه دي. په اوسني وخت کې د ژانر اصطلاح په پراخ مفهوم استعمالېږي، لکه داستان يو ادبي ژانر دی او د داستان هر ډول لکه لنډه کيسه، ناول، طنز او تکل هر يو ځانته ادبي ژانر دی.

همدارنګه په ليريک کې شعر ژانر دی او بيا د شعر نور ډولونه لکه غزل، قصيده، مثنوي، رباعي او داسې نور هر يو د شعر ډولونه دي.

په ايپيک يا حماسه کې هم پخوا دوه ژانرونه ډېر مشهور وو لکه تراژيدي او کميډي.

د ادبپوهنې ځانګې:

ادبپوهنه درې ځانګې لري: ادبي تيوري، ادبي کره کتنه او ادبي تاريخ.

ادبي تيوري د ادبي اثارو پر منشاء، ماهيت، تکامل، ارزښت او د ارزونې پر مټود

(c) ketabton.com: The Digital Library

او لارو بحث کوي. د ادب تيوري د ادبپوهنې د نورو څانګو لپاره اصول او لارې چارې برابروي.

د مثال په توګه ادبي کره کتونکی چې يو ادبي اثر ارزوي د ارزونې معيارونه له ادبي تيوری څخه ترلاسه کوي.

د ادبپوهنې بله څانګه ادبي کره کتنه ده. ادبي کره کتنه پر ادبي اثارو قضاوت کوي د ادبي اثارو ښه او بد، ښکلي او بدرنګه اړخونه رابرسېره کوي. په ادبي کره کتنه کې بايد له شخصي مينې، کينې، توهين او سپکاوي نه ډډه وشي او له علمي قضاوت او علمي ژبې څخه کار واخيستل شي.

د ادبي کره کتنې هدف دادی چې له لوستونکي سره د ادبي اثر په ارزونه کې مرسته وکړي او ليکونکي ته لارښوونه وکړي چې د خپلې ليکنې نيمګړتياوې او ښېګڼې وپېژني.

ادبي کره کتنه په هغه ټولنه کې ډېره اغېزه او ګټه لري چې د بيان او تخليق آزادي وي. که چېرې دا نه وي نو هلته ادبي کره کتنه د اختناق او سانسور د وسيلې په توګه استعمالېږي.

د ادبپوهنې بله مهمه څانګه ادبي تاريخ دی چې د ادب تاريخ او د ادبياتو تاريخ هم ورته وايي. د ادب تاريخ هغه پوهنه ده چې د هنري ادبياتو د پيدايښت او ودې جريان له تاريخي شرايطو سره د ارتباط په لړکې څېړي. لکه د انسان ژوند چې څومره په ادب کې ځلېدلی، رابرسېره کوي يې. ادبي تذکره له ادبي تاريخ سره توپير لري. په ادبي تذکره کې د ليکوال او شاعر پېژندګلوي (بيوګرافي) راځي او په ادبي تاريخ کې ادبي جريان او تحول څېړل کېږي.

د ادب دغه ياد شوي ډولونه په شلمه پېړۍ کې پښتو ژبې ته رانغوتل او وپالل شول، ځکه چې شلمه پېړۍ د پښتو ادبياتو د پرمختګ او پراختيا پېړۍ ده. په همدې پېړۍ کې د پښتو هنري نثر رامنځته شو. په همدې پېړۍ کې پښتو ناولونه، ډرامې، لنډې کيسې، ادبي ټوټې، سفرنامې، راپورتاژونه، ځان پېژندنې، تکلونه او نور ادبي ژانرونه رامنځته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول.

په همدې پېړۍ کې پښتو د چاپ غېړې ته ولوېده. پښتو د راډيو په څپو کې خوره شوه. پښتو د سينما په پرده پلې شوه. پښتو د تلويزيون او کمپيوټر په سکرين راغله.

په دې پېړۍ کې پښتو ته ټول امکانات برابر شول چې د عصر غوښتنه او د وخت ضرورت و. ددغو امکاناتو تر څنګه دا اړه هم پيدا شوه چې پښتانه ليکوال له نويو غوښتنو سره سم ليکنې وکړي او نړيوال معيار په نظر کې ولري.

له همدې کبله په روانه پېړۍ کې د ليک او ليکوالۍ لارښودونه هم وليکل شول او د ليکوالۍ، املا او انشا لوستونه په درسي کتابونو کې هم شامل شول.

د متن لنډيز:

ادب يو ژبنی هنر دی چې واقعيتونه په انځورونو کې وړاندې کوي. ادب دوې مهمې برخې لري چې يوه يې تخليقي ادبيات او بله يې تحقيقي ادبيات دي. تخليقي ادبيات ادبي اثارو ته ويل کېږي لکه شعر، داستان، ډرامه او نور... تحقيقي ادبيات د ادبي اثارو د ماهيت منشاء، تکامل او څرنګوالي په باره کې څېړنې کوي په بله وينا تخليقي ادبيات هنري ادبي اثار دي او تحقيقي ادبيات ددغو اثارو په باره کې بحث او څېړنه کوي. تحقيقي ادبياتو ته ادبپوهنه هم وايي. ادبپوهنه درې څانګې لري: ادبي تيوري، ادبي کره کتنه او ادبي تاريخ.

ادبي تيوري د ادبي اثارو پر منشاء، ماهيت، تکامل، ارزښت او د ارزيابۍ پر مټود بحث کوي. ادبي کره کتنه پر ادبي اثارو قضاوت کوي. ديو اثر ښې او بدې خواوې رابرسېره کوي او ليکوال ته لارښوونه کوي.

د ادب تاريخ هغه پوهنه ده چې د هنري ادبياتو د پيدايښت او ودې جريان له تاريخي شرايطو سره د ارتباط په لړکې څېړي. دا درې واړه څانګې يوه له بلې سره ارتباط لري او يو د بل مرستندوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او لاندې پوښتنو ته دې ځوابونه ووایي:

ـ د ادب کلمه له څه شي نه راوتلې ده؟

ـ ادب په څو برخو وېشل کېږي؟

ـ ادبپوهنه کومې څانګې لري؟

ـ ادبي تاریخ څه ته وایي؟

ـ ژانر، ایپیک او لیریک کلمې څه شي ته استعمالېږي؟

۲ـ زده کوونکي دې د هغو ادبي ژانرونو نومونه واخلي چې دوی یې پېژني؟

۳ـ څو زده کوونکي دې په وار سره په کره کتنه خبرې وکړي چې کره کتنه څه ګټې لري؟

۴ـ تاسې په پښتو ژبه کې کوم اوسني لیکوال پېژنئ؟

۵ـ زده کوونکي دې د خپل راتلونکي په هکله یو یو پراګراف ولیکي او په وار سره دې یې په ټولګي کې واوروي؟

۶ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي:

(فضیلت، ریاضت، تهذیب، منشاء، ماهیت، تکامل، اختناق، سانسور، تحول).

زده کوونکي دې د متن په موضوعاتو کې ځانته یوه موضوع وټاکي او په اړه دې لس کرښې ولیکي، په راتلونکي درسي ساعت کې دې یې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحال خان خټک



د پښتو ادب منځنۍ دوره په نومیالیو شاعرانو ښکلې ده چې هر یو یې ځانته ځانګړی ځای او اثار لري. یو له دغو نومیالیو څخه خوشحال خان خټک دی چې پښتو ادب پرې ویاړي. دغه د توري او قلم خاوند پښتو ادب ته ډېر ارزښتمن کتابونه په میراث پرې ایښي دي.

خوشحال خان خټک د پښتو ادب سرلاری دی چې د حماسي سبک په رامنځته کېدو یې ډېر لارویان په ځان پسې روان کړي. په دې لوست کې به دده د ژوند او ادب پر بېلابېلو اړخونو پوه شئ.

_ تاسې د خوشحال خان خټک په هکله څه معلومات لرئ؟
_ خوشحال خان خټک پښتو ادب ته څه ورکړي دي؟
_ ولې خوشحال د هند د حکمرانې مغلي کورنۍ پر ضد جنګېده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحال خان ختک د هند د مغلي پاچا نور الدين جهانگير په وخت کې په (۱۰۲۲هـ ق)، (۱۶۱۳م) د پېښور په اکوړه کې وزېږېد.

پلار يې شهباز خان، نيکه يې يحيى خان او غور نيکه يې ملک اکوړی و. خوشحال خان په خپله يوه قصيده کې خپله پېژندګلوي په دې ډول کوي:

زه خوشحال د شهباز خان يم — چې تورزن يم کان په کان
شهباز خان د يحيى خان و — چې بل نه و هسې ځوان
يحيى خان د اکوړي و — چې په توره شو سلطان
د اکبر بادشاه په دور — شو د خپل ولس ستر خان

د هجرت زر دوه ويشت سن و
چې زه راغلم په جهان

د خوشحال خان مشر نيکه ملک اکوړی د هند د مغلي پاچا جلال الدين اکبر له خوا د ختکو د مشر په توګه وټاکل شو. اکبر پاچا ملک اکوړي ته له خير اباد نه تر نوښاره پورې سيمه په جاګير کې ورکړه. د سرک ساتل او په پاچاهي لاره باندې د ځارويو د تګ راتګ د محصول ټولولو امتياز هم ده ته ورکړل شو.

د خوشحال خان ژوند له ماشومتوب نه تر سپين ږيرتوبه پورې له حوادثو ډک دی. دی شپږ کلن و چې په لندې سيند کې ډوب شو، خو د کلي د يوې ښځې په واسطه وژغورل شو.

په اته کلنۍ کې پرې له څپر نه يو کانې راولويد او سر يې داسې تپې شو چې يوه اوونۍ له مرګ سره لاس و ګرېوان و خو وروسته ورو، ورو په رغېدو شو.

د واده په شپه سختې تبې نيولی و او د کورنۍ غړو په برستنو کې داسې پټ کړی و چې د ساه ايستلو توان يې نه و. خوشحال خان د پلار له مړينې وروسته د خپل قوم مشر وټاکل شو. دغه وخت د هند پاچا شاه جهان و او له خوشحال خان سره يې اړيکې ښې وې خو کله چې اورنګزيب خپل وروڼه مړه کړل او خپل پلار شاه جهان يې بنديکړ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحال خان يې هم په (۱۰۷۴هـ ق)، (۱۶۶۴م) کې ونيو.

خوشحال خان دوه نيم کاله په ډيلي او د جيپور د رياست د رنتبور په زندان کې تېر کړل. بيا اګرې ته ولېږل شو. د څلورو کالو بند او نظر بندۍ نه وروسته ازاد شو.

خوشحال خان چې کله خپل وطن ته راستون شو نو د هوډ نيولو په تکل کې و. خوشحال په خپل يو شعر کې دغه حالت په دې ډول څرګندوي:

پس له بنده دی دا عزم د خوشحال د خاطر جزم
يا نيولی مخ مکې ته يا مغلو سره رزم

خوشحال خان د پښتنو د امپراتورۍ د بيا جوړونې او افغاني دولت د جوړښت لپاره توره تر ملا کړه او ويې ويل:

د افغان په ننګ مې وترله توره
ننګيالی د زمانې خوشحال خټک يم

خوشحال خان له مغلو سره ډېر جنګونه وکړل. په ډېرو جنګونو کې يې مغلو ته ماته ورکړه، تر دې چې د هند مغلي پاچا اورنګزيب پخپله لاهور ته راغی او په حسن ابدال کې يې دوې مياشتې تېرې کړې.

ايمل خان مومند او دريا خان اپريدي هغه نومیالي پښتانه وو چې پخوا يې د مغولو د حکومت د ظلم او زياتي په وړاندې د خپلواکۍ بيرغ پورته کړی او پښتانه يې د زادۍ جنګ ته تيار کړي وو. بيا نو خوشحال خان خټک هم ددغو نومیاليو مشرانو تر څنګ ودرېد او د مغولو په وړاندې يې د ستر جنګ ميدان ته وروداڼګل.

د خوشحال خان د عمر وروستي څو کاله د سختو غمونو، مصيبتونو او ستونزو نه ډک کلونه وو. د خوشحال خان يو زوی بهرام خان له مغلو سره ملګری شو او هغه يې کوله چې خوشحال خان ونيسي او مغلو ته يې وسپاري.

بهرام خان له اورنګ زيب نه زده کړي وو چې سړی کولای شي خپل پلار زنداني کړي او خپل ورونه ووژني نو ده هم د خپل پلار د نيولو هڅه وکړه، خو بريالی نه شو او خوشحال خان هم خپل هوډ پرې نښود. خوشحال خان د ژوند په وروستيو ورځو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اپريدو ته لاړ او په ډمبره نومې ځای کې يې پناه واخيسته.

خوشحال خان له ډېرو کړاوونو وروسته په ۱۱۰۰هـ ق ۱۶۸۹م له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

د خوشحال قدر که اوس په هيڅا نشته
پس له مرګه به يې يادکا ډېر عالم

خوشحال خان په عقيده سني مسلمان او په اهل سنت والجماعت کې حنفي و. د اهل بيتو سره يې ډېره مينه وه. د لمونځ او روژې ډېر پابند و او د سخاوت خو يې دا حال و چې د خانۍ او سرداری سره صاحب نصاب شوی نه و. وضعه يې فقيرانه وه، ډېر ربنتينی او د ربنتيا ويلو پابند و.

د ارادې ډېر کلک، ډېر تورزن، شجاع او خود اره سړی و. همېشه د احسان تابع و په دښمنۍ کې به يې هم د احسان حق نه هېرولو. طبيعت يې تېز و. د توپک، غشي او باز هر قسم ښکار به يې کولو. بازونه او اسونه به يې ډېر ساتل. په کتاب، سرود او ښايست مين و، دغه شوقونه يې تر اخري عمره ساتلي و و.

خوشحال خان ختک په نظم او نثر کې ډېر کتابونه وليکل. تر ده دمخه په پښتو کې مسجع نثر دود و. خوشحال خان ختک پښتو نثر بېرته ساده او روان کړ. دستارنامه يې په ساده او روان نثر وليکله چې په نثر کې دده تر ټولو غوره کتاب دی.

خوشحال خان ختک دستارنامه په زندان کې وليکله او په ټولنه کې يې د مشرتابه لپاره شل هنرونه او شل خصلتونه وټاکل. خوشحال خان ختک د پښتو په الفبا کې هم زياتونې وکړې. خوشحال خان ختک په شل کلنۍ کې د شعر ويل پيل کړل او پښتو شعر يې لوړو پوړيو ته ورساوه. د خوشحال خان ختک د شعر موضوعات رنګارنګ دي خو د رزم او بزم برخه يې درنه ده. د خان وطني او ملي کلام د هغه د ادبي اثارو يوه امتيازي او مهمه برخه ده. د خوشحال خان دا د ازادۍ له ولولو نه ډک اشعار که يو خوا د وطن سره دده مينه څرګندوي نو له بله پلوه د پښتنو او مغلو د سياسي کشمکش د تاريخ يو مهم څپرکی دی. د خان ملي شاعري له خپل قام سره د مينې، کلک هوډ، ازادۍ، مېړانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اصلاحي لارښوونو نه ډکه ده. د همدې مينې له کبله په خپل قام سخت انتقادونه کوي او د پښتنو د ښو صفتونو سره د هغوی د کردار نیمګړې خواوې هم بیانوي.

هغه د خپل ولس او ټولنې ژوره مطالعه درلوده او د ټولو اړخونو څخه ښه خبر و. دا هر څه یې په خپل شعر کې انځور کړي او د دوی د اصلاح کوښښ یې کړی دی. دده په شاعرۍ کې د جذباتو ډېر زور، هیجان او توپان هم په ډېر اخلاص او صداقت سره ښکاري.

د خوشحال په کورنۍ کې دده زامن او لمسیان هم شاعران وو لکه دده زامن اشرف خان هجري، عبدالقادر خان ختک، صدر خان، لور یې حلیمه ختکه، لمسیان یې افضل خان ختک او کاظم خان شیدا هم د دیوانونو خاوندان دي. خوشحال خان ختک په نظم او نثر کې زیات کتابونه لیکلي چې ځینې مهم یې دادي:

د نظم برخه:

۱ـ دیوان: د خوشحال خان ختک د شعرونو شمېر له څلوېښتو زرو بیتونو اوړي. خوشحال خان ختک په پښتو او فارسي دواړو ژبو کې شعرونه ویلي دي. فارسي شعرونه یې هم په دیوان کې راغلي دي.

۲ـ بازنامه: یو منظوم اثر دی چې د بازونو د ډولونو، د هغوی د مرضونو د علاج او د بازونو د ښکار په هکله پکې معلومات راغلي دي.

۳ـ هدایه: د فقهې د مشهور کتاب پښتو ژباړه ده.

۴ـ ځینه: د فقهې په برخه کې دی او له عربي ژبې نه ژباړل شوی دی.

۵ـ فضل نامه: فقهي موضوعات او نور اسلامي مسایل پکې راغلي دي.

۶ـ سوات نامه: سوات ته د خوشحال خان د تګ خاطرات او د سوات جغرافیایي حالات پکې بیان شوي دي.

۷ـ طب نامه: طبي موضوعات پکې څېړل شوي دي.

۸ـ فرخنامه: د توري او قلم مناظره پکې راغلې ده.

۹ـ فراقنامه: د خوشحال د بند د ورځو حالات پکې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نثر برخه:

۱ـ دستار نامه: خوشحال خان خټک په دې کتاب کې د دستار د سړي لپاره شل هنرونه او شل خصلتونه بیان کړي دي.

۲ـ بیاض: په دې کتاب کې د خوشحال خان خټک ژوند لیک، دده د کورنۍ احوال او دده تاریخي کارنامې راغلي دي.

له بیاض څخه د خوشحال خان خټک د نثر نمونه:

(په اخیر د جمادي الثاني د تیرا نه راروان شوم. راز علي، حسن علي، موسی و غیره ښه، ښه سواره بدرقه راسره وو.

په بازار راغلم. هور ته ایمل خان په مخه راغی، سره کښناستو. دی تیرا ته راته، وې چې راسره جار وځه، ما وې چې که زه پوهېدای چې ته به رایشې زه به ستا وراتلو ته معطل وم. اما اوس روان یم.

افریدیو ستنولم، ستون نه شوم. اوس جاروځم څه خو عیب غوندې شي. یو څو خبرې مو سره وکړې،روان شوم، افریدي مې سره رخصت کړل. سرو پای بها مې هر کدام ته ورکړه، د څخوبي په لار ایمل خان سره ډکې لره راغلم، شپه مې هورته تېره کړه. سبا بېړۍ راغله، پورې شوو، ورو، ورو مومندو کې تلو.

وارو ښه پښتونولي کوله. هر ځای به په ښه روش راغله. ضیافت و غیره به یې ښه وکړو. ځای په ځای راسره وو. تر خپل حدود نه یې تېرولو، مهمند ښه عالم ولید شه.)

د خوشحال خان خټک دکلام نمونه:

په کاته، کاته مې سترګې په خاته شي — چې خبر دې د راتلو راباندې وشي
ته خو اوس له ما نه لاړې مرور شوې — دا زما یاري دې هم ګوندې په زړه شي
ګوره تا راباندې کومې کوډې وکړې — که په پښو درځنې درومم زړه مې نشي
چې دیدن د مین وکړمه تازه شم — لکه کښت چې په باران سره اوبه شي
د ښه یار ښېلتون د ستوني پرېکول دي — په یرغ به ستونی چېرې پرېکاوه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ارمان د هغه وخت يم درېغه، درېغه! | که د زنې سيب يې بيا زما په خوله شي
د خپل يار د جدائيه هسې کار دی | لکه ساه چې له وجود نه په واته شي
بخته! هومره مدد بيا راسره وکړه | چې په غېږکې مې بيا تللی يار ويده شي

د خوشحال سلام په وارو ښو يارانو
گوندې بيا يې په ليدو سره زړه ښه شي

د متن لنديز:

خوشحال خان خټک د پښتو ادب د منځنۍ دورې هغه نومیالی شاعر دی چې په نظم او نثر کې يې په لسګونو کتابونه ليکلي دي.

دی د مغلي پاچا نور الدين جهانګير په زمانه کې په (۱۰۲۲هـ ق) کال د پېښور په اکوړه کې زېږېدلی او په (۱۱۰۰هـ ق) کې وفات شوی دی. په نثر کې يې مشهور کتاب دستارنامه دی او په نظم کې يې سوات نامه، باز نامه، طب نامه او د شعرونو ديوان ډېر زيات شهرت لري.

خوشحال خان په شل کلنۍ کې په شعر ويلو پيل کړی او په پښتو ادب کې د حماسي سبک سرلاری دی. خوشحال خان د هند د حکمراني مغلي کورنۍ پر ضد مبارزه کوله او د اورنګزېب پر ضد جنګېده.

خوشحال خان د پښتو ادب په بېلابېلو څانګو کې مهم اثار پرې ايښي او د ادب په هر ډګر کې يې قلم ډېر ښه چلېده. خوشحال خان خټک لا ډېر پخوا د خپل ځان په هکله ويلي وو:

خټک خو پرېږده په درست جهان کې | عجب کــه هسې فــرهنګيالی راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- خوشحال خان په کوم کال او کوم ځای کې دنیا ته راغی؟
- خوشحال خان ولې د اورنګزېب له خوا بندي شو؟
- په نثر کې د خوشحال خان کوم کتابونه پېژنئ؟
- په نظم کې د خوشحال خان مشهور کتابونه کوم دي؟

۲ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي:

(جزم، رزم، هوډ، بزم، یرغل، فرهنګیالی)

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره د خوشحال شعر ولولي او ښوونکی دې د زده کوونکو د شعر لوستل او دکلماتو سم تلفظ وڅاري.

۴ـ زده کوونکي دې په لاندې شعر خبرې وکړي او د شعر اصلي مقصد دې روښانه کړي:

ختک خو پرېږده په درست جهان کې عجب کـــه هسې فـــرهنګیالی راشي

۵ـ زده کوونکي دې د خوشحال دکلام نمونه ولولي او بیا دې د شعر مفهوم پخپلو خبرو کې وواېي.

۶ـ یو زده کوونکی دې د خوشحال دکوچنیتوب پېښې وواېي.

۷ـ څو زده کوونکي دې د خوشحال دکورنۍ د څو تنو شاعرانو نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

ستاسې له نظره خوشحال خان ختک څه ډول شخصیت دی؟

په دې اړه یوه لنډه مقاله ولیکئ. د مقالې د لیکلو په وخت کې د خپلو مشرانو نه مرسته وغواړئ او یا هم له کوم کتاب څخه ګټه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو نحوه يا جمله پوهنه



په عامه توګه ژبه د پوهولو او راپوهولو يوه وسيله ده. موږ د خبرو له لارې يو بل پوهوو او خپل مطلب حلوو. په خبرو کې کلمې او جملې کاروو. د نحوې علم چې د ژبپوهنې يوه برخه ده، له جملې نه بحث کوي. ژبپوهنه هغه علم ته وايي چې د يوې ژبې اصلي جوړښت تر څېړنې لاندې نيسي يا هغه پوهنه ده چې د معاصرو علمي طريقو پر بنسټ د ژبې ماهيت او څرنګوالی مطالعه کوي. ژبپوهنه د بېلابېلو ژبو کورنۍ د دوی خپلوي، ډلې او تاريخي بدلونونه هم څېړي.

ژبپوهنه درې برخې لري، فونولوژي (غږ پوهنه)، مورفولوژي (لغت پوهنه)، سنټکس (نحوه يا جمله پوهنه). جمله پوهنه د جملې د جوړښت او ډولونو په اړه بحث کوي. دادی په دې درس کې تاسې ته د جمله پوهنې په اړه معلومات درکوو.

جمله څه ته وايي او په خبرو کې څه ارزښت لري؟

که د جملو جوړښت سم نه وي په خبرو کې به څه ستونزه رامنځته شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نحوه يا جمله پوهنه

(Syntax)

نحوه عربي كلمه ده چې لغوي معنا يې لاره، طريقه، روش طرز او دود دی. په اصطلاح کې د ګرامر هغه برخه ده چې په جملو کې د کلمو د ځای پر ځای کېدلو، د کلمو پر اړیکو، ترتیب او ترکیب باندې غږېږي.

په بله وینا نحوه هغه پوهنې ته ویل کېږي چې د یوې ژبې د جملو، عبارتونو، فقرو، ترکیبونو له جوړښت، ترتیب او تنظیم څخه بحث کوي.

د وینا د توکو (اجزاوو) خپل منځي اړیکې او جوړښت د نحوې موضوع ده.

څرګنده ده چې جمله پوهنه په یوې جملې کې د کلمو (مورفیمونو) د ګرامري ترکیب د یوځای کېدو طریقه، ترتیب او معنوي رابطه په یوې ټاکلې ژبه کې څېړي او یا په بله وینا د جملو لفظي جوړښت او معنوي ځانګړتیاوې مطالعه کوي نو څنګه چې د نحوې د مطالعې او څېړنې اصلي او اساسي مواد جملې دي نو په همدې توګه د کلمو ترکیب هم د جملو په جوړښت کې یوه برخه ګڼل کېږي، لکه: هلک ولوېد. دا یوه ساده جمله ده او له دوو کلمو څخه جوړه ده. لومړۍ برخه يې ((هلک)) چې د جملې فاعل (مسند اليه) او دویمه برخه يې ((ولوېد)) فعل (مسند) دی که چېرې په همدغې جملې کې د جملې د فاعل (هلک) سره ځینې مورفیمونه چې نحوي رابطه سره ولري یوځای شي نو دغه فاعل (هلک) د خپلو اړوندو توکو سره یو ترکیب دی. لکه ښه هلک، یو ډېر ښه هلک، یو غښتلی تکړه ښه هلک. دغه ډله کلمې له یو بل سره نحوي رابطه لري او په پورتنۍ جمله کې د هلک سره د مبتدا په حیث راځي چې د ترکیب په نامه یادېږي. همدارنګه د (ولوېد) فعل سره چې د جملې مسند دی یو شمېر نورې کلمې یوځای شي او نحوي رابطه ولري د جملې په مسند (خبر) کې راځي، لکه: سخت ولوېد، په زوره ولوېد، سخت په زوره ولوېد. یا وران ولوېد، ډېر وران ولوېد، خورا ډېر وران ولوېد.

په پورتني اسمي ترکیبونو کې ګورو چې هلک د ترکیب اصلي جز دی او د خپلو متعلقاتو سره یو اسمي ترکیب ګڼل کېږي او په دویمه برخه کې ولوېد د فعلي ترکیب اصلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جز دی نو فعلي ترکیب ورته ویلی شو.

نو ویلی شو چې ترکیب د دوو یا زیاتو د خپلواکو او ناخپلواکو، کلمو او مورفیمونو له یوځای کېدو څخه عبارت دی چې اجزا یې یو له بله سره ګرامري ارتباط ولري. ترکیبونه بیا په خپل وار د معنا او جوړښت له مخې بېلابېل ډولونه لري.

جمله (Sentence): جمله عربي کلمه ده. لغوي معنا یې مجموعه او ټولګه ده او په اصطلاح کې د الفاظو او کلمو یو داسې ترکیب دی چې یو بشپړ مفهوم څرګندوي. یا په بله وینا جمله د یوې ژبې هغه خپلواکه ګرامري برخه ده چې د جوړښت او معنا له مخې پوره او بشپړه وي.

د جملې بنسټیزې برخې: هره جمله دوه بنسټیزې برخې لري. مبتدا او خبر چې د جملې زړی یا هسته جوړوي. لکه په دې بېلګو کې: نجونې راغلې، ورځ تېره شوه، ټولنه وده کوي، په دغو جملو کې د مبتدا (مسند الیه) او خبر (مسند) برخې په خپلواکه توګه راغلي دي.

۱_ مبتدا (مسند الیه، فاعل= subject)

مبتدا د جملې یوه خپلواکه (مستقله) معنا لرونکې برخه ګڼل کېږي. په جمله کې ددغې برخې په اړه خبر ورکول کېږي. یا مبتدا (مسند الیه) هغه برخه ده چې د هغې په نسبت څه ویل کېږي. یعنې د یو حکم نسبت ورته کېږي.

په دې برخه کې د اشخاصو نومونه، د شیانو نومونه، ضمیرونه، صفتونه، عددونه، قیدونه له ټولو ساده او مرکبو بنو سره راځي. سربېره پر دې په اصلي حالت او اوښتي یا (مغیره) حالت کې هم راتلای شي. لکه: زده کوونکي د ازموینې په فکر کې دي. لمر راوخوت. خلکو خپل کار کاوه، تیل توی شول.

په پورته جملو کې (زده کوونکي، لمر، خلکو، تیل) د مبتدا (مسند الیه) او د جملو نورې برخې د خبر (مسند) په توګه راغلي دي.

۲_ خبر (مسند): خبر یا مسند د جملې هغه بنسټیزه برخه ده چې د مبتدا (مسند الیه) حال څرګندوي. خبر هم د مبتدا په شان د وینا او کلام له ټولو توکو څخه راتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر د جوړښت له مخې کېدای شي چې ساده او یا مرکب وي. خبر په دوو ډولونو وېشل کېږي. اسمي او فعلي.

هغه جملې چې د خبر په برخه کې یې پوره فعل یا فعلي ترکیب راغلی وي، د فعلي جملې په نامه یادېږي. هغه جملې چې مبتدا او خبر دواړه یې نومونه وي اسمي جملې ورته وایي، لکه: د کلي مشر خانمیر دی (اسمي جمله)، زه ښار ته ځم (فعلي جمله).

د جملې ډولونه: جمله د جوړښت له مخې په دوو لویو ډلو وېشل کېږي، یوه ستوې یا ساده جمله، غبرګه یا مرکبه جمله.

۱ـ یوه ستوې یا ساده جمله: یوه ستوې جمله هغه ده چې له یو فاعل او یو فعل څخه جوړه وي. یا په بله وینا له یو مبتدا او یو خبر څخه جوړه وي، یوه ستوې جمله په دوه ډوله ده:

الف: لنډه ساده یوه ستوې جمله: هغه جمله ده چې بنسټیزې برخې (مبتدا ـ خبر) یې له یوې خپلواکې کلمې او یا لنډ ترکیب څخه جوړ وي، لکه: احمد راغی، جمیله راغله، د لمر سترګه پرېوته، سپوږمۍ راوخته.

ب: اوږده یوه ستوې جمله: هغه جمله ده چې بنسټیزې برخې (مبتدا- خبر) د څو ساده لنډو یا اوږدو ترکیبونو څخه جوړ وي، لکه:

د احمد شاه بابا ښو ونځي زده کو ونکو په کلنۍ ازموینه کې ښې نمرې تر لاسه کړې.

د ملالۍ لېسې نجونو د والیبال په سیالۍ کې ښې نمرې ترلاسه کړې.

۲ـ مرکبه یا غبرګه جمله: هغه جمله ده چې له دوو یا زیاتو ساده (یوه ستو و) جملو څخه جوړه او یوه جمله له بلې سره لفظي او معنوي اړیکې ولري، خو هره جمله خپلې ځانګړنې ولري.

په پښتو ژبه کې غبرګه یا مرکبه جمله دا لاندې ډولونه لري:

۱ـ پیوستې یا خپلواکې غبرګې جملې: هغه دي چې له دوو یا زیاتو یوه ستو و جملو څخه جوړې شوي وي او دغه جملې په نحوي توګه یو له بل سره مساوي حیثیت ولري. په نسبي توګه خپلواکې ګڼل کېږي، په دوه ډلو وېشل کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: لنډه غبرګه پيوسته جمله: چې د دواړو جملو اساسي برخې يې له لنډو ساده اسمي او فعلي ترکيبونو څخه جوړې وي، لکه:

لمر راوخوت او شاوخوا رڼا شوه، سپوږمۍ پرېوته او شاوخوا تياره شوه

ب: اوږده پيوسته غبرګه جمله: هغه ده چې د جملې په مبتدا او خبر دواړو برخو کې د جملې اجزاوې له دوو نه زيات توکي ولري او په اجزاوو کې يې ډېرښت او پراخوالی راغلی وي، لکه:

ازمويښه راغله او زياتره زده‌کوونکي د ازموينې له سختوالي څخه په ډار او اندېښنه کې دي. دا غبرګې جملې هم په دوه ډوله دي.

لومړی: آزاده يا پرانيستې جمله: هغه جمله ده چې له دوو، درېو يا ډېرو جملو څخه جوړه وي چې شمېر يې نور هم پسې زياتېدای شي؛ خو دغه جملې په ازاد چوکاټ کې راځي، لکه:

کله به باران ورېده، کله به واوره ورېده، کله به شين شو، کله به وريځ شوه او د باران څاڅکي به شول.

يا: کله به ورو روان و، کله به تېز شو او په منډه به شو او چې سترې به شو نو دمه به يې وکړه.

۲ـ محدوده يا تړلې او ناخپلواکه غبرګه جمله:

دا جملې معمولاً په دوو جملو ختمېږي. کله‌کله درې جملې هم سره يوځای شوي وي، لکه: بايد تللی وای خو لاړ نه شو.

د معنا له مخې د جملې ډولونه: په پښتو ژبه کې جمله د معنا له مخې په دوو لويو ډلو وېشل کېږي: ۱ـ خبري، ۲ـ ناخبري.

لومړی: خبري يا بياني جملې: هغه جملې دي چې د يو څيز د حال او کيفيت بيان او څرګندونه‌کوي. يا يو فکر د خبر په توګه بيانوي. په ليکنه کې ددې جملې په پای کې ټکی (.) ايښودل کېږي، لکه:

احمد شاه بابا د افغانستان نومیالی واکمن تېر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاله د میوند یوه اتله مېرمن وه.

خبري جمله په درې ډوله ده:

الف: حقیقي مثبته خبري جمله: هغه جمله ده چې د یوې اصلي او حقیقي پېښې بیان کوي، لکه: زده کوونکو درس ولوست.

ب: حقیقي منفي خبري جمله: د هغه څه څرګندونه کوي چې په واقعیت کې یې شته والی ثابت نه وي، په دې جملو کې د نفي ادات دکومکي فعل نه مخکې راځي، لکه: زده کوونکي درس نه لولي.

ج: تاکیدي خبري مثبته جمله: هغه جمله ده چې د یو واقعیت د تائید، تصدیق او تاکید لپاره وي. د (خو) ادات ورسره یوځای راوړل کېږي، لکه:

وطن خو په هر چا ګران دی.

دویم: ناخبري یا انشایي جمله:

ناخبري یا انشایي جملې دا لاندې ډولونه لري:

۱ـ د پوښتنې جمله: هغه جمله ده چې ویونکی پوښتنه کوي. په دې جملو کې د یو شخص، ځای، موضوع او وخت په باره کې پوښتنه کېږي او د ځواب غوښتونکي وي.

په وینا کې ددې جملو ځانګړنه د غږ لوړوالی او فشار وي او په لیک کې یې د پوښتنې نښه (؟) په پای کې ایښودل کېږي، لکه: چېرته ځې؟ څه وخت راغلې؟

۲ـ امریه جمله: په دې جملو کې د ویناوال مطلب او موخه د یوه کار غوښتنه، امر، حکم، غوښتنې، هیلې، بلنې، مشورې او اخطار په بڼه وي. دا جملې هم د ویلو ځانګړی غږ لري، لکه: درس ولوله! راځه چې ځو! دلته راشه! بیا داسې ونه کړې! کتاب راکړه!

۳ـ تعجبي جمله: دا جمله د حیرانتیا په حالت کې ویل کېږي، یا د حیرانۍ څرګندونه کوي. دا هم د پوښتنې په حالت کې ویل کېږي خو د هغې سره یې توپیر دادی چې ځواب نه غواړي، لکه:

څومره ښه نجلۍ ده! څه کارونه دې وکړل!

۴ـ تمنایي جمله: په دې جملو کې د غوښتنې او هیلې مفهوم نغښتي وي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاشکې ورشم، ارمان چې تللی وای.

۵ـ شکي احتمالي جمله: چې مقصد او مطلب پکې ثابت نه وي او شخص په دو و کې حیران او دوه زړی وي، لکه: ښایي ورور یې هم ورسره راشي. ګوندې ښه کتاب وي.

۶ـ ټینګاري جمله: د تاکید او ټینګار په موخه او مقصد راځي، لکه: خامخا ورځم، حتمي راشه!

۷ـ قسمیه جمله: چې په یو کار باندې د خلکو د باور کولو لپاره په یو سپېڅلي، لوړ، محترم ذات باندې لوړه (قسم) کول څرګندوي، لکه: خدایږو درځم.

۸ـ دعائیه جمله: د خیر ښېګڼې د غوښتنو او څرګندولو لپاره ویل کېږي، لکه: ځه الله دې مرستندوی شه!

د متن لنډیز:

ژبپوهنه د یوې ژبې جوړښت او څرنګوالی تر څېړنې لاندې نیسي. درې برخې لري، غږ پوهنه (فونولوژي)، لغت پوهنه (مورفولوژي)، سنټیکس (جمله پوهنه). جمله عربي کلمه ده معنا یې مجموعه او ټولګه ده. په اصطلاح کې د کلمو داسې یو ترکیب دی چې یو بشپړ مفهوم څرګندکړي. جمله له دو و برخو څخه جوړه ده چې لومړی برخې ته مبتدا او دویمې برخې ته خبر وایي.

په مبتدا کې نومونه، صفتونه، قیدونه او نور راځي. خبر د مبتدا حال څرګندوي او په خبر کې فعلونه او نومونه راځي. د جوړښت له مخې جملې په یوه ستوې او مرکبې جملې وېشل کېږي چې هره ډله یې بېلابېل ډولونه لري.

جمله د معنا له مخې په خبري، ناخبري جملو وېشل کېږي چې بیا هره ډله بېلابېل ډولونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او بیا دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- ژبپوهنه کومې برخې لري؟
- جمله څه ته وایي؟
- جمله له کومو برخو څخه جوړه ده؟
- خبر په څو ډولونو وېشل کېږي هر ډول یې څرګند کړئ؟

۲ـ زده کوونکي دې پخپله خوښه څو جملې وليکي او په هغه کې دې مبتدا او خبر په نښه کړي.

۳ـ زده کوونکي دې په دوه ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې د یوه ستوې جملې مثالونه ووایي او بله ډله دې په وار سره د مرکبې جملې مثالونه ووایي، ښوونکی دې د زده کوونکو تېروتنې سمې کړي.

۴ـ زده کوونکي دې د معنا له مخې د جملو ډولونه پخپلو کتابچو کې له مثالونو سره وليکي او بیا دې یې په وار سره په ټولګي کې ولولي، لکه (مثبته خبري جمله، منفي خبري جمله، د پوښتنې جمله، امریه جمله، تعجبي جمله، تمنایي جمله، شکي جمله)

۵ـ زده کوونکي دې پخپله خوښه یوه یوه جمله ووایي او بیا دې څرګنده کړي چې څه ډول جمله ده؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې یو ځل بیا متن ولولي او د متن پر بنسټ دې پخپله خوښه څو ډوله جملې جوړې کړي. بله ورځ دې یې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي نظمونه

په پښتو ژبه کې دوه ډوله نظمونه دي چې یوه ډله یې ملي نظمونه او بله ډله د شرقي شاعرۍ په تقلید کلاسیک دیواني نظمونه دي. د ملي نظمونو برخې ته د ولسي ادبیاتو نومونه کارول شوي ده، ځکه چې دا زموږ د ولس خپل مال دی او د چا په تقلید نه دي ویل شوي. د پښتو ولسي ادبیات یوه بډایه ذخیره لري چې د مختلفو ډولونو په درلودلو سره یې سیال د سیمې په ژبو کې نشته. ولسي ادبیات دوه عمده برخې لري، د نثر برخه او د نظم برخه. د نظم یوه برخه یې هغه ده چې ویونکي یې معلوم نه دي او په ټول ولس پورې اړه لري چې دې ته عامې سندرې وایي. بله برخه یې هغه نظمونه دي چې ویونکي یې معلوم دي او دې برخې ته خاصې سندرې وایي.

د ولسي ادبیاتو ډېره برخه په ولس کې خوره ده او لږه برخه یې د څېړونکو له خوا راټوله شوې ده. په دې درس کې به تاسې د ملي نظمونو په اړه یو بحث ولولئ چې په ولسي شاعرۍ کې ترې زموږ ولسي شاعران ګټه اخلي.

- تاسې د ولسي شاعرۍ په اړه څه معلومات لرئ؟
- په ولسي شاعرۍ کې کوم ډولونه پېژنئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم په لغت کې د مرغلرو پېيلو ته وايي او په اصطلاح کې هغه کلام دی چې وزن او قافيه ولري. نظم بېلابېل ډولونه لري چې دغه ډولونه د لومړي ځل لپاره په عربي ژبه کې د عروضي سيستم پر بنسټ رامنځته شوي دي او هر ډول ته يې ځانګړی قالب ټاکل شوی دی. د نظم دغه ډولونه لکه غزل، قصيده، مثنوي، مخمس، مسدس او نور هر يو ځانته جلا ځانګړی قالب او مشخصات لري چې يو له بل نه پرې توپيرېږي.

د نظم دغه ډولونه د عربي ژبې څخه فارسي او بيا پښتو ته راوړل شوي دي چې په هماغه تقليد تراوسه ويل کېږي او رواج لري. پښتو ژبه له دغه ډول نظمونو سربېره خپل ملي نظمونه هم لري چې وزنونه يې هم خپل دي او د چا په تقليد نه دي ويل شوي.

په دې توګه ويلی شو چې په پښتو ژبه کې دوه ډوله نظمونه شته چې يو ډول يې ملي نظمونه او بل ډول يې عروضي نظمونه دي چې مشترک نظمونه هم ورته وايي او دا ځکه چې دغه نظمونه په عربي، فارسي او پښتو کې مشترک دي.

ملي نظمونه: ملي نظمونه د پښتون ولس خپل مال دی. له کومې بلې ژبې نه نه دي راغلي. پخپله ولسي شاعرانو جوړ کړي او ټاکلي وزنونه او قالبونه يې هم ورته پيدا کړي دي.

پښتو ملي نظمونه هم په دوه ډوله دي چې يو ډول ته يې عامې سندرې ويل کېږي. ويونکي يې معلوم نه وي او په ټول ولس پورې اړه لري لکه لنډۍ، سروکي، نارې، د ښادۍ بدلې او نور...

بل ډول يې خاصې سندرې دي چې د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا جوړېږي او شاعران يې معلوم کسان وي لکه چاربيتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، داستان، مقام او نور... دلته يې ځينې نمونې معرفي کوو:

۱ـ لنډۍ: د پښتو د شفاهي ادبياتو يو مشهور ډول دی چې ټول پښتانه يې پېژني. لنډۍ دوې مسرې لري چې لومړۍ يې لنډه نهه سيلابه او دويمه يې اوږده دياارلس سيلابه ده. لنډۍ ته د پښتنو په ځينو سيمو کې ټيکۍ، ټپه او مسرۍ هم وايي. د لنډيو ويونکي نه دي معلوم. د عام ولس مال دی. د نارينه وو او ښځو له خوا ويل کېږي. په لنډۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو بشپړ مفهوم بيانېږي. په لنډيو کې د پښتنو دکليوالي ژوند او کلتور د بېلابېلو اړخونو ځانګړتياوو انعکاس موندلی دی. د لنډيو موضوعات مختلف وي او د ژوندانه هره موضوع پکې ليدلای شو.

د لنډيو څو مثالونه:

تـــن مـــې د شـــنـــې نـــکـــريـــزې پـــانـــه
ظـاهـر تـــازه دنـــنـــه رنـــګ پـــه ويـــنـــو يمه

* * *

د ســتــرګــو تـــور لالـــی مـــې ورک دی
پـــه زرګـــر نـاســتـه يـــم څـــهـــره يـــې جـــوړومـــه

۲ـ نيمکی يا سروکی: سروکی يو ډول شعر دی چې له لنډيو سره ويل کېږي. د سندرې د سر حيثيت لري، مختلف شکلونه لري، ځينې سروکي يوه مسره وي، ځينې دوې مسرې، ځينې درې او کله تر پنځو هم رسېږي، کله کله دواړه مسرې يو شی او کله يوه لنډه او بله اوږده وي. په سروکو کې د عشق، مينې او رزم موضوعات راځي. ځينې عام سروکي دي او ځينو ته د اتڼ سروکي وايي.

پسې ورجګ کړه سره لاسونه
لنډ کړه د تيکی مزی دې
خال به دې وران شي

بله نمونه:

هلک نری چنار دی جلی دګلو ونه

يا:

لونګ کرمه که لو مې ګډ کړ ياره تا به راولمه

۳ـ ناړې يا غږونه: ناړې يا غږونه څو ډولونه لري لکه د اتڼ ناړې، تاريخي ناړې او د نکلونو ناړې. د اتڼ ناړې د اتڼ په ميدانونو کې ويل کېږي، تاريخي ناړې د بېلابېلو تاريخي وختونو په اوږدو کې د ځينو تاريخي پېښو په اړه ويل شوي دي. د نکلونو ناړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نکل چیانو له خوا د نکل په بېلابېلو برخو کې د نکل دکرکټرونو له خولې بیانوي. د اتڼ نارې دوه مسریزې، درې مسریزې او څلور مسریزې وي. د مسرو لنډوالی او اوږدوالی یې هم ډول ډول وي، د تاریخي نارو جوړښت دوه مسریز دی چې یوه یې لنډه او بله یې اوږده ده. د نکلونو نارې دوه مسریزې او درې مسریزې وي، کله هم قافیه وي او کله نه وي، لکه:

سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
یاغي سوي هندوستان رعیت ملکونه

* * *

کرمیه چې غم نه وي ته غم راوړې
کرمیه که زما په دعا کېږي
کرمیه په لم غوټه سپرو واوړې

چاربیته: د پښتو د ملي اشعارو یو مهم ډول دی چې کیسې، نکلونه، داستانونه او نور اوږده اوږده مضامین پکې ویل کېږي. ویونکی یې معلوم وي او د پښتو د خاصو سندرو یا نظمونو یو ډول دی. چاربیته یو سر لري چې هغه ته کسر یا پیرو وایي. کسر یا پیرو یو ځل د چاربیتې په سر کې ویل کېږي او وروسته بیا له هر بند نه تکرارېږي. چاربیتې د مسرو د شمېر د اوږدوالي او لنډوالي له مخې یو تر بله توپیر لري. د چاربیتو د بندونو د مسرو شمېر له څلورو څخه نیولی تر شلو مسرو پورې رسېږي. همدغه سبب دی چې د مثنوي او قصیدې په شان اوږده مضامین پکې راتلای شي.

په چاربیته کې د موضوع تسلسل او ارتباط یو مهم شرط دی او په یوه چاربیته کې ډېر موضوعات نه راوړل کېږي. دلته د خانمیر د یوې چاربیتې څو بیتونه د نمونې په ډول راوړو چې هر بند یې دولس مسرې لري:

په چپ کې ډال په ښي خنجر نیسه　　د غلیم مخه برابر نیسه
یا به له صدقه خپل وطن شې زما　　یا به په سرو وینو کفن شې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دروغـــو نـــه دي دغـــه لاپـــي زمـــا پـــه غـــوږو واوره واړه پـــاکـــي زما
که چېرې برید مې یو ځل راغـی په تا پـــوه شـــه اجـــل دی دا چې راغـــی پـــه تا
مـــاتـــه وصـــیـــت د مـــوره پـــلاره شوی یـــو ځلې نـــه پـــه څـــو، څـــو واره شوی
د ننګ پـــر ځـــای ورکـــوئ ســـر زامنو مـــخـــتـــورن مـــه شـــئ پـــه محشر زامنو
وصیت د پـــلار به ګاهې هېر نه کړمه څو ځـــان د هغه پـــلار په څېر نه کړمه

کله به هېر د پلار سخن شي زما
یا به په سرو وینو کفن شي زما

رباعي: د پښتنو عوام خلک هغه غزلې ته چې موضوع یې پند او نصیحت وي، رباعي وایي. کله چې سندر غاړې په ساز پیل کوي لومړی یوه رباعي وایي او بیا ورپسې چاربیته یا داستان او یا لوبه اوروي. ځینې خلک ورته مقام هم وایي.

د مجلس په پیل کې له دې کبله اورول کېږي چې د مجلس دګډونوالو پاملرنه ځانته راړوي. دلته به د رحمان بابا یو شعر چې د مقام او رباعي بڼه لري ولولو:

په ښـــه خـــوی د بـــد خواهانو بې پـــروا یم
پـــه نرمـــۍ لکـــه اوبـــه د اور ســـزا یـــم
و هـــر چاتـــه پـــه خپـــل شـــکل څرګندېږم
آینـــې غونـــدې بـــې رویـــه بـــې ریـــا یـــم
قناعـــت مې تـــر خرقې لانـــدې اطلس دی
پټ د درســـت جهان بادشـــاه ظاهـــر ګدا یم
د غونچـــې په څېر په ســـل ژبو خاموش یم
لکـــه بوی هســـې پـــه پتـــه خولـــه ګویا یم
کـــه چـــا لار د عاشـــقۍ وي ورکـــه کـــړې
زه رحمـــان د ګمراهانـــو رهنمـــا یـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بگتی: په پښتو اشعارو کې بگتی یوه غوره او خوږه برخه ده چې ځینې خلک یې لوبه هم بولي. بگتی د چاربیتو په څېر یو سر لري چې په عمومي ډول یو بیت وي او د دواړو مسرو قافیه یې سره برابره وي. د هر بند وروستنی مسره د بگتی له سر سره په قافیه کې برابره وي.

سر د هر بند په پای کې تکرارېږي. د سر لومړی مسره یې اوږده او دویمه یې لنډه وي. د بگتی هر بند معمولاً دري مسرې وي:

غمونه لرې که له ما عاجز غمگینه راتـاو شه لـونـگـینه
ودې ویشتم روغـــه دې نه کـړم نوره یاري درسره نه کړم
بل دې په سرو شنډو نتکی زانگي مینه
راتـــاو شـــه لـونگینه
د محمد نور فقیره بخته څنگه راپرېوتې لـه تخته
بخت مې کوټه شو اس مې لاړ سره له زینه
راتـــاو شـــه لـونگینه

د متن لنډیز:

په پښتو کې دوه ډوله نظمونه ویل کېږي چې یو ډول ته یې ملي نظمونه وایي او بل ډول ته مشترک کلاسیک دیواني نظمونه چې په عربي، فارسي او پښتو کې مشترک دي.

په دې لوست کې مو یوازې په ملي نظمونو بحث وکړ او د هغوی له ډلې مو یو څو نمونې دروپېژندلې. ملي نظمونه هم په لومړي سر کې په دوو ډلو وېشل کېږي چې یوې ډلې ته یې عامې سندرې وایي. عامې سندرې هغه دي چې ویونکی یې معلوم نه وي او د ټول ولس مال دی.

په دغو سندرو کې لنډی، کاکړی، نیمکی یا سروکي، ناري یا غږونه، کیسی، فالونه، د ښادی سندرې او د میندو سندرې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ډله يې خاصې سندرې دي. ددې سندرو شاعران په ولس کې معلوم دي او د ولسي شاعرانو په نومونو يادېږي. په دې ډله کې چاربيتې، بدلې، بګټی، لوبې، داستان، مقام (غزل) او نور...

د پښتو دغه ملي اشعار د پښتو ادبياتو يوه مهمه برخه ده چې د پښتنو د اجتماعي، ملي، سياسي او فرهنګي ژوند ټولو خواو پکې انعکاس موندلی دی. د پښتو دا ملي نظمونه د نورو ژبو په تقليد نه دي ويل شوي، بلکې پخپله د پښتنو ايجاد دی.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او بيا دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- په پښتو ژبه کې څو ډوله نظمونه پېژنئ؟
- نظم څه ته وايي؟
- په ملي نظمونو کې کوم ډولونه پېژنئ؟
- لنډی څه ته وايي؟

۲ـ زده کوونکي دې پخپله خوښه د يو ملي نظم په اړه څو کرښې له مثالونو سره وليکي او په ټولګي کې دې يې په وار سره واوروي.

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره په متن کې راغلي نظمونه په لوړ غږ ولولي او مفهوم دې پخپلو خبرو کې ټولګيوالو ته ووايي.

۴ـ زده کوونکي دې په وار سره د ملي نظمونو په موضوعاتو خبرې وکړي چې کوم موضوعات پکې راځي؟

۵ـ متن په غور ولولئ او په متن کې خاص نومونه په نښه او په ټولګي کې يې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاص نوم: هغه نوم دی چې د يو خاص شخص او خاص ځای ښکارندويي کوي، لکه: احمد شاه بابا، ملالی، ننګرهار، کابل او نور...

۶ـ زده کوونکي دې متن ولولي او د صفت کلمې دې پخپلو کتابچو کې وليکي او بيا دې په ټولګي کې ولولي.

صفت (ستاينوم): صفت هغه کلمه ده چې د نوم څرنګوالی څرګندوي، لکه: تور، سپين، ښه، بد، روغ، ناروغ، لوړ، ټيټ او نور...

۷ـ زده کوونکي دې په وار سره د رحمان بابا شعر ولولي او پر مفهوم باندې دې خبرې وکړي.

په ښه خوي له بدخواهانو بې پروا يم
په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا يم
و هر چاته په خپل شکل څرګندېږم
آيني غوندې بې رويه بې ريا يم
د غونچې په څېر په سل ژبو خاموشه
لکه بوی هسې په پته خوله ګويا يم
قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا يم

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلې سيمې د يو ولسي شاعر په اړه څو کرښې وليکي او د ضرورت په وخت کې دې د کورنۍ له غړو او يا کتاب څخه مرسته ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي کيسه

کيسې د انسان له ژوند سره پيل شوي دي او بيا خوله په خوله له يو نسل نه بل ته لېږدول شوي دي. کله چې انسانانو خط ايجاد کړ نو بيا ځنې کيسې وليکل شوې. خو د ولسي کيسو زياته برخه اوس هم د خلکو په ذهنونو کې ده او راتولې شوي نه دي. د ولسي کيسو ويونکي معلوم نه وي په يو شخص پورې اړه نه لري بلکې په ټولو پورې اړه لري.

هر ملت ځانته ولسي کيسې لري چې د هماغه ملت ځانګړتياوې، دود دستور او تاريخ ترېنه څرګندېږي. ځينې ولسي کيسې د ملتونو ترمنځ مشترکې وي او يوازې د اشخاصو او ځايونو نومونو پکې تغير موندلی وي. د ولسي کيسو زياته برخه خيالي بڼه لري. حوادث او پېښې پکې له عقل نه لرې او تخيلي بڼه لري. په ولسي کيسو کې يوه برخه داسې هم شته چې د ربښتيني ژوند له پېښو سره تړاو لري او خيالي بڼه نه لري. د نړۍ د ملتونو له ولسي کيسو نه ځينې کيسې دومره شهرت ته رسېدلي دي چې په نړيوالو ولسي کيسو کې شمېرل شوي دي او ددغه شهرت له کبله د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي.

په دې لوست کې مو د چک د ولس يوه ولسي کيسه غوره کړې چې ددې کيسې په لوستلو سره به تاسې د نړۍ د ولسي کيسو سره اشنا شئ.

- کومه ولسي کيسه مو په ياد ده؟
- د کوم بل هېواد ولسي کيسه مو اورېدلې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي کيسه د پښتو ژبې د شفاهي ادبياتو ډېره خوندوره برخه ده. داسې کيسې له پېړيو، پېړيو راهيسې د ولس په حافظه کې پاتې شوي دي او ځينې کيسې يې تر نن ورځې رارسېدلي دي. دا کيسې په کليو او باندو کې موجودې دي. که کومه کيسه په يو کلي کې رامنځته شوې ده نو هلته پاتې شوې نه ده او نورو کليو ته رسېدلې او عامه شوې ده. دغه کيسې چې له يو ځای نه بل ځای ته انتقال شوي ځينې محيطي اصطلاحات او جغرافيوي نومونه يې تغير شوي دي. په دې توګه د وخت په تېرېدو سره يې د بيان په ژبه کې هم تغير راغلی دی.

د پښتو په ولسي کيسو کې دوه ډوله کيسې دي چې يو ډول يې د پښتنو خپلې کيسې دي او بله ډله يې له نورو ژبو څخه راغلې دي. د پښتنو په خپلو ولسي کيسو کې قهرمانان، چاپېريال او ټول کړه وړه پښتني وي. په دې کيسو کې پېښې او کرکټرونه هم پښتني رنګ لري. دا کيسې ځينې ډېرې اوږدې او ځينې لنډې دي.

په دې کيسو کې بيا ځينې په نظم شوي او ځينې په نثر کې دي. دا کيسې مختلف موضوعات لري او د پند او عبرت ټکي هم پکې وي. په ځينو کې تخيلي ارخ ډېر غالب وي لکه د ديوانو او پيريانو کيسې او ځينې يې له رښتيني ژوند سره ارخ لګوي.

دا کيسې پخوا په ولسونو کې د ژمي په موسمونو کې د ساعت تېرولو لپاره ويل کېدلې خو د ساعت تېرې تر څنګه يې ځينې مثبتو خواو د ولس په کړو وړو کې مثبت اغېز هم درلود.

اوس ددې کيسو ويلو رواج يا خو بيخي پای ته رسېدلی او يا په ډېره لږه اندازه موجود دی، همدغه وجه ده چې زموږ يو شمېر ناظمانو زموږ ولسي کيسې په نظم کړي لکه آدم خان او درخانۍ، دلي او شهۍ، مؤمن خان او شيرينو، طالب جان او ګل بشره، موسی خان او ګل مکۍ، فتح خان او رابيا او نورې...

ځينو ليکوالو په نثر کې هم ولسي کيسې او واړه واړه حکايتونه راټول او په کتابي شکل خپاره کړي دي. ددې کيسو راټولول او خپرول زموږ د ژبې او ادبياتو په بډاينه کې ستره اغېزه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوروا

(د چک ولس کیسه)

یوه شپه له سیلۍ سره باران هم ورېده، سخت توپان و او خلک په خپلو کورونو کې وو. یوه سپین سرې ښځه ځانته یوازې اوسېده. د هغې د کور دروازه وډېده. هغې فکر وکړ چې سیلۍ دروازه ټیل وهله. خو لږه شېبه نه وه تېره چې ور په زوره، زوره وډېده.

سپین سرې ژر دروازه خلاصه کړه. ویې لیدل چې یو ځوان سړی په لمدو خیشتو جامو کې ولاړ او له یخنۍ نه رېږدي. سپین سرې ښځې ته یې وویل:

ـ زه مسافر یم، که نن شپه دې راته په خپل کور کې ځای راکړ نو زه به دې دا احسان ټول عمر نه هېروم.

سپین سرې ښځې وویل:

ـ ښه ده، دننه راشه په نغرې کې اور بل دی. خپلې لمدې جامې وچې کړه خو زه ډوډۍ هم نه لرم او ستا لپاره کټ هم نشته. ته مجبوره یې چې له نغرې سره نژدې پر دې کمپله شپه تېره کړې.

سړي ورته وویل:

ـ بس چې سرپناه وي، نور مې هېڅ نه دي په کار.

ښځې په نغرې کې نورې وچې درې کېښودې. اور تازه شو. سړی چې تود شو او جامې یې هم وچې شوې نو د خپل کمیس له جیبه یې د اوسپنې یو میخ راویست. دا به یې په خپلو لاسونو کې اړاوه را اړاوه.

ښځې ورته کتل خو غږ یې نه کاوه. سړي ښه شېبه له دې میخ سره لوبې وکړې. بیا یې له ښځې پوښتنه وکړه:

ـ ته خبره یې چې دا میخ څومره دکار دی؟

ښځې له وړې نه تار جوړاوه. په ډېره وچه لهجه یې ورته وویل:

ـ هو خبره یمه، میخ په لرګي کې ټکوهل کېږي.

سړي وخندل او وې ویل:

ـ ته نه یې خبره، زه له دې میخ نه ښوروا جوړولای شم.

ښځې لږ په قهر وویل:

ـ هسې اوتې بوتې مه وایه، دا ناشونې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي و ويل: که ما درته ثابته کړه نو منې به يې.

ښځې و ويل: ښه ده ثابته يې کړه.

بيا يې د ښوروا پخولو ديګ ورته راوړ. سړي مېخ د ديګ په تل کې کېښود، او اوبه يې پکې واچولې. بيا يې دېګ په اور کېښود. لږه شېبه چې تېره شوه نو سړي د ديګ سر لرې کړ او ښځې ته يې و ويل:

ـ که لږه مالګه او تور مرچ راکړې نو ښوروا به تياره شي.

ښځه پاڅېده ديوې الماري دروازه يې پرانيستله او وې ويل:

ـ هو مالګه او مرچ خو په هرکور کې وي.

سړي ته يې د مالګې او تورو مرچو پوړۍ ورکړې. ده مالګه او تور مرچ په دېګ کې واچول.

يو څو شېبې نورې هم تېرې شوې. سړي بيا د ديګ سر ايسته کړ او ويې ويل:

ـ د پيازو يوه غوټه که واى نو د ښوروا خوند به نور هم زيات شواى واى.

ښځې ورته بد، بد وکتل خو بيا له ځايه راپاڅېده او وې ويل:

ـ ګورمه که چېرې پياز وي!

يوې بلې الماري ته لاړه او د هغې دروازه يې پرانيستله. سړي سر اوچت کړ او په الماري کې يې د خوړو توکي وليدل.

ښځې د پيازو يوه غوټه راواخيسته او سړي ته يې و ويل: اوس به نو ته چاقو هم غواړې.

سړي وخندل او د ښځې نه يې پياز او چاقو واخيستل. پياز يې توتې، توتې کړ او ديګ ته يې ور واچاوه. بيا يې اور تازه کړ، څو نورې دړې يې ورپسې کړې او وې ويل: ښوروا هم هر ډول وي. د مېخ ښوروا ساده وي. خو که په دې کې ګازرې او الوګان ورګډ شي نو خوند به يې لا زيات شي خو خير پروا نه کوي.

اوس له دېګ نه د پيازو د پخېدو خوشبويي پورته شوې وه او ښځې نابېره د لوږې احساس وکړ، د سړي خبرو ته يې پام و. بې له دې چې هغه ته يې څه ويلي وي. الماري ته لاړه او يو څو ګازرې او دوه الوګان يې ترې راواخيستل او سړي ته يې ورکړل. سړي ګازرې او الوګان سپين، توتې توتې او بيا يې په دېګ کې واچول.

لږه شېبه وروسته يې چې د دېګ سر لرې کړ او د ښوروا خوشبويي د ښځې سپږمې وتخنولې له سړي يې وپوښتل: په څومره وخت کې به دا ښوروا پخېږي؟

سړي په څمڅې د دېګ له تل نه مېخ راوچت کړ او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د دې مېخ ښوروا ډېرو کمو خلکو خوړلې ده خو که په دې کې د غوښې وړې، وړې توتې ورګډې شي نو بيا د پاچاهانو خواړه دي.

خو زما او ستا په شان خلک دومره طالع نه لري چې په دې ښوروا کې غوښه ولري.

ښځې ناڅاپه وويل: ولې يې نشو خوړلای. پاچاهان خو هم زمونږ په شان انسانان دي.

بيا لاړه او له الماری نه يې د غوښې يوه ټوټه راواخيسته. وړه، وړه يې کړه او سړي ته يې ورکړه. سړي د غوښې ټوټې په دېګ کې واچولې. اور يې ورپسې تازه کړ او ويې ويل:

ـ اوس چې موږ داسې ښه د پاچاهانو خواړه لرو نو بايد د پاچاهانو په شان يې وخورو.

ښځې وويل: بېشکه ولې نه.

دکوټې بل سر ته لاړه. هلته يې يو مېز او دوه څوکۍ ايښې وې. له الماری نه يې يو ښه ښکلی د مېز پوښ راواخيست او پرمېز يې اوارکړ.

بيا يې چيني لوښي راويستل او پر مېز يې کېښودل. کاشوغې يې هم راويستلې. سړي دا هر څه ته کتل او بيا يې وويل: ښوروا په څه شي کې راوباسم؟

ښځې ورته يوه غټه کاسه د ښوروا لپاره او يوه رکيبۍ د غوښې او ترکاري لپاره ورکړه. بيا يې يوه غټه ډوډۍ هم راويستله. ټوټې ټوټې يې کړه او پرمېز يې کېښوده. سړي وويل:

ـ که ډوډۍ دې را ايستله نو بايد چې پنير هم ورسره وي ځکه چې د مېخ د ښوروا له خوړلو نه وروسته د هضم لپاره پنير ضروري دی.

ښځې پنير هم راواخيست. دواړو ښوروا، ډوډۍ او پنير وخوړل. سړي ښه ځان مور کړ.

ښځې ته يې وويل: ستا ډېره مننه!

ښځې ورته وويل: مننه خو ستا په کار ده چې دومره ښه ښوروا دې راته پخه کړه.

سړي د ښوروا دکاسې په تل کې پروت مېخ راويست او وې ويل:

ـ په دې کې زما هېڅ کمال نشته، دا هر څه ددې مېخ له برکته دي.

ښځې وويل: اوس چې تا دومره ښه خواړه راته برابر کړل نو حق لري چې په کټ ويده شې. زما هسې هم ډېر سارې کېږي. زه به د نغري سره په کمپله پرېوځم.

سړي شپه ارام خوب وکړ. سهار ښځې ورته چای او ډوډۍ ورکړل او بيا يې ورته وويل: ستا مېخ رښتيا چې عادي مېخ نه دی. سمبال يې وساته چې څوک يې پټ نه کړي.

سړي ترينه رخصت واخيست او پرخپله لار روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ زده کوونکي دې کیسه په چوپه خوله ولولي او لاندې پوښتنې دې ځواب کړي:

- دا کیسه په کوم ولس پورې اړه لري؟
- په کیسه کې کوم کرکټرونه راغلي دي؟
- د کیسې موضوع څه ده؟
- د کیسې پایله څه ده؟

۲ـ څو زده کوونکي دې کیسه په وار سره ولولي او بیا دې څو زده کوونکي د کیسې مفهوم په خپلو خبرو کې ووایي او نور زده کوونکي دې په وار سره د کیسې په اړه پوښتنې وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د کیسې ددې دوه کرښو په اړه خپل نظر ولیکي او بیا دې یې په وار سره په ټولګي کې واوروي:

((سړي د ښوروا دکاسې په تل کې پروت مېخ راویست او وې ویل: په دې کې زما هېڅ کمال نشته، دا هر څه ددې مېخ له برکته دي)).

۴ـ هغه زده کوونکي چې دې کیسې ته ورته کومه ولسي کیسه یې اورېدلې وي په لنډو خبرو کې دې یې خپلو ټولګیوالو ته ووایي.

۵ـ له کیسې نه تاسې څه نتیجه واخیستله؟ په وار سره خپل نظر څرګند کړئ.

زده کوونکي دې پخپلو کورونو کې د کورنۍ د غړو په مرسته یوه، یوه ولسي کیسه ولیکي او د کیسې مقصد دې هم پخپله لیکنه کې څرګند کړي. بله ورځ دې یې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید بهاو الدین مجروح

د پښتو ادب په معاصره دوره کې په سلګونو لیکوال او شاعران شته چې د ادب په بېلابېلو څانګو کې يې د پاملرنې وړ اثار پنځولي دي. لکه شعر، داستان، ناول، ډرامه، سفرنامه او نور... یو له دغو نومیالیو څخه پوهاند سید بهاو الدین مجروح دی چې له علمي فلسفي اثارو سربېره يې شعرونه هم ویلي او فلسفي، رواني، داستاني اثار هم لري. په داستاني اثارو کې يې ځانګاني ښامار او په شعرونو کې يې نا اشنا سندرې، د وطن مور پیغام او د کونړ سیند زیات شهرت لري. په دې درس کې به تاسې ددغه نومیالي له ژوند او اثارو سره اشنا شئ.

_ تاسې د پښتو ادب په معاصره دوره کې د کومو لیکوالو او شاعرانو له نومونو سره اشنا یاست؟

_ د پوهاند سید بهاو الدین مجروح د ژوند په اړه څه معلومات لرئ؟

_ تاسې د مجروح کوم اثار او کتابونه پېژنئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید بهاوالدین مجروح د افغانستان نومیالی شاعر، ادیب او لیکوال و. پلار یې سید شمس الدین مجروح هم له نومیالیو شاعرانو څخه و. سید بهاو الدین مجروح د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ د شینکوړک په کلي کې په یوه روحاني کورنۍ کې په ۱۳۰۶هـ. ش. کال کې پیدا شو.

لومړنۍ زده کړې یې دکلي په جومات کې سرته ورسولې او د فارسي مشهور کتابونه لکه گلستان، بوستان او سکندر نامه یې ولوستل.

بیا له خپل پلار سره کابل ته راغی او د استقلال په ښو ونځي کې یې خپلې زده کړې پیل کړې. له ښو ونځي څخه وروسته د لوړو زده کړو لپاره فرانسې ته ولېږل شو. هلته یې د روحیاتو او فلسفې په څانگه کې زده کړې وکړې او هم یې د المانې او انگرېزي ژبو ادبیات په المان او انگلستان کې ولوستل. هېواد ته له راستنېدو سره سم د ادبیاتو په پوهنځي کې د استاد په توگه مقرر شو چې بیا وروسته ددغه پوهنځي انتخابي رئیس وټاکل شو.

سید بهاو الدین مجروح د رسمي کارونو په لړکې دکاپیسا د والي، په غربي المان کې د افغانستان دکلتوري رئیس او د ادبیاتو پوهنځي د استاد او انتخابي رئیس په توگه دندې سرته رسولې دي.

په المان کې یې د رسمي کار تر څنگه د فرانسې له (مونت پلیه پوهنتون) څخه د ادبیاتو او فلسفې په څانگه کې دوکتورا واخیسته.

یو وخت د افغانستان د تاریخ ټولنې رئیس هم و او د ادبیاتو په پوهنځي کې یې د فلسفې تدریس کاوه. په ۱۳۵۸هـ. ش. کال، کله چې روسانو پر هېواد یرغل وکړ نو مجروح د هجرت لاره ونیوله او په پېښور کې یې (افغان اطلاعاتي) مرکز جوړ کړ، ددغه مرکز دنده دا وه چې د افغانستان له حالاتو څخه نړیوال خبر کړي او هم به یې د افغانستان په حالاتو تبصرې او تحلیلونه کول.

مجروح په (۱۳۶۷هـ. ش.) کال د پېښور په ښار کې د نامعلومو کسانو له خوا شهید شو. په پېښور کې خاورو ته وسپارل شو او بیا په ۱۳۸۱هـ. ش. کال کې دده تابوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان ته راوړل شو او پخپله پلرنۍ هديره کې ښخ شو.

سيد بهاو الدين مجروح خپل ټول ژوند د علم او پوهې په خدمت کې تېر کړ. د هېواد ځلميان يې وروزل او علمي او سياسي ليکنې يې وکړې چې په دې لړکې يې خپاره شوي کتابونه په لاندې ډول دي:

۱ـ اژدهای خودي (په پنځه ټوکو کې).

۲ـ ځانځاني ښامار (د اژدهای خودي پښتو ژباړه د آزاد شعر په قالب کې)

۳ـ د جبر او اختيار ديالکتيک (يو فلسفي اثر)

۴ـ دښمن وپېژنئ

۵ـ نا اشنا سندري (د شعرونو ټولگه)

مجروح لکه د نورو فيلسوفانو په څېر د انساني ژوند او ازادۍ د معنا د لټون لپاره د حقيقت د لارې لاروی و. دده په ټولو اثارو کې دغه اصل څرگند دی. په شعرونو کې يې وطني رنگ ډېر پياوړی دی او د هغه وخت ټولې پېښې يې په خپلو شعرونو کې رانغښتي دي.

دده ټول شعرونه ښکلي او په زړه پورې دي، خو د وطن مور، دکونړ سيند او پيغام يې چې اوږدې منظومې دي، ډېر مشهور دي.

د ځانځانۍ ښامار يې د ازاد شعر په قالب کې د اروا پوهنې (روحياتو) او فلسفې يو گډ اثر دی چې داستاني بڼه لري او د انسان د شعور او لا شعور څخه بحث کوي.

د پښتو ژبې نامتو ادیب عبدالروف بېنوا ددې اثر په هکله ويلي وو: (دا يو لومړنی عالي فلسفي اثر دی چې په نوي خوندور اسلوب ليکل شوی دی او تراوسه يې ما په پښتو کې ساری نه دی ليدلی. دا يو مقدس بغاوت دی چې مجروح د ځانځانۍ د هغه فاسد، غلط او په عين حال کې د غضبناک، ډاروونکي او پر ځان مين اقتدار پر ضد بغاوت کړی دی.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځانځانې د ښامار له کتاب څخه یوه وړه ټوټه د نمونې په توګه را اخلو:

یو دفتر د زمانې په ختمېدو و
یوه ورځ د ورځو راغله
ډېر بې شماره ښاریان غونډ وو د ښار منځ کې
لاروی د نیمو شپو پاڅېد ولاړ شو
اخر دا نا آشنا بیان یې ښار ته وکړو:
اې ښاریانو ښه خبر شئ!
ستاسو ستر واکدار بادار خو،
تور ښامار دی
تاسو واړه بنده ګان یاست غلامان یاست،
هسې تږي،
لکه وینو ته چې تږي وي د غرو رغو لیوان ټول
زړه یې کلک لکه تور کانې د بیابان،
لکه سندان دی
که هم وځښي سمندر سمندر وینې
تنده یې لا پسې لمبه د اور لمبه شي
که هم وخوري غرونه غرونه ژوندي سري
لوږه یې لا پسې زیادت کا لا شدت کا
په لېوانو کې لېوه له وږو وږی
په دریاب کې پروت نهنګ له تږو تږی
اې ښاریانو!
ورشئ ورشئ!
خپل بادار ته له نژدې نه لږ څه ځیر شئ!
هغه سترګې چې دده دي دوه د وینو کټوري دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه سترګې د ښامار دي
هغه سرې لمبې د قهر او د غضب چې،
د واکدار د مخ څېرې نه پورته کېږي،
هغه اور دی چې راوځي د ښامار پوزې سپږمو نه
د بادار هغه منګولې چې قوي دي پولادینې
ستاسو زړونو کې ټومبلې کلکې خښتې،
دا منګولې د بلا دي، د ښامار تورې بلا دي
اې ښارېانو!
ښه خبر شئ
دا بلا توره بلا چې دلته ناسته په دې ښار ده
له کوم بل پردي هېواده خو راغلې دلته نه ده
دا بلا ده په دې کور کې روزل شوې
له دې سیمې پاڅېدلې
پخپل لاس مو له خپل ځانه راویستلې
په خپل ځان مو مسلط کړې
دا بلا ستاسو بلا خپله بلا ده
ځکه ځکه تاسو هر یو
ښامارانِ ساتئ روزئ پټ
په سینو په خپلو زړو کې
چې د لوی ښامار خوراک شي
چې ښامار لوی نور هم لوی شي زورور شي
خلاصېدای له دې ښاماره تاسو نشئ
دا ښامار وژلی نشئ
تر څو تاسو راپا نه څئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښامار په خپلو زړونو کې مړ نه کړئ، نابود نه کړئ
که د نفس بده بلا کړي څوک نابوده
نو به هله د بلا تورې بلا څوک خوراک نه شي
که د خپل زړګي ښامار مو قرباني کړو
نو به هله تاسو نه شئ قرباني د لوی ښامار مار
پوهاند مجروح پخپله د ځانځاني ښامار په اړه ليکي:
((د ځانځانی ښامار ژبه نه نثر دی ځکه چې وزن لري او نه نظم دی ځکه چې د قافيو او ردیفونو مراعات پکې نه دی شوی او نوی شعر ورته ویلای شو. مګر دا چوکاټ د اوسنيو نويو شعرونو تقليد نه دی، بلکې ددې چوکاټ په جوړښت کې د پښتو د شفاهي ادب د ځينې اشکالو څخه او د پښتو د ليکلي ادب د ځينو زړو نثرونو څخه الهام اخيستل شوی دی. په دې شان د ښامار سبک داسې يو سبک دی چې هم د اوسنی نړۍ د نوي شعر بڼه لري او هم د پښتو ژبې په شفاهي او ليکلي ادب کې پخې ريښې لري)).

پوهاند مجروح د ځانځانی د ښامار لپاره يو ځانګړی وزن ايجاد کړی چې هره جمله په (۴) يا په (۸) يا په (۱۲) او يا په (۱۶) سيلابونو درېږي؛ خو اصلي او بنسټيز وزن پکې څلور سيلابه جمله ده.

دا سبک پوهاند سيد بهاو الدين مجروح د پښتو د شفاهي ادبياتو او د پښتو ادبياتو د کلاسيکو نثرونو څخه په الهام اخيستی دی.

د ځانځاني ښامار د مطالبو په هکله پخپله مجروح وايي: ((ځانځاني ښامار د انساني ژور طبيعت د تمرد او عصيان بيان دی او دا واقعيت دري جلا اړخونه لري، يو يې نفسي انفرادي اړخ دی، بل يې اجتماعي او سياسي اړخ دی او درېيم ددې دواړو اړخونو ترکيب دی او هغه د انساني موجوديت فلسفي معنا ده.

دا هم د مجروح د کلام يوه نمونه چې د هغه د (نا اشنا سندرې) له کتاب څخه تاسو ته انتخاب شوې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور غږ

ته سپارلی ما په خدای یې مور دې ځار شه
مال د خدای یې هم هغه دې مددګار شه
ستا نه ځار شم شهادت که نصیب ستا وي
په دې کار کې به د رب خپله رضا وي
که له ملک نه دې بهر کفر الحاد کړو
که غازي شولې وطن دې خپل ازاد کړو
نو یوه ورځ به د غازیانو لښکر راشي
ته به راشې بیا به نوی اختر راشي
دواړه لاس به په نکریزو بیا رنګین کړم
شینکی خال به بیا تازه پاس په جبین کړم
بیا به زه یمه سر لوړې په خپل کور کې
هم خوشحاله څو ژوندی یم هم په ګور کې
په ګاونډ چم په ګودر کې به خندا نه
مسته ګرځمه په زړه همېشه ځوانه
بیا به ګرځم په دې دښت په دې دمن کې
هسکه غاړه په ازاد آباد وطن کې

د متن لنډیز:

پوهاند ډاکټر سید بهاو الدین مجروح د هېواد له نومیالیو عالمانو، لیکوالو او شاعرانو څخه دی. لوړې زده کړې یې په فرانسه او المان کې د دوکتورا تر درجې پورې سرته رسولې وې. د ادبیاتو په پوهنځي کې یې د فلسفې تدریس کاوه او په دولتي کارونو کې یې د رئیس او والي په توګه هم دندې سرته رسولي دي. مجروح زیات شمېر علمي لیکنې او څو کتابونه هم لري چې خپاره شوي دي. په پښتو ژبه کې یې د ځانځانی ښامار او نا اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندري د يادولو وړ اثار دي چې زيات مينه وال لري.

مجروح د ځانځانې ښامار په ليکلو سره په پښتو ادب کې يو نوی سبک رامنځته کړ چې پخوا تر ده نه و.

مجروح ددغه کتابونو تر څنګه په فرانسوي ژبه د پښتو ادب او په تېره بيا د لنډيو په پېژندنه کې هم ډېرې ليکنې کړې دي. د جبر و اختيار ديالکتيک يې يو فلسفي اثر دی.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- سيد بهاو الدين مجروح کوم کتابونه ليکلي دي؟
- مجروح په کومه څانګه کې زده کړې کړې وې؟
- د سيد بهاو الدين مجروح کومې منظومې پېژنئ؟
- مجروح د مهاجرت په وخت کې کومه اداره جوړه کړې وه؟

۲ـ زده کوونکي دې په وار سره د ځانځانې ښامار نمونه ولولي او هم په وار سره دې پرې خبرې وکړي.

۳ـ څو زده کوونکي دې د مجروح د ژوند په اړه خبرې وکړي. څو تنه نور زده کوونکي دې تر ې پوښتنې وکړي.

۴ـ يو شمېر زده کوونکي دې د مجروح د همعصره ليکوالو نومونه واخلي او د هغو دکارونو په اړه دې خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پخپله خوښه له دغو موضوعګانو څخه يوه غوره او څو کرښې مقاله دې وليکي، (د مجروح ژوند، د مجروح شاعري، ځانځاني ښامار، پيغام، د وطن مور).

(c) ketabton.com: The Digital Library

عروضي نظمونه

کله چې د پښتو شعر تاریخ مطالعه کوو نو په دغو شعرونو کې دوه شعري عنعنې ګورو. یوه د پښتو د خپلو ملي شعرونو او اوزانو عنعنه ده او بله هم د شرقي شاعرۍ عنعنه. د شرقي شاعرۍ د عنعنې په تعقیب چې پښتنو شاعرانو کوم شعري ډولونه خپل کړي دي، په هغو کې قصیده، غزل، قطعه، رباعي، مثنوي، مخمس، مسدس، مسبع، مثمن، معشر، ترکیب بند، ترجیع بند او نور دي.

په تېر لوست کې مو د ملي اوزانو یا ملي نظمونو په اړه یو لوست ولوست. دادی په دې لوست کې تاسې ته د شرقي شاعرۍ د عنعنې ځینې ډولونه درپېژنو چې په پښتو شاعرۍ کې دود دي. دغو شعرونو ته مشترک نظمونه هم وایي، ځکه چې په عربي، فارسي او پښتو کې مشترک ویل شوي او ویل کېږي.

ـ تاسې د دیواني نظمونو په اړه څه معلومات لرئ؟

ـ د دیواني نظمونو کوم ډولونه پېژنئ؟ په اړه یې خبرې وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ غزل: عربي لفظ دی او معنا يې له ښځو سره خبرې کول دي. د نظم له هغو ډولونو څخه دی چې په ټولو ديوانونو کې زياته برخه لري. د غزل لومړي بيت ته مطلع وايي. د مطلع دواړه مسری او د نورو بيتونو دوهمې مسری يو له بله سره په قافيه کې يو شی دي او په وزن کې د غزل ټولې مسری سره برابرې وي. د بيتونو شمېر يې له پنځو څخه نيولی بيا تر پنځلسو پورې رسېږي. غزل که څه هم په ډېرو موضوعاتو کې ويل کېږي خو اکثره عشقي وي. په اوسني غزل کې د ژوندانه نور مسايل هم بيانېږي او له پخوا نه يې توپير موندلی دی.

چې دې وګوري ومخ ته وطن پرېږدي
وطن څه دی چې روح والوزي تن پرېږدي
که څښتن وي د تومنو ستا په مينه
درويزه کاندې اختياره تومن پرېږدي
بلبلان که دې له حسنه خبردار شي
ستا د مخ په نندارە به چمن پرېږدي
څه خو مخ و بتخانې و ته جار باسه
چې د بتو پرستش برهمن پرېږدي
ښه چې زړه مې مسافر شو ستا په لوړې
عقيق لاشي قيمتي چې وطن پرېږدي
د جفا د مړو ژوند څه وي حسينه
که د جور خوی زما ګلبدن پرېږدي

۲ـ بوللە (قصيده): يو ډول شعر دی چې په عربي کې ورته قصيده وايي. په قصيده کې ډول، ډول اوږده مضامين ويل کېږي. د بيتونو شمېر يې له شپاړسو څخه نيولی بيا تر دوو سوو پورې رسېږي. قصيده هم د غزلې په څېر يوه مطلع او يوه مقطع لري. د غزلې په شان د لومړي بيت دواړه مسرې او د نورو بيتونو د دوهمې مسرې قافيه يو له بله سره يو شی وي. په وزن کې ټولې مسرې سره برابرې وي. ځينې قصيدې درې برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، لکه: تشبيب يا تغزل، گريز يا مخلص، دعائيه يا حسن طلب.

تشبيب يا تغزل د اصلي موضوع نه د مخه يوه مقدمه ده چې د بهار او يا مناظرو ستاينه ده.

گريز د قصيدې دويمه برخه ده چې شاعر ستاينه پرېږدي او اصلي موضوع ته راځي.

دعائيه د قصيدې دريمه برخه ده. شاعر په دې برخه کې دعا کوي. د قصيدې موضوعات، ستاينه، موعظه، گيله، غندنه او اخلاق وي. د قصيدې دعائيه برخه په اصلي موضوع پورې اړه لري او د موضوع اړوند دعا کېږي.

دلته به د نمونې په توگه د خوشحال خان خټک د يوې قصيدې څو بيتونه ولولئ:

درتـــه وښـــيم کـيـمـيـا د ســعــادت
لـــه بـــدانـــو ســـره مـــه کـــوه صـحـبـت
مه بد گوی، مه بد آموز، مه بد اندېش شه
کـه دې زړه وي چـې درنـــه رســي آفت
کـه لـويـي غـــوارې ځـان کـم گـنـه تـر بله
بـــل تـــر دا د پـاســـه نـشـتـه نصيحت
پـه دوسـتـانـو تـلـطـف کـړه څـو پـه تـا شي
لـــه دښـمـــن ســـره هـــم ښـــه کـــوه خلقت
د نـيـکـخـوا خـبـره نـغـوړه پـرې عـمـل کړه
نـانـغـتـانـو تـــه تـيـــار دی نـدامـت
د لـمـانـځـه تـر قـضـا گـرانـه دا قـضـا ده
چـې قـضـا شـي د ځـلـورو مصلحت
نـورانـي کـا هـغـه ځـای چـې سـره کښېنې
ديـريـنـه ځـلـور هـوښـيـار پـه مـشـورت
پـه اخـلاص چې پـه دعـا لاسـونـه هسک کا
ور بـه پـرانـيـت شـي د فـتـحې د نصرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کالي يې پاتې نشي مرده شوی ته
خدايه ورکړې و خوشحال هسې رحلت

۳ـ رباعي: رباعي هغه دوه بيتونه دي چې د لومړي بيت دوې مسرې د دويم بيت له دويمې مسرې سره په قافيه کې يو شی وي. د رباعي معنا څلوريزه ده. دا رباعي د پښتو له رباعي سره چې ځانګړی وزن لري، توپير لري.

طامع همېش وي په انتظار کې
آب يې د مخ ځي په هر دربار کې
ګنج چې د صبر پير محمد بيا موند
توانګر باله شي په دا ديار کې

۴ـ قطعه: دوه يا تر دوو زيات بيتونه دي چې د لومړي بيت د دوو مسرو قافيه سره يو شی نه وي خو د بيتونو دويمې مسرې يو ډول قافيه لري، لکه:

اندېښنه که په غره کېږدې
غر به هم لکه وېښته کا
خوار سړی ملامت نه دی
که په غم کې ځان اوبه کا

۵ـ مثنوي: په مثنوي کې ټول بيتونه يو ډول قافيه نه لري، خو د هر بيت د دواړو مسرو قافيه يې يو شی وي. د بيتونو شمېر يې ټاکلې اندازه نه لري، بلکې د موضوع په اوږدوالي او لنډوالي پورې اړه لري. په مثنوي کې د رزم، بزم داستانونه او تصوفي موضوعات بيانېږي.

دلته د نمونې په ډول د قيام الدين خادم څو بيتونه راوړو:

اې د پاک وطن فرزنده
اې د قام خوږه دلبنده
اې د نوي ژوند پيغامه
اې ارزو د وطن قامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا ته مسوول د کار يې
که ته مور او که ته پلار يې
علم هر چا له په کار دی
نه چې تش د نرو کار دی
ښځه نر دواړه مسوول دي
خو په ښه عمل مقبول دي
د حيات په هنګامه کې
د ژوندون په افسانه کې
دواړه يو بل ته محتاج دي
يو و بل ته د سر تاج دي
يو چې بل ورنه جدا شي
لکه مات چې لاس د چا شي
زمور خويندو شئ بيدارې
له خپل ځانه خبردارې
قام زبون دی وطن خوار دی
دا زمور لپاره عار دی
لرې، لرې دا ظلمت کړئ
له وطنه جهالت کړئ
جهان واړه په مور خاندي
مسخرې راپورې کاندي
نه خبر موږه له ځان يو
نه له حاله د جهان يو

۷ـ مربع: يو ډول شعر دی چې بند يې دوه، دوه بيته وي. د سر په دوو بيتونو کې خلور مسرې يو ډول قافيه لري. وروسته په هرو دوو بيتونو کې لومړی دوې مسرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قافيه کې يو ډول او څلورمه مسره يې د سر د بيتونو سره يو ډول قافيه لري. د شعر تر پايه پکې دا جوړښت په نظر کې نيول کېږي. د پير محمد کاکړ د مربع څو بيتونه د نمونې په ډول دلته راوړو:

زړه مې نادان و د مينې غل شو
فراق يې اور و رابانديې بل شو
راحت مې واړه په غم بدل شو
اوښې سيلاب دي صورت مې شل شو

**

زيبا نگار چې زه راپه ياد کړم
له درده و غمه آه و فرياد کړم
قبول حيران يم د چا ارشاد کړم
بېل له ما خواره د لارې مل شو

**

عمر مې صرف شو په معصيت کې
شاکر يې نشو په هېڅ نعمت کې
اوس صبح و شام يو په دا حيرت کې
مقبول به خدای ته په کوم عمل شو

۸ـ مستزاد: هغه شعر دی چې يوه مسره يې اوږده او بله يې لنډه وي.

نه غوږ لرم چې واورم نه په خوله د خير ويل کړم مدام منت پر بل کړم
چې قهر راشي عقل مې مغلوب شي نو ښکنځل کړم مدام منت پر بل کړم
که هر څو کتابونه رنګ په رنګ و ځانته ډېر کړم اوښه يې تر نظر تېر کړم
راپېښه بدبختي ده چې يوه زړه عمل کړم مدام منت پر بل کړم

لنډه مسره همېشه يو ډول نه وي کله تکرارېږي او کله مختلفه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹_ مخمس: د مخمس هر بند له سره تر پایه پورې پنځه، پنځه مسرې دي. لومړۍ پنځه مسرې یو ډول قافیه لري. په نورو بندونو کې لومړۍ څلور مسرې یو له بله په قافیه کې یو ډول وي خو پنځمه مسره یې د پیل له لومړنیو پنځو مسرو سره یو ډول قافیه لري او تر پایه دغه جوړښت ساتي. د حمید مومند د مخمس څو بیتونه:

د هجران د لاسه ناست یم ویر ژړلی لکه بت په غټو سترګو دم ختلی
بېهوده په صورت روغ په زړه نتلی بېلتانه په مرګي حال یم رسولی
ربه راولې اشنا په سفر تللی

**

یا لـه یار ســره ولاړ وای پــه رکاب کې یا یې مړ وای د هجران په اول تاب کې
یا وای ډوب مدام د اوښکو په سیلاب کې حساب نشوم د یوې چارې په باب کې
هسې پاتې شوم بې آبه مخ ناولی

۱۰_ مسدس: ددې شعر هر بند شپږ شپږ مسرې لري. لومړۍ شپږ مسرې یې یو ډول قافیه لري. په نورو بندونو کې لومړۍ پنځه مسرې یو له بله په قافیه کې یو شی وي خو د شپږمې مسرې قافیه د لومړیو شپږو مسرو پر قافیه باندې بنا کېږي.

د شمس الدین کاکړ د مسدس څو بیتونه د نمونې په ډول:

وخت د سحر دی مرغان چغېږي جرس اواز کا زړه مې لرزېږي
ســترګې مې غورزي بانې رېږي اثــر د غــم دې رامعلومېږي
کوم بد خبر به راورسېږي
د یـار د تـللو خبرې کېږي

دا څه عشق نه دی واړه ټګي ده دا صدق نه دی مـنافقي ده
دا اخلاص نه دی دغــه بازي ده دا یاري نه ده دا بیزاري ده
چې پر یار غم دی پرما ښادي ده
بې حیا زړه دې زمـا وشرمېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جدایۍ ســـــندرې وایم　　په سفر تللی اشنا به ستایم
که ملامت یم کـه بېنوا یم　　بیا یې د وصـــل په تمنا یم
زه شمس الدین یې په دا دعا یم
چې یار به کلـــه بیـا ورســېږي

مسبع، مثمن او معشر هم دغه ډول اشعار دي خو د مسرو په شمېر کې توپیر لري. په مسبع کې دوه، په مثمن کې اته او په معشر کې لس مسرې وي. د سر په بند کې د ټولو مسرو قافیه یو ډول وي او په نورو بندونو کې نورې مسرې یو له بل سره په قافیه کې یو ډول وي، خو د پای د مسرې قافیه د سر د مسرو پر قافیه بنا کېږي.

۱۱ـ ترجیع بند: د نظم هغه ډول دی چې قافیې یې مختلفې او وزن یې یو ډول وي. د بندونو شمېر یې نه دی ټاکل شوی. د هر یو بند د بیتونو شمېر یې پخپلو کې مساوي وي او له پنځو څخه تر لسو بیتونو پورې رسېږي. کله تر دې هم زیاتېږي.

د هر بند په آخر کې یو بیت راځي چې د بند د ټولو بیتونو سره په وزن کې یو شان وي. مګر ځانګړې قافیه لري چې همدغه بیت د هر بند په پای کې تکرارېږي.

دلته د خوشحال خان خټک د ترجیع بند څو بیتونه د نمونې په ډول راوړل شوي دي:

ستا له لوریه که هـزار جـور و جفا وي　　له عاشقه به په سل رنګه وفا وي
پـه عـاشـق بـانـدې مـعشـوقـه عـنـایـت کا　　ستا مدام په خپل عاشق باندې عنا وي
بنـه مـا ومـنـل چـې تـه بـې حـد زیـبـا یې　　په جهان به کوم څوک تا غوندې زیبا وي
ولې خـدای چې بنه جمال و چاته ورکا　　نه په دا چې دی بې مهره کبریا وي
که قضا په ما زړه سـوی کا هم به ومرم　　که یو څو ورځې د جنګ و فتنې دا وي
که سل ما سره غوغا جنګ و جدل کړې　　خدای دې نه کا چې له تا به تله زما وي
ستا د در په خاورو پروت بې قدره بنه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم بنه نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲_ ترکیب بند: د ترجیع بند غوندې شعر دی خو په دومره توپیر چې په ترجیع بند کې چې کوم بیت د هر بند نه وروسته راځي، تکرارېږي، خو په ترکیب بند کې تر بند وروسته یو بیل بیت راځي چې بېله قافیه او بېله معنا لري. د حمید مومند د ترکیب بند څو بیتونه د نمونې په ډول راوړو.

په منزل به یې سباگوره څوک مله وي نه پوهېږم چې به ساد وي که به غله وي
په څه شان به شکسته زهیر په زړه وي له نغمې به یې د زړه نغمــه په خــوله وي
دم قـــدم به یې خولې د مخ په وله وي رانجه کړي به یې چــا خاورې د پله وي
ســـزاوار د هـــــر ستم د هر پیغور یم
چې مې یار په سفر تللی زه پر کور یم

**

یا لـــه یاره سره تللی په سفر وای په هـر ځای مې غوړولی پرې وزر وای
یـا یې مړ د بېلتانه له غمه ژر وای یـا په دواړو سترګو تېپ ړوند په نظر وای
کـه دا نه کېدای هرګزه معتزر وای خود په خود مې ځان وهلی په خنجر وای
هسې پاتې شوم تر یار پورې مخ توری
په جـــرګـــه د عـاشقانو کې کوز ګوری

د متن لنډیز:

مشترک نظمونه هغه دي چې په عربي، فارسي او پښتو کې ویل کېږي. دغه شعرونه ځانته ځانګړي ډولونه او وزنونه لري.

په دې ډولونو کې غزل، قصیده، رباعي، قطعه، مثنوي، مستزاد، مخمس، مسدس، مسبع، مثمن او معشر راځي. د پښتو په کلاسیکه دیواني شاعرۍ کې دغه ټول ډولونه شته او پښتنو شاعرانو دغه ډولونه کارولي دي. قصیده، مثنوي، غزل په لرغوني دوره کې په پښتو شاعرۍ کې پیل شول او بیا دې نورو ډولونو په منځنۍ دوره کې زیات رواج وموند. په اوسنۍ یا معاصره دوره کې اوس دغه ډولونه دومره نه کارول کېږي، ځکه چې اوس معاصر شعر د ژوند موضوعاتو ته وقف دی او اوسني شاعران زیات په شکلیاتو او صنعتونو پسې نه ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او بیا دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- په پښتو کې کوم نظمونه پېژنئ؟
- ملي نظمونه څه ته وایي؟
- مشترک نظمونه کوم دي؟
- د مشترکو نظمونو او ملي نظمونو توپیر څه دی؟

۲ـ څو زده کوونکي دې په وار سره په قصیده، غزل او مثنوي خبرې وکړي. ښوونکي دې د ضرورت په وخت ددوی لارښوونه وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې په متن کې راغلي شعرونه په وار سره ولولي، یو زده کوونکی دې دیو شعر مفهوم او بل دې د بل شعر مفهوم په خپلو خبرو کې څرګند کړي.

۴ـ زده کوونکي دې د خپلې خوښې دیو شعري ډول په اړه څو کرښې پخپله کتابچه کې ولیکي، دلایل دې روښانه کړي او بیا دې خپله لیکنه په وار سره په ټولګي کې واوروي.

۵ـ زده کوونکي دې په وار سره په دې اړه خبرې وکړي چې په لرغوني دوره کې کومو شاعرانو له دغو شعري ډولونو څخه ځینې کارولي وو؟

۶ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه د کتاب له پای څخه معنا او په جملو کې وکاروي:

درویزه، تومن، برهمن، تلطف، نغوړه، ندامت، نانغتان، نصرت، رحلت، ګنج، هنګامه، عار، ظلمت، ارشاد، معصیت، نتلی، دم ختلی، جرس، عنا، عنایت، جمال، کبریا، ساد، معتزر

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د شعرونو ددغو ډولونو څخه پخپله خوښه یو ډول غوره او له کلاسیکو دیوانونو څخه دې رانقل کړي. د شعر معنا او مفهوم دې هم ولیکي او په بل پښتو درسي ساعت کې دې یې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو هنري نثر

که څه هم د يوې ژبې ټول ليکلي او ناليکلي شفاهي منظوم او منثور آثار ادبيات ګڼل کېږي خو اوس هر ډول ليکنې په ادبياتو کې نه شمېرل کېږي، يوازې هغه اثار د ادبياتو تر عنوان لاندې مطالعه کېږي چې هنري ارزښت ولري. د بېلګې په توګه هر منثور اثر چې د علومو او فنونو په بېلابېلو څانګو کې ليکل شوي وي او يا هر نظم او منثور اثر چې د تاريخ، جغرافيا، طب او نورو علومو تشريح ته وقف وي په ادبياتو کې نه شمېرل کېږي. هغو ليکنو ته ادبي هنري ويل کېږي چې له تخيله رازېږېدلي وي او د ژوند واقعيتونه په هنري ډول منعکس کړي. پر لوستونکي او اورېدونکي خپل خاص اغېز وکړي او د هغه هنري ذوق تسکين کړي. هنري اثر بايد په داسې يو ژبني چوکاټ کې بيان شوی وي چې هم د ټولنيز ژوند هنداره وي او هم په لوستونکي او اورېدونکي کې يو عاطفي احساس پيدا کړي او ښکلاييز ارزښت ولري. هنري نثر هم د هنري ادبياتو يوه مهمه برخه ده چې د هنري ادبياتو د ټولو نثري ډولونو لپاره کارول کېږي، لکه: لنډه کيسه، ناول، طنز، ډرامه، ادبي ټوټه او نور... په دې لوست کې به د هنري نثر په اړه معلومات ولولئ.

_ هنري نثر څه ته وايي؟

_ هنري نثر له عادي نثره څه توپير لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنري نثرونه د ادبياتو يوه برخه ده. د نړۍ د ټولو ژبو په ادبياتو کې کارول کېږي. په پښتو ادبياتو کې د شلمې پېړۍ په لومړيو شلو کالو کې پيل شو او تراوسه کارول کېږي. هنري نثرونه خپلې ځانګړنې لري چې د همدغو ځانګړنو له مخې له عادي او ساده نثرونو څخه جلا کېږي. د هنري نثر اصلي ځانګړتيا داده چې هنريت او ادبي ارزښت ولري. په هنري نثر کې ليکوال د بېلابېلو منظرو، انساني ټاکلو خصوصياتو، روحياتو، عاداتو او حالاتو په انځورونو کې له خپل تخيلي ځواک څخه کار اخلي.

ليکوال د تخيلي ځواک په مرسته او د ليکوالۍ د مهارتونو په وسيله د منظرونو د انځورولو او صحنو جوړولو چاره سرته رسوي. حالات او پېښې په الفاظو کې داسې انځوروي چې لوستونکی او اورېدونکی فکر کوي چې هر څه په خپلو سترګو وينې او ځان ورته په صحنه کې دننه ښکاري.

په هنري نثر کې د ليکوال په مهارت پورې اړه لري چې د خلکو هيلې، غوښتنې، جذبات، عواطف او احساسات لکه څنګه چې دي په ښکلو الفاظو کې راونغاړي او مقابل لوري ته يې ولېږدوي. دغه لېږدونه بايد د مقابل لوري په عواطفو کې خوځښت راولي. په هنري نثرونو کې د ليکوال تخيل، د مناسبو او ښکلو کلمو استعمال، د تشبيهاتو راوړل، د جملو رواني او د مقصد څرګند بيان شرط دی. ليکوال بايد د الفاظو داسې برجونه او ياکتارونه جوړ نه کړي چې لوستونکی پکې مقصد ونه مومي.

د الفاظو او جملو له ښکلا سره محتوا ته هم پاملرنه وکړي او د شکل او محتوا توازن داسې په پام کې وساتي چې يوه خوا هم زيانمنه نه شي.

هنري نثر د هنري ادبياتو ژبه ده او د يو هنري اثر په ښکلا کې بنسټيز ارزښت لري. پښتو هنري نثر د پښتنو په دوو مرکزونو پېښور او کندهار کې رامنځته شو. په کابل کې يې هم وده او پراختيا وموندله.

څرګنده دې وي چې پښتو هنري نثر په لومړي ځل په پېښور کې رامنځته شو. په پېښور کې د پښتو کتابونه، ملي نکلونه او نور ادبي اثار چاپېدل. پښتنو ليکوالو خپل لومړني هنري نثري اثار په پښتو ژبه ليکل. په دغو ليکوالو کې مولوي احمد د پښتو هنري نثر په مخکښو ليکوالو کې په ځانګړي ډول د يادونې وړ ځای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده په نولسمه پېړۍ کې د هغو انګرېزانو لپاره چې غوښتل يې پښتو زده کړي ځينې تعليمي کتابونه ترتيبول. ده په پښتو کې له نورو ژبو څخه ترجمې کړي او هم يې مستقل اثار ليکلي دي. دده تر ټولو غوره اثر چې د هنري نثرونو نماينده ګي کوي (ګنج پښتو) دی. په دې اثر کې وړې وړې کيسې راغلي چې ځينې ترجمې او ځينې ده پخپله ليکلي دي. دده د کتاب موضوعات ساده او اسان دي. ژبه يې خوږه او محاورې ته نژدې ده. ژبنې اصطلاحات يې هم کارولي دي. ده پخپلو کيسو کې د ژوند موضوعاتو ته پاملرنه کړې ده. دده دغه کار د پښتو هنري نثر په انکشاف او پراختيا کې ډېر ارزښت لري.

په ده پسې بل پښتون ليکوال مير احمد شاه رضواني (۱۸۶۳- ۱۹۳۷م.) دی. ده هم لکه د مولوي احمد ژبارې کولې. ده د پښتو ژبې ګرامر وليکه او د پنجاب په پوهنتون کې د پښتو ژبې استاد و. دده په کتابونو کې د پښتو ژبې دوه درسي کتابونه د يادولو وړ دي. د هنري نثرونو غوره بېلګه يې د (شکرستان افغاني) په نامه يادېږي. دده دغه کتاب هم د وړو، وړو کيسو او حکايتونو مجموعه ده.

بل ليکوال چې په هنري نثر کې يې د پاملرنې وړ کارونه کړي دي، هغه منشي احمد جان (۱۸۸۲- ۱۹۵۱م) دی. دی د بنو په ښار کې زېږېدلی دی. انګليسي ژبه يې زده کړه او په (۱۹۰۰م) کال کې د انګرېزانو د پښتو ښوونکی شو. دده په شاګردانو کې د هند د وايسرای معاون هم و. ده د پښتو ژبې لپاره قاموسونه وليکل. د شلمې پېړۍ په لومړيو کلونو کې يې د هنري نثر په ليکلو پيل وکړ.

دوه مجموعې (هغه دغه) او د (قصه خوانۍ ګپ) يې د هنري نثر خورا ښې بېلګې دي. داکتابونه وړې کيسې او حکايتونه لري. داکتاب هم په هند کې د پوځي منصبدارانو لپاره ليکل شوی دی. د قصه خوانۍ ګپ موضوعات فولکلوري دي لکه د آدم خان درخانۍ، د فرهاد او شيرينۍ کيسه او نورې...

په افغانستان کې هم د شلمې پېړۍ په لومړيو کلونو کې هنري نثر پيلېږي. په دغو کلونو کې د ښوونځيو په رامنځته کېدو، د جريدو او اخبارونو په خپرېدو، د راډيو په رامنځته کېدو د هنري نثر ليکلو ته لاره هواره کړې، د پښتو مرکې، د ادبي انجمن او بيا پښتو ټولنې په جوړېدو سره هنري نثر انکشاف او پراختيا مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنی لیکوال چې حکایتي او تعلیمي نثرونه لیکي هغه صالح محمد هوتک دی چې په (۱۹۱۶م) کال کې یې د پښتو لومړی کتاب ولیکه.

ورپسې قیام الدین خادم، گل پاچا الفت، صدیق الله رښتین، عبدالرؤف بېنوا او محمد دین ژواک، د هنري نثرونو لیکلو ته پراختیا ورکړه او د نورو لیکوالو پاملرنه یې هم دې ډگر ته راواړوله. گل پاچا الفت او صدیق الله رښتین په دې برخه کې ډېر کتابونه ولیکل، لکه د الفت غوره نثرونه، د رښتین د پسرلي وړمې، د خادم خیالي دنیا او د بېنوا د زړه خواله د یادولو وړ کتابونه دي.

په کوزه پښتونخوا کې سید راحت زاخیلي هنري نثر ته پراختیا ورکړه او د نوي داستاني ادب نمونې لکه لنډه کیسه، ناول او طنز یې په پښتو ادب کې رواج کړل. دلته به د نمونې په توګه د بېنوا یو نثر راوړو.

لارښوونکی

له فریب او دروه سره نا اشنا وم. مکر او چل مې زړه ته لاره نه درلوده. دروغ مې نه پېژندل. د ژوندون د لویې لارې مسافر وم. له پرېشانه خوبه راپاڅېدم. قافله ډېره پرمخ تللې وه. یوازې زه وم چې د لارښوونکي په انتظار مې لویې لارې کتلې. ډېر راغلل، تېر شول مګر یوه هم د زړه سوي په سترګو راته ونه کتل. ځینو به دګوتو په اشارو لار راوښودله خو دګوتو د اشارو لارې ډېرې اوږدې وې.

ځینو به ددې لپاره چې ځانونه په ما وساتي، زه به یې له ځان سره روان کړم خو چې خطر به تېر شو نو بېرته به یې زه پر لویه لاره پرېښودلم. دوی به لاړل. همداسې د لارښوونکي په انتظار د ژوندون په لویه لار کې ولاړ وم. څو ته راغلې. زه دې تر لاس ونیولم. زه هم په پاک زړه په تا پسې روان شوم او د لارې د موندلو په غرض مې ستا لمنه ټینګه کړه. هرې خواته به چې تلې، درپسې تلم او تا هم ماته د لار موندلو ډاډ راکاوه. ناڅاپه! موسمي توره وریځ پیدا شوه، باران او ږلۍ وربېدل شروع شول.

اسمان او ځمکه په خروش راغلل، لارې ګډې وډې شولې خو زه ډاډه وم چې تا غوندې لارښوونکی لرم او تاته مې سترګې وې چې د زمانې په دې توره دربیله کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

لار راوښيي.

مګر په هماغه حال کې تا په ډېرې حيرانتيا مخ راواړاوه او له ما څخه دې پوښتنه وکړه چې:

(اې مسافره لار راوښيه، لاره کومه ده؟)

هغه وخت نو زه پوه شوم چې زما د ژوند د لارې لارښوونکی یوازې زه یم او باید زه پخپله خپله لارښوونه وکړم.

د متن لنډیز:

هنري نثر د شلمې پېړۍ په لومړیو کلونو کې په کوزه پښتونخوا او افغانستان کې پیل شو. په کوزه پښتونخوا کې یې سرلاري مولوي احمد، میر احمد شاه رضواني، منشي احمد جان او راحت زاخیلی و. په افغانستان کې یې مخکښه لیکوال صالح محمد هوتک، پوهاند عبدالحی حبیبي، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، صدیق الله رښتین، عبدالرؤف بېنوا، محمد دین ژواک او نور وو.

ورپسې لر او بر نور لیکوال راپیدا شول او په نثر کې یې ډېرې هستونې وکړې. هنري نثر له عادي او ساده نثر نه توپیر لري. په هنري نثر کې لیکوال له خپل تخیل نه ډېر کار اخلي. نېغ په نېغه ساده خبره نه کوي، بلکې خپله خبره په ښکلو کلماتو او تشبیهاتو کې رانغاړي چې د لوستونکو په عاطفه او احساس ژوره اغېزه کوي، هنري نثر د لنډې کیسې، ناول، ډرامې، طنز، تکل او ادبي ټوټې لپاره کارول کېږي. د لارښوونکي نثر هم یو هنري نثر دی چې د خپل مطلب د بیان لپاره له ښکلو کلماتو او تشبیهاتو څخه کار اخلي.

په دې نثر کې ښودل شوي چې هر سړی د خپل ځان رهبر او لارښوونکی دی. د نثر مقصد دادی چې د لارښوونکي په ټاکلو کې باید له ډېر دقت او غور نه کار واخیستل شي او په غولوونکو لارښوونکو وانه وړي او نه ځان تېر باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د متن له لوستلو څخه وروسته دا لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- هنري نثر څه وخت، چېرته او د چا له خوا پیل شو ؟
- په کوزه پښتونخوا کې د هنري نثر مشهور لیکوال کوم وو ؟
- په افغانستان کې د هنري نثر لومړني لیکوال څوک وو ؟
- د هنري نثرونو د څو کتابونو نومونه واخلئ؟
-

۲ـ که کوم زده کوونکی د هنري نثر کوم لیکوال پېژني د هغه په اړه دې خپلو ټولګیوالو ته معلومات ورکړي.

۳ـ زده کوونکي دې د لاړښوونکي متن په وار سره ولولي، خبرې دې پرې وکړي او خپل نظر دې پرې هم څرګند کړي.

۴ـ زده کوونکي دې د یو ښه لاړښوونکي خصلتونه او صفتونه په څو کرښو کې وليکي او بیا دې یې په وار سره په ټولګي کې واوروي.

۵ـ زده کوونکي دې د هنري نثر او ساده نثر توپیرونه وښئي، ښوونکی دې د ضرورت په وخت کې له دوی سره مرسته وکړي.

۶ـ هنري نثر د کومو ادبي ډولونو لپاره کارېږي، نومونه یې واخلئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ د غړیو په مرسته او یا له کوم کتاب څخه هنري نثر وليکي او په بله ورځ دې یې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ادبياتو لرغوني دوره

تاسې د ادبي دورو په هکله څومره معلومات لرئ؟

ملتونه د سياسي تاريخونو ترڅنګه ادبي تاريخونه هم لري چې د يو ملت فرهنګي او ادبي پېژندنه کوي. ادبي تاريخونه په بېلابېلو دورو وېشل کېږي چې د پښتو ژبې ادبي تاريخ هم د پوهانو له خوا په درې دورو وېشل شوی دی. لرغوني دوره، منځنۍ دوره، اوسنۍ يا معاصره دوره. دادی په دې لوست کې تاسې ته لرغوني دوره درپېژنو چې پښتو ادب له کوم وخت نه پيل شوی او لرغوني دوره کومې ځانګړتياوې لري.

ـ د پښتو ادب لرغوني دوره څه وخت پيل شوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ادبياتو لرغوني دوره له دويمې هجري پېړۍ څخه پيلېږي او د يو ولسمې پېړۍ تر لومړيو کلونو پورې دوام کوي. د پښتو ادبياتو د لرغوني دورې اثار د پښتنو په دريو مرکزونو (غور، د کسي غر او ملتان) کې رامنځته شوي دي. په غور کې غوري پښتانه اوسېدل. د غور له پاچاهي کورنيو څخه يوه د غور سوري شاهي کورنۍ وه چې په تاريخونو کې د شنسبانيانو په نامه مشهوره وه. ددې کورنۍ يو مشر نيکه شنسب (شين اسپ) نومېده چې د پلار نوم يې خرنګ و. دا شنسب د حضرت علي (رض) په زمانه کې مسلمان شوی او د غور پاچا منل شوی و. د شنسب زوی امير پولاد و. هغه وخت چې ابو مسلم مرزوي د بني اميه اميران له خراسان څخه شړل او د بني عباس په پلوۍ ودرېد نو امير پولاد له خپلو لښکرو سره دده ملاتړ وکړ.

د امير پولاد د پاچاهۍ مرکز د غور په مندېش کې و. په پټه خزانه کې راغلي دي چې د امير پولاد تر مړينې وروسته د هغه زوی امير کرور د غور په مندېش کې په ۱۳۹هـ کې پاچا شو. امير کرور د خپلې پاچاهۍ په دوران کې دوه مرکزونه درلودل چې يو يې مندېش او بل يې زمينداور و. امير کرور ډېر غښتلی پهلوان و چې په يوازې ځان له سلو تنو سره جنګېده. ده هم د عباسي دعوت په جنګونو کې ګډون درلود او ډېرې بريالۍ ترلاسه کړې.

امير کرور يو عادل پاچا و. په پښتو يې شعرونه هم ويلي دي. په ۱۵۴هـ کې د پوشنج په جګړو کې مړ شو او پر ځای يې دده زوی امير ناصر پاچا شو. امير کرور چې د خپلو سوبو په پايله کې کوم شعر ويلی دی، هغه پټې خزانې تر مور رارسولی دی.

زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
پر هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته له ما اتل نسته
غشي د من مې ځي برېښنا پر ميرځمنو باندې
په ژوبله يونم يرغالم پر تښتېدونو باندې
پر ماتېدونو باندې له ما اتل نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د بربو پر خول تاوبړي هسک په نمنځ او په ويار
د آس له سو و مې زمکه رېږدي غرونه کاندم لتار
کړم ايوادونه اوجار له ما اتل نسته
زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جروم
غرج و باميان و تخار بولي نوم زما په اودم
زه پېژندويم په روم له ما اتل نسته
پر مرو زما غشي لوني ډاري دښن راڅخه
د هريوا د رود پر څنډو ځم تښتي پلن راڅخه
رېږي زرن راڅخه له ما اتل نسته
د زرنج سوبه مې د تورې په مخسور وکړه
په باداری مې لوړاوی دکول د سور وکړه
ستر مې تربور وکړه له ما اتل نسته
خپلو وګړو لره لور پېرزوينه کوم
دوی په ډاډينه ښه بامم ښه يې روزنه کوم
تل يې ودنه کوم له ما اتل نسته
پر لويو غرو مې وينا درومي نه په څنډو په ټال
نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دريځ ستا يوال
په ورځو شپو مياشتو کال له ما اتل نسته

د امير کروړ سوري دغه ويارنه د پښتو تر ټولو پخوانی شعر دی چې د اسلامي عصر په دويمه هجري پېړۍ کې ويل شوی دی. د شکلي جوړښت له مخې لرغونو اريايي سندرو ته نژدېوالی لري.

په محتوا کې يوه ويارنه ده چې د خپلو سوبو يادونه کوي او له خپلو خلکو سره د خپلې مينې اظهار هم څرګندوي. پر دې شعر د نورو ژبو تاثيرات نه لیدل کېږي او د پښتو سوچه کلمات يې استعمال کړي دي. په دغو کلماتو کې ځينې داسې کلمات هم شته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس په عامه ژبه کې نه ویل کېږي.

دویم مرکز د کسي غر یا د سلیمان د غرو لمنې دي. هغه اثار چې د کسي غر په لمنو کې ایجاد شوي، له دریمې هجري پېړۍ نه پیلېږي او تر پنځمې پېړۍ پورې رسېږي.

په دغه مرکز کې نوماند شخصیت شیخ بیتنی دی چې د ژوند زمانه یې د دریمې هجري پېړۍ شاوخوا تاکل کېدای شي. د شیخ بیتنې یو مناجات سلیمان ماکو په تذکرة الاولیا کې راوړی:

لویه خدایه، لویه خدایه ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوي کې تولې ژوي په زاري کې
دلته دي د غرو لمنې زمونږ کیږدی دي پکې پلنې

دا وګړي ډېر کړې خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه

دلته لږ زمونږ اور بل دی وورځ کورګی دی وورځ بورجل دی
مینه ستاکې مونږ مېشته یو بل د چا په مله تله نه یو
هسک او مځکه نغښته ستا ده د مړو وده له تا ده

دا پالنه ستا ده خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه

په دغه مرکز کې په دریمه او څلورمه هجري پېړۍ کې دوه نور شاعران هم تېر شوي چې یو یې شیخ اسماعیل او بل خربنبون دی چې په پټه خزانه او تذکرة الاولیا کې یې د شعر نمونې راغلي دي.

کله چې خربنبون خپل کور او کلی پرېږدي او روانېږي نو شیخ اسماعیل یې په جدایۍ کې دا پارکی وایي:

که یون دی یون دی مخکې بېلتون دی له کسي غره څخه ځي خربنبون دی
که وروره وروره خربنبونه وروره ته چې بېلتون کړې زما ویر ته ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خربښون يې په ځواب کې دا ناره له خولې باسي:

بېلتانه نـاره مې وسوه په کور باندې نه پوهېږم چې به څه وي پېښ په وړاندې

له خپلوانو به بېلېږم په سرو سترګو دواړه سـترګې مې په وينـــو دي ژړاندې

دريم مرکز ملتان دی چې د اسلام په دوو لومړنيو پېړيو کې پښتانه د سليمان د غرو له لمنو څخه کوچېدلي او د سند او پنجاب لور ته تللي دي. د پنجاب په غربي برخو ملتان کې له دغو پښتنو څخه شېخ حميد لودي د ۳۷۰ هجري په شاوخوا کې له ملتان نه نيولی تر لغمان پورې سيمو حکمران و. همدغه سړي د څلورمې هجري پېړۍ په دويمې نيمايي کې د لوديانو د حکمرانۍ بنسټ کېښود. په شېخ حميد پسې دده زوی نصر او بيا يې لمسي داود د ملتان د لودي کورنۍ حکمرانان وو.

د ملتان په لودي کورنۍ کې دوه تنه شاعران تېر شوي چې يو د شېخ حميد زوی نصر لودي او بل يې وراره شيخ رضي دی.

شيخ رضي د حميد لودي د پاچاهۍ په وخت کې د اسلام د مقدس دين د تبليغ لپاره پښتونخوا ته لاړ. دوه کاله د کسي غره په لمنو کې وګرځېد او ډېر خلک يې مسلمانان کړل. شېخ رضي له کسي غره څخه خپل يو شعر د ليک په ډول نصر لودي ته استولی و چې د پيل بيتونه يې دادي:

د الـحـاد پـه لـور دې تـر پلل

ګـروه دې زمـوږ وکـوراوه

مـوږ رونـلـی پـه زيـارنـه

تـا پـه تـور وتـوراوه

کله چې دا ليک په ملتان کې نصر لودي ته ورسېد نو هغه يې په ځواب کې وويل:

د الـحـاد پـه تـور تـورن سـوم

زه لـرغـون خـو مـلـحـد نـه يم

زمـا دښـنـه هـسـې تـور راکـړی

کـه مـلـحـد يـم د دښـنـه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ رضي د خپل تره زوی ته وایي چې ته له سنت او له خپلې لارې نه اوو ښتی یې خو نصر ورته په ځواب کې وایي چې زه پر سنت ټینګ ولاړ یم او کوم تورونه چې پر ما لګول شوي هغه دروغ دي.

د ملتان لودي کورنۍ د غزني له پاچاهانو سره په رقابت کې وه، مؤرخین وایي چې د غزني پاچاهانو د ځان لپاره دا بهانه ونیوله او پر لودي کورنۍ یې د الحاد تورونه ولګول او په دې توګه یې د ملتان لودیان وټکول، حال دا چې د ملتان لودیان مسلمانان وو.

په دریمه هجري پېړۍ کې په پښتو کې د نثر لیکل او ژباړه پیل شوه. ابو محمد هاشم سرواني (۲۲۳- ۲۹۷هـ) د بست په سروان کې زېږېدلی او هلته یې ژوند کړی دی. په (۲۹۴هـ) کال عراق ته تللی او په بغداد کې یې د خپل استاد ابن خلاد سره ډېر عمر تېر کړی دی.

د هغه یو عربي شعر یې په پښتو ژباړلی چې داسې پیلېږي:

ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونه

دا په پښتو کې د ژباړې پیل دی. ابو محمد هاشم په نثر کې یو کتاب ((د سالو وېرمه)) لیکلی و چې د عربي اشعارو د فصاحت او بلاغت په اړه دی.

په پنځمه هجري پېړۍ کې په پښتو ادب کې قصیده رامنځ ته شوه چې لومړنی قصیده ویونکی شیخ اسعد سوري دی. شیخ اسعد سوري د غور د پښتنو پاچاهانو په لړکې د امیر محمد سوري هم مهاله و او د هغه پر مړینه یې یو قصیده ویلې ده چې داسې پیلېږي:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار
هر غاټول چې په ښېدیا غوړېده وکا
رېژوي یې پانې کاندي تار په تار

بل قصیده ویونکی شاعر ښکارندوی غوري دی چې په غزني او بست کې اوسېدلی او د سلطان شهاب الدین غوري معاصر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې سلطان شهاب الدین د اسلام دین د خپرولو لپاره پر هند لښکرې کولې، نو دی ورسره و. ښکارندوی د سلطان شهاب الدین د سوبو په اړه یوه اوږده قصیده ویلې چې پټې خزانې خوندي کړې ده:

د پسرلي ښکلوونکي بیا کړل سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې سوې
طیلسان زمردي واغوسته غرونه

ښکارندوی د غور اوسېدونکی او د فیروز کوه کوټوال و. دغه دواړه قصیدې په غور کې د غوري پښتنو پاچاهانو په وخت کې ویل شوي دي.

په شپږمه هجري پېړۍ کې چې د غور پښتانه پاچاهان په هند کې د اسلام د مقدس دین د خپرولو لپاره لښکرې کوي نو د اسلام د خپرېدو په ملاتړ هم په پښتو کې شعرونه ویل شوي دي.

ملکیار غرشین چې د سلطان شهاب الدین غوري همعصره دی، کله چې سلطان شهاب الدین پر هندوستان لښکرې کوي نو ملکیار غرشین هم ورسره دی چې یوه رزمي سندره یې په دې ډول ویلې ده:

څښتن مو مل دی	اوس مو یرغل دی	هېواد د بل دی
غازیانو ګورئ	څښتن مو مل دی	
تورې تېرې کړئ	دښمن مو پرې کړئ	منګولې سرې کړئ
څله به تښتو	څښتن مو مل دی	
که ټینګ کړو زړونه	په بري یونه	چې زمري یونه
اسلام راڅخه دی	څښتن مو مل دی	
غازیانو راسئ	ټول شاوخوا سئ	د شهاب په ملا سئ
دښمن مو غوڅ کړئ	څښتن مو مل دی	

په شپږمه هجري پېړۍ کې د مینې او محبت سندرې ویل شوي دي چې یوه نمونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شېخ تيمن کاکړ يوه عشقي سندره ده:

ګـهيځ رنا د لـــمر خپره شوه	زما پر کـــور د ويرنا ره سوه
د بېلتون ورځ توره تياره سوه	ږغ سو ناڅاپه چې بېلتون راغی

په (۶۱۲هـ) کې د نثر يو بل کتاب د سليمان ماکو له خوا ليکل شوی چې تذکرة الاولياء نومېږي. په دې کتاب کې يې د اولياو و او ځينو پښتنو شاعرانو احوال او د کلام نمونې راغلي دي. ددې کتاب هغه پاڼې چې زمونږ په لاس کې شته، مونږ ته د شېخ بيتنې، شېخ اسماعيل، ملکيار غرشين او قطب الدين بختيار کاکي احوال راکوي.

د اومې هجري پېړۍ په درېمه لسيزه کې عرفاني افکار پښتو ادب ته لاره پيدا کوي. شېخ متي د خپلو اشعارو کتاب چې (د خدای مينه) نومېږي بشپړوي.

د شېخ متي د يو مناجات څو بيتونه په دې ډول دي:

زه چې څرګند په دې دنيا سوم	د ښکلي مخ په تماشا سوم
ستا پر جمال باندې شيدا سوم	لـه خپلې ستې راجلا سوم

په ژړا ژاړم چې بېلتون دی

يمه پرديسی بل مې تون دی

د اومې هجري پېړۍ په دويمه لسيزه کې (۶۱۷هـ) زمونږ پر هېواد د چنګېز حملې پيلېږي. د چنګېز او دده د اولادونو د حملو پر وړاندې د مقاومت موضوع په پښتو شعر کې پيلېږي. په دغه وخت کې مونږ د بابا هوتک يوه سندره لرو چې د مقاومت خورا ډېره په زړه پورې نمونه ده.

د مغلو لښکرو به د ارغنداو پر غاړو لوټ کاوه. د اتغر او بولان سيمې به يې لوټلې. بابا هوتک خپل خلک راټول کړل او سره غر ته نژدې يې له مغلو سره سخت جنګ وکړ. په دې جنګ کې پښتانه لږ او غليم ډېر و، خو کله چې بابا هوتک په لوړ غږ دا سندره و ويله، نو سوبه د پښتنو په نصيب شوه.

بابا هوتک د بارو زوی په (۶۶۱هـ) دکلات په اتغر کې زېږېدلی، د خپل قوم مشر و، په (۷۴۰هـ) کال وفات شوی دی، د شعر يوه برخه يې داسې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر سورغر بل راته نن اور دی وګړیه جوړ راته پیغور دی
پر کلي کور باندې مغل راغی هم په غزني هم په کابل راغی
غښتليو ننګ کړئ دا مو وار دی مغل راغلی په تلوار دی
په پښتونخوا کې يې ناتار دی پر کلي کور باندې مغل راغی

د اتمې هجري پېړۍ په دويمه نيمايي کې نور شعري ډولونه په پښتو ادب کې راڅرګندېږي لکه غزل او مثنوي چې په دغه وخت کې د اکبر زميندارۍ له خوا ويل کېږي:

د مثنوي نمونه يې داده:

زه عاشق يم يار هم نيز نور څه لرو تميز
يو پر بله عاشقان يو په خپل عشق کې صادقان يو
يو په بل پسې رنځور يو چې نژدې نه يو مهجور يو
عشق که نښه دی که بلا دی پيدا کړی زمور مولا دی

د اکبر زميندارۍ د غزلې يوه برخه داده:

د خپل ځان له حيرانۍ څه ويل کړم د عشق ويرِ به تل پخپله پټول کړم
ما مدام لکه بورا پر ګلو ګشت کړ اوس به ځم په سرتور سر فراق دګل کړم
د غماز لړمون به زه په لمبه کېږدم ځينې هېر به د يار بزم ګل او مل کړم
زما د يار د مينې اور په زړه کې بل دی زه به سر و مال ونښندم ديد به حاصل کړم

د بېلتون له ويره ژاړم اونښکې وينې
زه اکبر په خپل اشنا د سرښندل کړم

په نهمه هجري پېړۍ کې په پښتو شاعرۍ کې رباعي پيلېږي چې د لومړنيو رباعيو ويونکي خليل خان نيازی او سلطان بهلول لودي دی. سلطان بهلول (۸۵۰- ۸۹۴هـ) په دهلي کې افغان پاچا و. په دربار کې به يې شاعران او عالمان پالل. پخپله هم شاعر و. خليل خان نيازی دده د دربار شاعر و چې دا رباعي يې ويلې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خـړې وړېځې ژاړي لـه پاسه　　کـــويله ږغ کا بېلتون له لاسه
په هغه لونې ګوهر په خول ستا　　دا مـرحبا کا ستا زمور مو اسه

د خليل خان نيازي په ځواب کې سلطان بهلول لودي سم د لاسه دا رباعي و ويله:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه　　ګـوره وړېځې د داد لـه پاســه
خـــول مې د عدل په درو رونړ دی　　جهان به زيب مومي زما له لاسه

د همدې نهمې پېړۍ په جريان کې پښتو ادب ته (ساقي نامه) هم راغله. دا ساقي نامه پټې خزانې تر موږ رارسولې ده. ساقي نامه د خمريه اشعارو يو ډول دی چې د ساقي، جام، ګل، مل او صراحي صفتونه پکې بيانېږي. دا ډول اشعار د مثنوي په قالب کې ويل کېدل. د پښتو لومړنۍ ساقي نامه زرغون خان نورزي ويلې ده.

زرغون خان د نوزادو له نورزو څخه دی. په (۹۱۲هـ) ده پښتو ديوان بشپړ شوی دی. زرغون خان په (۹۲۱هـ) په ديراوت کې وفات شوی دی.

د زرغون خان نورزي د ساقي نامې پيل دادی:

ساقي پاڅه پياله راکړه　　مـــرور يار مې پخـلا کړه
اوبه تويې په لمبو کړه　　اور مې مړ په دې اوبو کړه

د پښتو ادبياتو په لرغوني دوره کې يو شمېر مېرمنې شاعرانې هم تېرې شوې دي چې يوه يې زرغونه کاکړه ده. د نهمې هجري پېړۍ په دويمه نيمايي کې ژوند کړی ده، چې يو حکايت يې پټې خزانې راوړی دی:

اورېـــدلـــې مـــې قـصـــه ده　　چـې لـه شـاتـو هـم خـــوږه ده
د اخـتـــر پـــه ورځ سـهـار　　بـايـزيـد چـې و رويـــدار
لـــه حـمـامـــه راوتـــلـــی　　پـــه کـوڅـه کـــې تـېرېـدلـی
ايـــرې خـــاورې چـا لـه بـامـه　　راچـــپـــه کـــړلـــې نـاپـامـه
مـخ او ســر يـــې ســو ککـړ　　پـــه ايـــرو پـــه خـــاورو خـړ
بـايـزيـد پـه شـکـر کـښـو سـو　　د خـپـل مـخ پـه پـاکـېـدو سـو
چـې زه وړ يـم د بـل اور　　چـې پـه اور کـې سـم نـسـکـور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرغوني پښتو بوستان لومړنی اخلاقي اثر دی چې تر دې دمخه يې کومه بېلګه په پښتو ادب کې نه لرو. همدارنګه له فارسي څخه د ادبي اثارو د ترجمې تاريخ هم له زرغوني څخه پيلېږي.

زرغونه د پښتو ژبې شاعره، ژباړونکې او ښه خطاطه وه. په زرغوني پسې بله مېرمن رابعه ده چې د ظهير الدين محمد بابر د زماني شاعره وه. په کندهار کې اوسېده. د اشعارو ديوان يې درلود. يوه رباعي يې پټې خزانې راوړې ده:

ادم يې ځمکې وته راستون کا — په اور د غم يې سوی لړمون کا
دوزخ يې روغ کا پرمخ د ځمکې — نوم يې د هغه، دلته بېلتون کا

په دې دوره کې دريمه مېرمن نکېښته نومېږي. د شېخ الله داد لور او د شېخ قدم مېرمن وه. پلار نيکه يې په اشنغر کې اوسېدل. عالمه، زاهده او پرهېزګاره ښځه وه.

په (۹۶۹هـ) کال کې د (ارشاد الفقرا) په نامه يو کتاب ليکلی و چې درې ټوټې تري محمد هوتک په پټه خزانه کې راخيستې دي. د يوې ټوټې څو بيتونه يې په دې ډول دي:

په زړه ښاد شې اې مؤمنه — په ظاهــر په بـاطن سپينه
ظاهر زهد په اخلاص کړه — په زړه ټينګ شــه له يقينه
شکر صبر په هر حال کړه — خود نمای مه شه خودبينه

په حکايتي اثارو کې په دغه دوره کې د دوست محمد کاکړ يو حکايتي اثر معلوم دی چې (غرغښت نامه) نومېږي او په (۹۲۶هـ) کال يې په ژوب کې نظم کړی دی.

له دې کتاب څخه د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک يو حکايت تر موږ رارسولی دی چې يو څو بيتونه يې دادي:

لــه نــيکانــو روايت دی — هسې تــوګه حــکايت دی
نور محمد کاکړ راوي دی — چې يې فيض تل جـاري دی
د نيکـونو له خولې وايي — چې مــنښت يې راته ښايي
چې کــاکړ نيکـه زاهد و — لــوی څښتن له تل عابد و

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرغښت نامې حکایات په پښتو مثنوي نظم شوي وو.

په لسمه هجري پېړۍ کې په پښتو شعر کې عرفاني مضامین پراختیا مومي. دغه وخت په هندوستان کې دري شاعران پېژنو چې دري واړه صوفیان، عابدان او زاهدان وو. دا شاعران، شیخ عیسی مشوانې، شیخ علي سرور لودي او شیخ بوستان برېځ دي. له دغو شاعرانو څخه شیخ عیسی مشوانې د هندوستان د افغان پاچا شېرشاه سوري معاصر و. د ژوند زمانه یې د (۹۵۰هـ) شاوخوا ټاکل شوې ده. په پښتو، فارسي او هندي ژبو یې یوه منظومه رساله لیکلې ده.

د کلام نمونه یې په لاندې ډول ده:

په خپله کار کړې په خپل انکار کړې
کله بادار یم کله مې خوار کړې
ته خو قادر یې په صفتونو
کله مې نور کړې، کله مې نار کړې
عیسی حیران دی په دې شیونو
کله مې یار کړې کله اغیار کړې

د یوولسمې پېړۍ په لومړیو کې په کندهار کې شیخ صالح محمد الکوزی یو عارف شاعر تېر شوی چې یوه نمونه یې پټې خزانې تر موږ رارسولې ده. شیخ ډېر عابد او عالم سړی و. خپل وخت یې طالبانو ته په تدریس تېراوه او خلکو ته به یې د سمې لارې لارښوونه کوله.

د متن لنډیز:

د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره له دویمې هجري پېړۍ څخه پیلېږي او د یوولسمې پېړۍ تر لومړیو کلونو پورې رسېږي. یا په بله وینا د امیر کروړ سوري څخه پیل او د بایزید روښان تر ظهور او پاڅون پورې رسېږي. د لرغونې دورې اثار د ریګویدا، اوستا له سندرو سره ورته والی لري ځکه چې موضوعګانې او قالبونه یې یو ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي.

د لرغوني دورې موضوعات د نمانځنې سندرې، ویاړنې، ویرنې، مینه، بهلتون او اخلاقي ښوونې دي. شعرونه یې ساده او روان دي. پېچلي تخیلات او لفظي صنایع نه لري. د غوریانو په دوره کې د قصیدو جوړول یو نوی پراو دی. ددغې دورې اثار لږ دي او یا تر موږه په محدوده توګه رارسېدلي دي او نور یې د زمانې په تېرېدو سره له منځه تللي دي، ځکه د هر شاعر او لیکوال محدودې نمونې په لاس کې لرو. زیاتره کتابونه او دیوانونه د پردیو یرغلګرو (چنګېز، تیمور او نادر افشار) د حملو په پایله کې له منځه تللي او لوټ شوي دي. یوازې د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیا څو پاڼې تر موږه رارسېدلي دي.

په دې دوره کې پښتو ادبي اثار د بدلون، ودې او پراختیا په حال کې دي؛ ځکه په همدغه دوره کې د خپلو ملي اوزانو ترڅنګه قصیده، قطعه، غزل او مثنوي هم رامنځته کېږي. د محتوا له اړخه پښتو شعر د ژوند بېلابېل موضوعات خپلوي لکه د رزم و بزم خبرې، دیني او عرفاني موضوعات، اخلاقي پند و نصایح، وعظونه او نور... د شعر ځینې ځانګړي معنوي ډولونه لکه ویاړنه، ساقي نامه، حکایتي اثار هم په دې دوره کې رامنځته کېږي.

د دریمې هجري پېړۍ په دوران کې له عربي څخه پښتو ته ژباړه پیلېږي، وروسې له فارسي ادبیاتو سره پښتو ادبیات اړیکې پیدا کوي.

د سعدي بوستان په لسمه هجري پېړۍ کې د یوې پښتنې مېرمنې له خوا ترجمه کېږي، په دې توګه له فارسي څخه ژباړه په لسمه هجري پېړۍ کې پیلېږي. ددغې دورې اثار په غور، سلیمان غر او ملتان کې رامنځته شوي، یعنې دغه وخت پښتانه له پښتونخوا نه نیولی تر هندوستان پورې اوسېدل. د دې دورې اثار په دوو لرغونو تذکرو پټې خزانې او تذکرة الاولیا کې راغلي دي. ددې دورې په اثارو کې د پښتو خپل زاړه لغتونه او ترکیبونه شته چې ځنې یې اوس په محاوره کې نه استعمالېږي. ددغې دورې اثار په وروستیو کې له عربي او فارسي څخه په کلماتو کې اغېز قبلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ زده کړه ونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي.

- د پښتو لومړنی شعر څه وخت او د چا له خوا ویل شوی دی؟
- په لرغوني دوره کې پښتو قصیده ویونکي څوک وو؟
- د لرغوني دورې اثار تر موږ پورې چا رارسولي دي؟
- د لرغوني دورې کومې ښځینه شاعرانې پېژنئ؟

۲ـ ښوونکی دې زده کړونکي په څلورو ډلو ووېشي یوه ډله دې د لرغوني دورې د شاعرانو نومونه، بله ډله دې کتابونه، بله ډله دې د شعر د ځانګړنو او څلورمه ډله دې د پښتو ادب اړیکې له نورو ژبو سره په څو کرښو کې وليکي.

۳ـ د مقاومت شعر څه وخت او د چا له خوا پیل شو؟

۴ـ زده کړونکي دې په متن کې عام او خاص نومونه پیدا او وليکي، بیا دې یې په وار سره په ټولګي کې ووایي.

۵ـ په لرغوني دوره کې نثر لیکل څه وخت پیل شول، له دغې دورې څخه موږ د نثر کومه نمونه لرو؟

۶ـ زده کړونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې استعمال کړي:

لتار	ایوادونه	دښن	پلن	زړن	مخسور
دریځ	ستایوال	سوبه	ګروه	رونړلی	مهجور
ښندم	کویله	خول	مواس	مرحبا	

زده کړونکي دې په کور کې لوست په غور سره ولولي او ددغې دورې په مهمو ټکو دې خپل نظر وليکي، په بله ورځ دې یې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې او لنډۍ



تاسې په تېرو درسونو کې ولوستل چې د پښتو شفاهي منظوم ادبیات په دوو ډلو وېشل کېږي. یوه ډله یې عامې سندرې دي او بله ډله یې خاصې سندرې دي. خاصې سندرې هغه دي چې د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا جوړې شوي دي. لکه چاربیتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، داستان، مقام، کسرونه او نور... عامې سندرې هغه دي چې ویونکي یې نه دي معلوم او په ټول ولس پورې اړه لري. لکه لنډۍ، سروکي، ناړې، د ښادۍ بدلې او نورې. د عامو سندرو یو ډول لنډۍ دي چې د پښتو په منظومو شفاهي ادبیاتو کې یو مشهور ډول دی. له لنډیو سره ټول پښتانه اشنا دي. لنډۍ دوه مسریزه منظومه ده چې لومړۍ مسره یې لنډه نهه سیلابه او دویمه یې اوږده دیارلس سیلابه ده. په دغه لنډه منظومه کې یو بشپړ مضمون ځایدای شي. لنډۍ په مختلفو سیمو کې په مختلفو نومونو یادېږي، لکه: لنډۍ، ټپه، ټیکۍ، مسره او نور...

په دې لوست کې په هغو لنډیو غږېږو چې د ښځو له خوا ویل شوي دي.

ـ ولې ښځې لنډۍ وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې مخکې مو وویل د لنډیو ویونکي معلوم نه دي. لنډۍ د عام ولس دي. یو شپون، یو اوښبه، یو بزګر او په زیاته اندازه زمونږ کلیوالو ښځو ډېرې لنډۍ ویلې دي. یا په بله وینا ښځې د لنډیو په ایجاد کې ډېره برخه لري.

په ټولنه کې د ښځې د ژوند شرایط په خاصه توګه سخت دي، تر هر څه دمخه دا ټولنه د نارینه وو ده او نارینه وو د ځان لپاره جوړه کړې ده. د ټولنې اساسي ارزښتونه د نارینتوب ارزښتونه دي. په دې ټولنه کې په ښځې باندې دوه ډوله فشارونه راځي، فزیکي او ارواپي. په فزیکي لحاظ د کور ټول درانه کارونه د ښځې په غاړه دي. د کر کروندې یو څه برخه په نارینه وو پورې اړه لري خو نور ډېر وخت یې هسې تېرېږي.

ښځه له سهار نه تر ماخوستنه یوه شېبه کراره نه کېني. د فصلونو په وخت کې هم ښځه له نارینه وو سره د قولبې، لو او درمندونو په راټولولو کې پوره مرسته کوي. برسېره پر دې په ورځ کې دوه ځلې د اوبو راوړل، د اولادونو روزنه، ډوډۍ پخول، کتۍ پخول او جامې ګنډل او پریمنځل او نور داسې ډېر کارونه ښځې سرته رسوي.

هغه څه چې ښځه ځوروي هغه ددې روحي فشار دی او احساس کوي چې ددې انساني ښځینه طبېعت د پښو لاندې کېږي او یا ورته په سپکه سترګه کتل کېږي، همدغه د روحي فشارونو له کبله د مقاومت ترڅنګه عکس العمل ښکاره کوي او د خپل عکس العمل لپاره د سندرې (لنډۍ) لاره غوره کوي او په لنډیو کې د خپل اعتراض غږ پورته کوي او هغه څه چې په ښکاره ډول یې نه شي ویلی په لنډیو کې یې بیانوي.

لنډۍ د پښتو د ولسي ادب روح دی او د ژوند ټولو اړخونو پکې انعکاس مونډلی دی. ښځې چې په عنعنوي توګه له ډېرو پابندیو سره مخ دي او په ډېرو موضوعاتو کې د وینا، مشورې او تصمیم حق نه لري نو خپل دغه تاثرات په لنډیو کې څرګندوي چې د دوی دغه څرګندونه بیا ډېر ژر په ټولنه کې خپرېږي.

دوی په لنډیو کې د هرې موضوع څرګندونه کوي. ټولنیزې پابندۍ غندي، د خپلې مینې، غم او خوښۍ، د وصال خوښي او د فراق غم او غوسې، فخر او ویاړ، ننګ او غیرت او د ځینو ټولنیزو عنعناتو او دودونو څرګندونه کوي. د ژوند حقیقتونه یو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بیانوي او ناوړه خواو ته یې په انتقادي توګه ګوري. زموږ په ټولنه کې اکثره ښځه د عنعنوي او رواجي زنځیرونو په کړیو کې بنده ده او ددې انساني نفس یې قید کړی دی.

خـــدایـــه پـــه څـــه ګـــنـــاه کـــړیـــږم
لـکـه سـتـي پـه سـرو لمبو کـې نـاسـتـه یمه

په لنډیو کې بې شماره کردارونه تر سترګو کېږي چې یو مهم کردار یې ښځه ده. ښځه لکه څنګه چې په ټولنه کې ده، هماغسې له هر موقف نه لکه خور، ماندینه، مور، خورزه، ورېره او مینې په توګه راڅرګندېږي.

د ښځو د لنډیو عامه موضوع د دوی مظلومیت دی او دا مظلومیت مختلف ډولونه لري. د پلار په کور کې مظلومیت، د مېړه په کور کې مظلومیت او په ټولنه کې ددوی مظلومیت.

پـــر مـــخ مـــې مـــه وهـــه ظـالـمـه
د اوښـکـو ډکـې سـتـرګـې چـاتـه واړومـه

کوم تاوتریخوالی چې له ښځو سره کېږي او یا جبري ودونو ته اړ ایستل کېږي او یا د ولور په وړاندې په جبري توګه د زیات عمر خاوند ته نکاح کېږي، دا ټول په هغو لنډیو کې وینو چې د ښځو له خوا ویل شوي دي.

د ښځو لنډۍ د دوی د ژوند هغه رښتیني هنداره ده چې زیاتی او کمی پکې نشته.

چـــې ډوډۍ خـــورم دادا قـــاړېـږي
چې روپۍ شرنګ کړي دادا شین له خندا شینه

مـــیـــنـــه یـــم مـــنـــکـــره نـــه یـم
که شینکی خال مې د چرو په څوکو ځینه

صـــورت زمـــا واک یـــې د نـــورو
ربـه تـه واخـلـې دا بـې واکـه صورتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـوال د الله پـه در کـې وکـړه
پلار مې سودي دی ما مالدار ته ورکوینه

زمـا بـي بـي دادا تـه وايـه
خوشحاله نه يم له ناکامه ناسته يمه

مسافري دې روزي مه شه
زه دې په سپينه خوله ويده پرې ايښې يمه

لکه څنګه چې ښځې د تاريخ په اوږدو کې د وطن او استقلال ساتنې په وخت کې له خپلو نارينه وروڼو سره څنګ په څنګ درېدلي دي د خپلو مېړانو او کارنامو يادونه يې په لنډيو کې کړې ده. په دغسې حساسو حالتونو کې يې نارينه وته روحيه ورکړې او د دوی د هڅونې له کبله هم بری تل زمونږ د خلکو په نصيب شوی دی. د ميوند په جګړه کې د ملالې لنډی يوه تاريخي بېلګه ده:

کـه پـه ميـونـد کـې شـهـيـد نـه شـوې
خـدايږو لاليـه بـې ننګۍ تـه دې ساتينه

نور مثالونه يې هم ډېر دي لکه:

کـه تـور وربـل مـې مـيـراتـيږي
پـه وطـن جنګ دی جـانـان نـه ايسارومه

جـانـانـه داسـې وخـت بـه راشـي
چې توپک واخلو لاس تر لاس مورچل ته ځونه

جـانـان بـه څـنـګـه تـوره نـه کـړي
تـر نـيـمـايـي مـورچـلـه زه ورسـره ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې څېړونکي وایي چې لنډۍ د یوې نیمې مسرې شعر دی. په دې یوه نیمه مسره کې پوره او بشپړه معنا پرته ده. په دې یوه نیمه مسره کې د مطالبو یو سمندر په غورځنګونو دی. په دې شعر کې د تېر وخت د یوې پېښې شوې حادثې سببونه او پایلې بیانېږي. چې ددغسې یوې لنډۍ په یادولو سره لوستونکي ته په ذهن کې د تېرې پېښې یو بشپړ انځور رامخته کېږي:

د خپله لاسه مې پرې مړ کړې
چې ډزې وشوې زه پر بام دروختمه

په لنډیو کې ښځو د پښتني ټولنې کمزورې اقتصادي حالت ډېر ښه څرګند کړی دی. نوکري او مسافري چې دواړه سره ترلې دي او دې دواړو خواو چې ښځې ځوروي دي نو بیا یې دا درد په لنډیو کې داسې بیان کړی دی:

په تا به کوم وطن ابـاد وي
زه د بېلتون په تروړمې کې ناسته یمه

نیستي پېغور نه دی جانانه
زه د چربانګ میچنه ستا لپاره کړمه

سبا مې بیا د کډې وار دی
په سر پنډونه چلوم په زړه غمونه

خدایه د قطر بازار وران کړې
په شتو مېړو کې جونې کونډې ناستې دینه

مسافري په بې غمۍ کړه
ترله دې خپله په نامه دې ناسته یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

لنډۍ د منظومو شفاهي ادبياتو يو مشهور ډول دی چې ويونکي يې معلوم نه دي او د ټول ولس ګډ مال دی. لنډۍ د شفاهي ادبياتو په عامو سندرو کې راځي چې د ښځو برخه پکې ډېره زياته ده. لنډۍ دوې مسرې لري چې لومړۍ يې لنډه نهه سيلابه او دويمه يې اوږده ديارلس سيلابه ده.

په لنډيو کې ټول پښتانه او په ټېره بيا ښځې د خپل ژوندانه خوښۍ او ناخوالې يو په يو بيانوي.

د ژوندانه ډېر هغه اړخونه چې دوی يې د ويلو حق نه لري په لنډيو کې څرګندوي. لنډۍ د ښځو لپاره د تسکين يوه وسيله ده چې خپل دردونه، احساسات او خپلې غوښتنې پکې بيانوي. په عامه توګه د ټولو پښتنو ژوند او په ټېره د ښځو د ژوندانه داسې کوم اړخ به نه وي چې په لنډيو کې نه وي څرګند شوی. انساني مينه، خواري، مزدوري، مسافري او جلا وطني، پښتني عنعنات، وطن ساتنه او مېرانه، تاريخ او تاريخي پېښې، ګودر او ريبار، ستاينه او غندنه او د ورځني ژوند ټول اړخونه د لنډيو موضوعات دي.

لنډۍ په مختلفو سيمو کې په مختلفو نومونو يادېږي، لکه: لنډۍ، ټپه، مسره، ټيکۍ او نور... لنډۍ د ښځو د اظهار يوازينۍ وسيله ده چې خپل هر ډول احساسات پکې په رښتيني ډول څرګندوي او وجه يې داده چې د لنډيو ويونکي معلوم نه وي او د چا نوم ورپورې ترلې نه وي.

د لنډيو له مطالعې څخه زمونږ د خلکو ژوند، تاريخ، دود دستور، کړه وړه او د دوی ځانګړي خصوصيات څرګندېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کړونکي دې متن په وار سره ولولي او بیا دې په متن کې راغلي یوه، یوه لنډۍ معنا کړي.

۲ـ زده کړونکي دې د لاندې لنډیو مفهوم په خپلو کتابچو کې وليکي او بیا دې یې په ټولګي کې واوروي.

کـه پـه مـیـونـد کـې شـهـیـد نـه شـوې
خـدایـږو لالـیـه بـې ننګۍ تـه دې ساتینه

د خـپـلـه لاســه مـې پــرې مــړ کـړې
چـې ډزې وشـوې زه پـر بـام دروختمه

زمـــا بـــې بـــې دادا تـــه وایـــه
خـوشـحـالـه نـه یـم لـه نـاکـامـه نـاسـتـه یمه

۳ـ زده کړونکي دې په وار سره یوه یوه لنډۍ له خپله ځانه ووایي، موضوع او مفهوم دې پخپلو خبرو کې څرګند کړي.

۴ـ زده کړونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- لنډۍ د جوړښت له مخې څه ډول شعر دی؟
- لنډۍ په کومو نومونو یادېږي؟
- لنډۍ په کومو سندرو کې راځي؟
- لنډۍ د چا له خوا نه ویل کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ـ په متن کې راغلې لنډې په غور سره ولولئ. په دغو لنډیو کې نومونه، صفتونه او فعلونه په نښه کړئ او په وار سره یې په ټولګي کې ولولئ.

۶ـ زده کوونکي دې په وار سره د لاندې لنډیو مفهوم په خپلو خبرو کې ووایي:

کـــه ســـړنـــي فـصـلـونـه وشـــول
مـاتـه لالـــي د ســره ســالـو ویـلـي دینـه

ســتـرګـې دې وې وتـلـې نـــه وې
چـې پـه مـالـت دې لـویـدم نـه دې لیدمه

فعل هغه کلمه ده چې له دریځ ګونو زمانو څخه په یوه کې د یو کار کېدل څرګند کړي.
لکه: خوړل، تلل، کول، کړل.
زه کتاب لولم، هغه ولاړ، ملالۍ تللې وه.

۷ـ زده کوونکي دې د لنډیو موضوعات ولیکي او ودې وایي چې لنډۍ زموږ د ژوند کوم موضوعات راچاپېروي، بیا دې په وار سره په ټولګي کې ولولي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپل کور کې، له خلکو، (په تېره بیا د کور له ښځو او نجونو څخه) یا له خپل شاوخوا خلکو څخه لس لس لنډۍ چې په دې لوست کې نه وي راغلي، په خپلو کتابچو کې وليکي او بله ورځ دې یې په ټولګي کې واوروي او خبرې دې پرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افضل خان او تاریخ مرصع

په پښتو ادب کې ډېر نومیالي لیکوال تېر شوي چې پخپل وخت کې یې د قدر وړ اثار لیکلي او پښتو ادب یې پخپلو لیکنو بډای کړی دی.

له روښانیانو نیولی، بیا تر خوشحال کورنۍ پورې او له دوی راوروسته د پښتو ادب ځلانده او غني دوره ده چې پښتو ادب پرې ښکلی دی.

د ختکو په کورنۍ کې ډېر شاعران او لیکوال تېر شوي چې موږ ته یې د شعرونو دیوانونه او نور کتابونه پاتې دي. ددغې کورنۍ یو نومیالی لیکوال افضل خان ختک دی چې پخپله یې هم پښتو ادب ته د پاملرنې وړ خدمتونه کړي دي او نور یې هم دغه خدمت ته هڅولي دي. په دې درس کې به تاسو د افضل خان ختک په اړه یو لړ معلومات و لولئ چې دده له ژوند او کتابونو سره اشنا شئ.

_ د تاریخ مرصع په اړه مو دمخه څه معلومات درلودل؟

_ د افضل خان نوم مو دمخه اوربدلی و، که مو اوربدلی وي په اړه یې خبرې وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ مرصع په پښتنو تاریخونو کې یو مهم او ارزښتمن کتاب دی چې افضل خان خټک لیکلی دی. تاریخ مرصع په پښتو ژبه کې د پښتنو لومړنی تاریخ دی چې د پښتنو په اړه ډېر معلومات لري. افضل خان خټک په ۱۰۷۵هـ کې پیدا شوی او تر ۱۱۶۱ یا ۱۱۶۴ پورې یې ژوند اټکل شوی دی.

افضل خان خټک د اشرف خان هجري زوی او د خوشحال خان خټک لمسی دی. له کوچنیوالي نه هوښیار او بیدار و. خوشحال خان هم پخپله کورنۍ کې ده ته زیاته پاملرنه کوله او زیاته هیله یې ورته لرله. دی هم له خپل نیکه سره په ځینو سفرونو او کله کله د ښکار کولو په وخت کې ملګری و. خوشحال خان په خپل ژوند کې د قوم مشري دده پلار اشرف خان هجري ته وسپارله، خو اشرف خان د خپل ورور بهرام په اختلاف کې د مغلو د حکومت په لاس کې ولوېد او هند ته زنداني ولېږل شو چې له څوارلس کاله زندان نه وروسته په هند کې مړ شو.

کله چې اشرف خان هجري د بهرام خان په لمسه د اورنګ زیب حکومت بندي کړ، نو بهرام خان د قوم د مشرتابه واګې پخپل لاس کې واخیستلې او د خوشحال خان له خوا هم مشري افضل خان ته وسپارله شوه.

د بهرام خان تر مړینې وروسته افضل خان په مستقله توګه د خپل قوم سردار شو. ویل کېږي چې یو شپېته کاله یې د خپل قوم مشري وکړه.

افضل خان د قوم د مشرۍ تر څنګه پښتو ادب ته هم ډېر خدمتونه وکړل. ښه شاعر و او په تاریخ لیکلو کې یې لوی لاس درلود. همدارنګه یو ښه ژباړونکی و. د شعرونو دیوان یې نه دی راپاتې.

د افضل خان خټک له مهمو اثارو څخه یو هم (تاریخ مرصع) دی چې قلمي نسخې یې په (برټش) موزیم، هند، بنګال او لاهور کې شته.

د تاریخ مرصع په لومړۍ برخه کې د ملک کالوت او خالد بن ولید بیان راغلی دی.

ورپسې او وه دفترونه په دې ډول دي:

لومړی دفتر د لودي پاچاهانو حالات بیانوي. دویم دفتر د سوریانو په باره کې دی. دریم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفتر د لويو پښتنو اميرانو حالات بيانوي. څلورم دفتر د کابل د صوبې پېښې څرګندوي.

په پنځم دفتر کې د سړيني او نورو پښتنو قومونو بيان راغلی دی. شپږم دفتر د ختکو د قبيلې حالات او جګړې بيانوي.

په اووم دفتر کې د پښتنو بزرګانو حالات او د ژوند پېښې راغلي دي. د کتاب په وروستۍ برخه کې د پښتني قبايلو نسب نامه راوړل شوې ده.

افضل خان خټک ددې تاريخ په ليکلو کې د خواجه نعمت الله هروي د (مخزن افغاني)، د اخوند درويزه له (مخزن الاسلام) او (تذکرة الابرار) او د خوشحال خان له (بياض) څخه ګټه اخيستې ده.

په دې کتاب کې تر ۱۱۳۶هـ.ق. پورې واقعات راغلي دي خو دا نه ده معلومه چې د کتاب ليکل يې څه وخت پيل کړي او په کومه نېټه پای ته رسېدلی دی. تاريخ مرصع په اصل کې د پښتنو تاريخ دی خو په ضمني توګه د هندوستان د تاريخ پېښې هم پکې راغلي دي.

د تاريخ مرصع نثر روان او ساده دی. جملې يې لنډې لنډې او د پښتو سوچه کلمات استعمالوي. ځای، ځای پښتو متلونه هم راوړي.

مشکل او نا اشنا لغتونه نه کاروي. ځينې ترکيبونه يې فارسي ژبې ته نژدې دي. تاريخ مرصع د دوست محمد کامل مومند په مقابله او سريزه په ۱۹۷۴م. کال کې خپور شو. د کتاب د مخونو شمېر (۱۴۹۴) ته رسېږي.

د تاريخ مرصع د نثر نمونه:

((ميرزا بله چاره بې له صلحې ونه ليدله، سړي يې تر ميان کړل. راويې بلل، ورته يې وويل چې د ما کور هم ستاسو خپل دی. پښتانه چې په عقل کې سازوار دي ځکه ډېر نفساني دي. په لږ سود مقصود ډېر بهبود تر شا کوي. ورځ په ورځ به مشرانو د اولس ميرزا ته امد و رفت کاوه.

يوه ورځ اته سوه کسه راغلل. همګي بې وسلې. يو محمود د محمد چغرزي زوی يو چړوکی په خپله بډه وړې وه. چې ورننوتل، د ميرزا بدنيتي يې وليدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دې نورو ته وويې چې که وايئ زه به مرزا مړ کړم. هغو نورو منع کړ چې حق د نمک ساتلی بويه. موږه سره بد نه کا. دا چوغلي جنکا گيگيانې کړې وه چې دا هومره ډېر به يو ځلې بيا نه مومي او له دوي نه په نيکۍ خلاص نه شي. دا وخت غنيمت وګڼه او واړه قتل کا.

واړه يې وترل، يو، يو يې وواژه. په هغه وخت يو لوی ملک د ميرزا په خدمت عرض وکړو چې دوه التماس ارزو لرم که قبول شي. ميرزا وويې چې قبول دي.

اول يې دا وويې چې وراره زما ملک احمد له قيده خلاص شي. بادشاه يې خون معاف که، بل دې د اولس اطفال بند نه شي. بلکه پرېږدئ هر لور ته چې درومي. ميرزا قبول کړ. ميرزا ورته وويې چې زما گمان وو چې ته به خپل سر غواړې يا به دوه کسه ځوانان غواړې. ده ورته وويې چې تر دې واړو زه ښه نه يم. که دومره عزيزان مې مري زه به خپل ځان په څه خلاصوم.))

د افضل خان بل کتاب علم خانه دانش دی چې د فارسي د کليله و دمنه پښتو ژباړه ده. د لرغوني هند د غه کتاب (پنج تنترا) په (۲۰۰ ق.م.) کې حکيم بيديايي په سنسکرت کې ليکلی و. دغه کتاب بيا وروسته په پهلوي، عربي، يوناني، فارسي ژبو وژباړل شو. د اکبر پاچا په وخت کې د هغه يو درباري عالم او ليکوال ابو الفضل دا کيسې په فارسي ژبه د (عيار دانش) په نوم ترجمه کړې وې، چې افضل خان له همدې کتاب څخه د (علم خانه دانش) په نوم پښتو ته وژباړه.

افضل خان د دې کتاب د ژباړلو په هکله وايي: ((وپوهېږه چې کتاب د کليله او دمنه جمع کړی د هندوستان دانشورانو دی. همېشه به دانايان او عالمان د يونان د فارس په دا فکر وو چې يو کتاب د ملوکانو د پاره دستور العمل سازکړو. اما دا له چا ونه شوه. مګر د هندوستان په حکيمانو ساز شو، لوی لوی خبرې يې د بې زبانو جمع کړې. فايدې يې پکې ملاحظه کړې، حکمت د پند خبرې د حکيمانو چې دارو د رنځ د نادانانو او غذا و قوت د دانايانو دی. په طريق د هزل مطايبې دواړه چې دانايان يې د حکمت نه پند واخلي او نادانان يې رغبت قصې او افسانې ته وکړي. په رغبت په محبت يې ياد کړي او خورد

(c) ketabton.com: The Digital Library

سالان چې په مقام د تحصیل د علم کې دي په ګومان د علم و پند یادول په دوی ګران نه دي چې په عقل تجربه ورسي. هغه چې دوی یاد کړي دي له هغو افسانو نه نفع واخلي او د عقل په خزانه دانشمند شي.

مثال ددې خبرې داسې دی لکه څوک په هلکوالۍ کم عقل وي او په مرتبه د عقل ورسي، په خزانه پښې شي چې پلار دده د پاره ساتلی وي. په هغه توانګر شي او باقي عمر له تړده فارغ شي.))

افضل خان خټک سربېره پر دې چې یو مورخ، ژباړونکی، لیکوال او شاعر و د خپلې ژبې سره یې ډېره مینه درلوده او د همدغې مینې پر بنسټ یې پښتو ژبې او ادب ته ډېر خدمتونه وکړل.

دده پر غوښتنه له عربي او فارسي څخه پښتو ژبې ته ډېر کتابونه وژباړل شول، لکه: د ګوهر خان خټک (قلب السیر) د محمد مظفر تاریخ اعثم کوفي او د عبدالحلیم اختیارات بدیعي. د فرهنګي زیرمو د غني کولو او خوندي کولو لپاره یې هم کاتبانو ته دنده وسپارله چې د پښتو اثارو څخه څو نقلونه ولیکي. همدارنګه د خپل نیکه خوشحال خان خټک خواره واره اثار یې راټول او ترتیب کړل.

د خوشحال خان د کلیاتو او نورو اثارو یې څو، څو نسخې ترتیب کړې، افضل خان پخپله هم کتابونه ژباړل او نور یې هم هڅول چې د پښتو ژبې د بډایتوب په کار کې ونډه واخلي.

د افضل خان خټک نثر د خوشحال خان خټک او عبدالقادر خان خټک له نثر نه وروسته د خپل وخت یو ښه او غوره نثر ګڼل شوی دی. د تاریخ مرصع نثر تاریخي نثر دی او د علم خانه دانش نثر قصه یي نثر دی. لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه د افضل خان خټک د نثر جملې او ترکیبونه اسان او روان دي. وړې او لنډې جملې کاروي چې مطلب ترینه په اسانۍ اخیستل کېږي خو دغه نثر د هندي او فارسي ځانګړي اصطلاحات او کلمات ډېر لري.

د نثر ادبي ښکلا یې کمه ده او ادبي ارزښت یې لږ دی. یوازې د پښتو په تاریخي نثرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د پاملرنې او مطالعې وړ نثر دی ځکه چې د پښتنو لومړنی موجود تاریخ دی. د تاریخ مرصع په نثر لیکنه کې افضل خان د خوشحال خان خټک د نثر لیکنې د سبک پیروي کړې ده.

د خوشحال خان بیاض یې هم کټ مټ په تاریخ مرصع کې را اخیستی دی.

افضل خان خټک شعرونه هم ویل خو د شعرونو د دیوان څرک یې تراوسه نه دی لګېدلی. د افضل خان د شعرونو یوه نمونه په تاریخ مرصع کې او بله په علم خانه دانش کې راغلې ده:

کاروبار مو همګي راته عیان دی
و عیان ته څه حاجت د بل بیان دی
سیلابونه د خلاف شول و بله جمع
بیا لنډی د آب سیند غوندې روان دی
آئینه چې له زنګاره مصفي وي
که زنګي مخ په کافورو نمایان دی
(له تاریخ مرصع څخه)

صورت مې هر څو که ډېر زبون دی
که مې د ځمکې د لاندې یون دی
زه به په لوري د اشنا خوځم
که یون مې هر څو په شواخون دی
(له عیار دانش څخه)

د متن لنډیز:

افضل خان خټک د خټکو د کورنۍ یو روښانه ستوری و. د اشرف خان هجري زوی او د خوشحال خان خټک لمسی دی. په ۱۰۷۵هـ کې زېږېدلی او تر ۱۱۶۱ یا ۱۱۶۴هـ پورې ژوندی و. دی له خپل پلار نه وروسته د قوم مشر او سردار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشهور اثار يې (تاريخ مرصع) او (علم خانه دانش) دي. تاريخ مرصع د پښتنو يو لوی او جامع تاريخ دی چې د لوديانو، سوريانو، ختکو، پښتنو اميرانو او پښتنو بزرګانو احوال پکې راغلی دی. د هندوستان د مغليه حکمرانې کورنۍ احوال او پېښې پکې هم راغلي دي.

په تاريخ مرصع کې تر ۱۱۳۶هـ. پورې حالات او پېښې راغلي دي. د افضل خان ختک بل کتاب علم خانه دانش د فارسي (عيار دانش) پښتو ترجمه ده چې په ۱۱۲۸هـ. کې يې کار تمام شوی دی.

د افضل خان د شعر دوې نمونې تر موږه رارسېدلي او نور شعرونه يې لاس ته نه دي راغلي. د افضل خان ختک په غوښتنه ډېر کتابونه له عربي او فارسي څخه ژباړل شوي دي. د خپل نيکه اثار يې راټول او ترتيب کړي دي. د خوشحال کليات او نور اثار يې د کاتبانو په واسطه په څو څو نسخو کې ترتيب کړي دي. په پښتو ژبه او ادب کې ددغه مورخ، ژباړونکي، ليکوال او شاعر کارونه د ستاينې وړ دي.

څرګندونه

ميرزا الغ بيګ د تيمور له کورنۍ څخه د کابل والي و. (۸۵۶هـ.)

فعاليتونه

۱ـ زه کوونکي دې يو ځل متن له ځان سره ولولي او بيا دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- افضل خان له کومې کورنۍ څخه و پلار او نيکه يې څوک و؟
- افضل خان د کومو آثارو خاوند دی نومونه يې واخلئ؟
- د افضل خان په کورنۍ کې کوم شاعران پېژنئ نومونه يې واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د افضل خان له پلار سره څوک مخالف و او څه يې ورسره وکړل؟

۲ـ زده کوونکي دې د تاريخ مرصع د نثر نمونه په وار سره په ټولګي کې په لوړ غږ ولولي او بيا دې د متن مفهوم په خپلو خبرو کې وړاندې کړي.

۳ـ زده کوونکي دې د افضل خان مهم ادبي خدمتونه په يو پراګراف کې وليکي او بيا دې يې په ټولګي کې په وار سره ولولي.

۴ـ زده کوونکي دې په وار سره لاندې پوښتنې ځواب کړي:
- تاريخ مرصع له څه شي نه بحث کوي؟
- افضل خان د تاريخ مرصع په ليکلو کې له کومو کتابونو څخه ګټه اخيستې وه؟

۵ـ زده کوونکي دې ځواب ووايي چې د افضل خان په غوښتنه کوم کتابونه ترجمه شوي دي؟

۶ـ د علم خانه دانش له ترجمې څخه د افضل خان مقصد څه و؟

۷ـ زده کوونکي دې په وار سره د افضل خان خټک د شعرونو نمونې په لوړ غږ ولولي او مفهوم دې په خپلو خبرو کې بيان کړي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې هر يو پخپله خوښه د خټکو د کورنۍ په يو تن شاعر څو کربنې وليکي او په بله ورځ دې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو لنډه کیسه

د شلمې پېړۍ په رانګ سره د شعر تر څنګه د پښتو نثر لمن هم پراخه شوه، له پېچلتیا او تکلف نه وو وت او د روانۍ، سادګۍ او عام فهمۍ لاره یې غوره کړه. له زړو شکلونو سربېره یې نوي شکلونه هم پخپله غېړه کې ومنل. په دې معنا چې نوي صنفونه او ډولونه یې خپل کړل.

لکه لنډه کیسه، ناول، ډرامه، سفرنامه، تکل او نور ډولونه په پښتو ادب کې رواج شول، وده یې وکړه او پراختیا یې وموندله. ددغو نویو ادبي ژانرونو هر یو یې ځانته ځانګړی جوړښت او چوکاټ لري چې د خپلو ځانګړتیاو له مخې یو له بله جلا کېږي.

موږ په دې لوست کې د لنډې کیسې په تاریخچه باندې لنډې خبرې لرو او د لنډې کیسې د جوړښت او توکو په اړه به هم یو لړ لنډ معلومات ولرو چې تاسې ته بې ګټې نه دي.

_ لنډه کیسه څه ته وایي؟

_ په پښتو کې کوم لیکوال پېژنئ چې لنډې کیسې یې لیکلې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کومې ورځې نه چې د انسان ژوند پیل شوی دی، له هماغې ورځې نه کیسې هم پیل شوي دي. پخپله انسان د ژوند په اوږدو کې کیسې جوړې کړي دي او د ژوند په زړه پورې پېښې یې د کیسو په بڼه یو بل ته لېږدولي دي. دا کیسې په لومړي سر کې په شفاهي ډول وې خو کله چې خط منځته راغی نو ددغو کیسو یو څه برخه په لیکلي بڼه خوندي شوه. د نننۍ لنډې کیسې فکر هم له دغو فولکلوري کیسو نه رازېږېدلی دی. نننۍ لنډه کیسه چې په انګرېزي ژبه کې ورته شارټ ستوري (Short Story) وایي لومړی په غرب کې رامنځته شوه.

په ختیځ کې کیسه ډېره زړه او لرغونې ده. د اریایي کیسو مجموعه د (پنجا تنترا) په نامه له دوه زرو کلونو نه زیات عمر لري. دا کتاب د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوی چې په پښتو کې یې ژباړه دري سوه کاله د مخه افضل خان ختک کړې ده. له لسمې پېړۍ نه راوروسته په پښتو کې د احمد اخوند لنډ، لنډ حکایتونه هم شته چې اوسنیو لنډو کیسو ته یو څه ورته والی لري؛ خو کومه نننۍ لنډه کیسه چې په غرب کې یې شارټ ستوري بولي په نولسمه پېړۍ کې پیل شوه. لنډه کیسه په اوسنۍ بڼه امریکایي لیکوال اډګارالن پوه پیل کړه او په ۱۸۴۲م. کال کې یې ورته ځانګړي اصول وټاکل. یو بل امریکایي لیکوال او کره کتونکي براندر ماتیوز په (۱۸۸۵م.) کال کې په انګلیسي ژبه کې د لنډې کیسې د نوم وړاندیز وکړ. اډګارالن پوه د لنډې کیسې بنسټګر دی او د لنډې کیسې د پلار لقب یې هم ګټلی دی. لنډه کیسه لکه څنګه چې وویل شول په اروپا کې رامنځته شوه او بیا یې د نړۍ ادبیاتو ته لاره پیدا کړه. له انګرېزي ادب څخه په تقلید په اردو ادب کې لنډه کیسه پیل شوه.

په اردو ادب کې لنډه کیسه په (۱۹۰۴ _ ۱۹۰۷م.) کلونو کې رامنځته شوه او لومړنی لیکوال چې په دغو کلونو کې یې لنډه کیسه ولیکله پریم چند نومېده. د اردو ادب په تقلید په پښتو ادب کې هم لنډه کیسه د لومړي ځل لپاره د شلمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې پیل شوه. په پښتو ادب کې سید راحت زاخیلی لومړنی لیکوال و چې په (۱۹۱۷م.) کال کې یې د (کونډې نجلۍ) په نوم لنډه کیسه ولیکله. په کوزه پښتونخوا کې په راحت پسې بیا نورو لیکوالو د لنډې کیسې په لیکلو پیل وکړ چې د ادب دغه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې وده او پراختيا ورکړه. په راحت پسې چې کوم ليکوالان د لنډې کيسې په ميدان کې ځلېدلي دي، نومونه يې په دې ډول دي: ميا ازاد گل، سربلند خان، سمندر خان سمندر، عبدالروف نوشهروي، ماستر عبدالکريم، مير مهدي شاه مهدي، قلندر مومند، گل افضل خان، زيتون بانو او نور...

په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره لنډه کيسه پوهاند عبدالحی حبيبي وليکله او په (۱۳۱۵هـ.ل.) کال يې د (طلوع افغان) په اخبار کې خپره کړه. دا کيسه (توريالی پښتنه) نومېده. له پوهاند عبدالحی حبيبي نه وروسته يو شمېر نورو ليکوالو لنډې کيسې وليکلې او دغه نوي ادبي ژانر ته يې وده ورکړه. هغو ليکوالو چې په دې برخه کې کار کړی دی نومونه يې په دې ډول دي: موسی شفيق، ميرا جان سيال، گلاب ننگرهاری، حبيب الله تړی، ابراهيم عطايي، محمد دين ژواک، امين افغانپور، عبدالمنان ملگری، مصطفی جهاد او نور...

د لنډې کيسې ځانگړتياوې:

اډگار الن پوه د لنډې کيسې تعريف داسې کوي: لنډه کيسه هغه نثري داستان دی چې لنډ وي او له نيم ساعت څخه تر دو و ساعتونو پورې ختم شي.

خو دا بايد په ياد ولرو چې اوس لنډې کيسې له دې څخه هم لنډې شوي دي. د لنډې کيسې د رامنځته کېدو علت په دې کې دی چې څومره بشري ټولنې د پرمختگ پړاو ونه وهل، نو په هماغه اندازه د انسانانو ضرورتونه او مصروفيتونه هم زياتېدل. لکه څنگه چې پرونی انسان ډېر وزگار وختونه درلودل او اوږده اوږده رومانونه به يې لوستل، نو ننني انسان د ډېر مصروفيت له کبله داکار نه شو کولای، خو ددې اړتيا يې هم محسوسوله چې خپله ادبي تنده ماته کړي. همدغه وجه وه چې اوږدو کيسو خپل ځای لنډو کيسو ته پرېښود او په داستاني ادب کې لنډه کيسه خلکو ته ډېره په زړه پورې شوه. د لنډې کيسې يو ستر ارزښت د هغې لنډون دی چې د وخت د ضايع کېدو مخه نيسي.

لنډه کيسه يو پلاټ يا خاکه لري. په پلاټ کې د پېښو تسلسل راغلی وي يا په بله وينا پيل، منځ او پای پکې وي. چې په پای کې د غوټې خلاصېدلو ته رسېږي. د لنډې کيسې پلاټ کېدای شي کوميډي، تراژيدي، رومانتيک او يا طنز ډوله وي. دکيسې روايت به

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا په لومړي شخص يا دريم شخص باندې ولاړ وي.

د لنډې کيسې د جوړښت توکي په دې ډول دي: ۱ـ پېښه، ۲ـ پلاټ يا طرحه، ۳ـ د کيسې پيلامه، ۴ـ کرکټرونه، ۵ـ تلوسه يا ذهني هڅونه، ۶ـ مکالمې (خبرې اترې) او د مناظرو انځور، ۷ـ تخيل، ۸ـ د کيسې اوج يا لوړ ټکی، ۹ـ د کيسې پايله.

هره لنډه کيسه پر يوه پېښه باندې ولاړه وي که پېښه نه وي نو کيسه نه رامنځته کېږي. طرحه د پېښو تسلسل دی چې ټوله کيسه په دغه طرحه يا خاکه باندې درېږي. پيلامه هم په کيسه کې مهمه ده او دا په ليکوال پورې اړه لري چې کيسه له کوم ځای نه پيلوي او څنګه يې پيلوي. دا په ليکوال پورې اړه لري چې کيسه له منځه پيلوي، له پېښې او يا له پايه خو مهمه داده چې منطقي تسلسل او ارتباط يې وساتي او داسې يې پيل کړي چې لوستونکي جذب کړي.

تلوسه هم د ليکوال په مهارت پورې اړه لري چې څنګه ليکوال د پېښو جزئيات داسې ترتيب کړي چې لوستونکي ته تلوسه پيدا شي چې اوس به څه کېږي؟ کرکټرونه د کيسې شخصيتونه دي چې په کيسه کې خوځېږي او عمل کوي. په دې کرکټرونو کې يو اصلي کرکټر يا هيرو وي چې پېښې په هغه پورې اړه لري او له مختلفو حالتونو او پراوونو سره مخامخ کېږي. مکالمې يا خبرې اترې په کيسه کې مهمې دي. د کرکټرونو حالات او د پېښو تداوم تري څرګندېږي او کيسه مخ پر وړاندې بيايي او خوندي هم زياتوي. منظر کشي هم ضروري ده، ځکه چې يوه پېښه په يو ټاکلي ځای او ټاکلي وخت کې رامنځته کېږي او ليکوال دې ته اړ دی چې د مکان يا ځای سم انځور وړاندې کړي.

له تخيل نه په کيسه کې د پېښو په انځورولو او د کيسې په بيان کې کار اخيستل کېږي. ليکوال د تخيل په ځواک سره د کيسې پېښې او بيان لوستونکو ته داسې وړاندې کوي چې کټ مټ ورته ريښتيني ښکاري.

د کيسې لوړ ټکی هغه دی چې ستونزې او ربړې د حل پراو ته رسي او غوټې يو په بل پسې خلاصېږي. دلته کيسه د منطقي پايلې په لور روانېږي. د کيسې پای هغه پراو دی چې دلته بايد د ليکوال هغه ټول مقصد، اغېز يا پيغام چې ليکوال يې لوستونکي ته رسول غواړي، بشپړ شي او بيا لوستونکي پخپله قضاوت وکړي نه دا چې پايله بربنډه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړي سرکې چې لنډه کیسه رامنځته شوه نو موضوعات یې محدود و و، په دې معنا چې یا به کیسه کرداري وه یعنې دا چې ټوله کیسه به د یو مخصوص کردار یا کرکټر په شاوخوا چورلېده. یا به د پېښې کیسه وه چې په دې کې به د کیسې اصلي موضوع پېښه وه. همدارنګه به یا د چاپېریال کیسه وه چې د چاپېریال ژوره عکاسي به په الفاظو کې کېدله او پېښه او کرکټر به یکې ضمني و و خو په راوروسته وختونو کې د کیسو د موضوعاتو لمن پراخه شوه او د ژوندانه له ټولو موضوعاتو نه یې غېره راچاپېره کړه.

د متن لنډیز:

لنډه کیسه په غرب کې په نولسمه پېړۍ کې رامنځته شوه. امریکایي لیکوال اډګارالن پوه لومړنی لیکوال و چې لنډې کیسې یې ولیکلې او هم یې د لنډې کیسې اصول ولیکل. په شلمه پېړۍ کې لنډه کیسه اردو ادب ته راننوتله او لومړنی لیکوال یې منشي پریم چند و چې لنډه کیسه یې ولیکله. د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې په پښتو ادب کې لنډه کیسه پیل شوه. لومړنی لیکوال راحت زاخیلی و چې په (۱۹۱۷م) کال کې یې د کوندې نجلۍ په نوم لنډه کیسه ولیکله.

لنډه کیسه هغه نثري داستان دی چې لنډ وي او له نیم ساعت څخه تر دو و ساعتونو پورې وخت ونیسي. لنډه کیسه هغه نثري داستان دی چې په هغه کې یو چاپېریال یا یو کردار یا یوه کیسه د نورو کردارونو یا پېښو په مرسته داسې بیان شوي وي چې د مکان او زمان پوره یو والی پکې موجود وي. لنډه کیسه منظمه او مشخصه طرحه لري، یو اصلي کرکټر لري، یوه پېښه لري چې کرکټر په پېښه کې وړاندې کېږي. ټولې برخې یو له بل سره متقابلې اړیکې لري، یوه اغېزه په لوستونکو باندې ښندي، پیل او پای لري او څرګنده ده چې لنډه به وي. لنډه کیسه خپل موضوعات له روان ژوند نه اخلي او د موضوعاتو لمن یې پراخه ده. په پښتو کیسه لیکنې کې یو لړ مشهورې څېرې لرو چې ځینې یې دادي:

راحت زاخیلی، ماسټر عبدالکریم، میر مهدي شاه مهدي، قلندر مومند، موسٰی شفیق، میرا جان سایل، محمد دین ژواک، ګلاب ننګرهاری، امین افغانپور، منان ملګری او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او بيا دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- لومړنۍ پښتو لنډه کيسه چا په کوم وخت او په کوم نامه وليکله؟
- په افغانستان کې لنډه کيسه چا وليکله او په کوم نامه وه؟
- د لنډې کيسې کوم ليکوال پېژنئ نومونه يې واخلئ؟
- لنډه کيسه ولې رامنځته شوه؟

۲ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د متن يوه يوه برخه په لوړ اواز ولولي او بيا دې د لنډې کيسې د جوړښت توکي په کتابچه کې وليکي او په وار سره دې يې په ټولګي کې واوروي.

۳ـ هغه زده کوونکي چې کومه کيسه يې زده وي، نورو ټولګيوالو ته دې يې په شفاهي توګه ووايي نور زده کوونکي دې پرې بحث وکړي.

۴ـ زده کوونکي دې په وار سره د هغو کيسو او ليکوالو نومونه واخلي چې دوی لوستي دي او دکيسې لنډيز دې پخپلو خبرو کې وړاندې کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ د غړو په مرسته يوه موضوع انتخاب کړي او په خپل قلم دې په هغه موضوع باندې يوه لنډه کيسه وليکي او بله ورځ دې يې په ټولګي کې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلیام شکسپیر ۱۵۴۶-۱۶۱۶م.

نړیوال ادبیات په ټوله بشري نړۍ پورې اړه لري. په دې ادبیاتو کې له بېلابېلو هېوادونو څخه مشهورې څېرې او د دوی اثار، سبکونه او ادبي مکتبونه څېړل کېږي.

په تېره بیا هغه لیکوال او اثار چې نړیوال شهرت یې موندلی او د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي. د خپلې ژبې او ادب تر څنګه د نړیوالو ادبیاتو مطالعه هم اړینه ده ځکه چې ادبیات سرحدونه نه پېژني او یو له بل نه اغېز او اخیستنې قبلوي. لکه څنګه چې څرګنده ده نوي ادبي ژانرونه له نړیوالو ادبیاتو څخه زموږ ژبې او ادب ته راغلي دي. په پښتو ژبه کې هم د نړیوالو ادبیاتو ژباړې شوي دي. همدغه ژباړه ده چې د نورو ادبیاتو سره زموږ اړیکې پیدا کوي، خو څومره چې لازمه ده هغومره د نړیوالو ادبیاتو ژباړه په پښتو کې نه ده شوې. موږ دې ته اړ یو چې د نړۍ له ادبیاتو خبر شو او د نړیوالو ادیبانو له تجربو څخه ګټه واخلو چې ددې ګټه د ادب په غنیتوب کې بې اغېزې نه ده.

_ تاسې د نړیوالو ادبیاتو کومه څېره پېژنئ؟

_ تراوسه مو د نړۍ د ادبیاتو کومه نمونه لوستې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ نامتو لیکوال او شاعر شکسپیر د بریتانیا د سترانفورد په ښار کې په یوه بزګره کورنۍ کې سترګې وغړولې. د ژوندانه په اړه یې ډېر معلومات په لاس کې نشته. په خپل پلرني کلي کې ښوونځي ته لاړ او لاتیني او یوناني ژبې یې څه ناڅه زده کړې.

څه موده یې د ښوونکي دنده ترسره کړه. شکسپیر په (۱۵۸۲م.) کال کې چې اتلس کلن و، له یوې ښځې سره یې واده وکړ چې تر ده اته کاله مشره وه. له تیاتر سره یې زیاته مینه وه او د همدغې مینې له کبله په (۱۵۸۵م.) کال لندن ته لاړ. په (۱۵۹۴م.) کال کې د تیاتر له یوې مشهورې ډلې سره یوځای شو چې د (لردچمبرلین) په نوم یادېده. زیاتې پیسې لاس ته ورغلې او په (۱۵۹۷م.) کال کې یې د سترانفورد په ښار کې ډېرې ځمکې واخیستلې.

په (۱۵۹۹م.) کال کې د نوي جوړ شوي کلوپ برخه وال شو چې د (لرد چمبرلین) بنسټ و. دغه تیاتر بیا د خپل وخت مشهور تیاتر شو. په همدې تیاتر کې د شکسپیر ډېرې ډرامې وښودل شوې او ډېره ګټه یې ترلاسه کړه.

شکسپیر په (۱۵۹۲م.) کال کې مشهور ډرامه لیکونکی او لوبغاړی شو. خپل لومړني اثار یې چې چاپ کړل، هغه منظوم داستانونه وو.

تر دې وروسته شکسپیر تر (۱۶۱۳م.) پورې په سترانفوردکې پاتې شو. دلته یې یو لړ نندارې ولیکلې چې د نړۍ مشهورې ډرامې شوې. د شکسپیر لومړني اثار تاریخي نندارې وې، لکه: شپږم هانري، دریم ریچارد او دویم ریچارد.

لومړنۍ مشهوره تراژیدي یې (رومیو او ژولیت) وه، دغه داستان چې د یوې غمجنې مینې بیان کوي په ټوله نړۍ کې مشهور شو. په دې داستان کې له دوه دښمنو کورنیو څخه دوو مینانو مینه ښودل کېږي چې د دوی په مړینه پای ته رسېږي.

شکسپیر یو لړ کومیډي ډرامې هم لیکلي دي چې ډېرې مشهورې دي، لکه: تېروتنې، دوه نجیب زاده، د مینې بېهوده رنځ او نورې...

شکسپیر له (۱۶۰۰م.) نه تر (۱۶۰۹م.) کلونو پورې مشهورې تراژیدي نندارې ولیکلې چې په لاندې ډول دي:

(هملت) یې په (۱۶۰۱م.) کال کې ولیکله. د شکسپیر دا ننداره د نړۍ له مشهورو نندارو څخه یوه ده. په دې ډرامه کې (هملت) د ډنمارک شهزاده د خپل پلار له مرګه وروسته د سودا په ناروغۍ اخته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ګومان کوي چې کاکا يې چې دده له مور سره واده کړی پاچا شوی دی او دده د پلار قاتل دی. (هملت) د انتقام په فکر کې لوېږي.

په اندېښنو کې وي او له يو ډول تردید سره مخامخ کېږي. ډېر فکر کوي خو نه شي کولای چې عمل وکړي. د ډرامې راز دده په عجیبه طبیعت او اندېښنه کې دی او د څنګه او ولې پوښتنې دي چې دی ورسره مخامخوي.

(اتللو): دا ډرامه يې په (۱۶۰۴م.) کال کې ولیکله. د اتللو د ژوند داستان ښکاره کوي چې يو پوځي قوماندان دی او ښځه يې (دزدمونا) نومېږي. اتللو يو عسکر (کاسیو) ته يوه رتبه ورکوي يو بل سپاهي (یاګو) چې ډېر شریر انسان دی، کینه اخلي. اتللو ته په دروغو وايي چې (کاسیو) او ستا مېرمن نامشروع اړیکې لري. اتللو په غوصه کېږي او خپله مېرمن (دزدمونا) وژني. کله چې پخپله اشتباه پوهېږي نو له خلکو نه غوښتنه کوي چې د بې پامه سخت مین په نوم دې یاد شي.

(مکبث): دا ډرامه يې په (۱۶۰۶م.) کال کې ولیکله. د ډرامې اصلي شخصیت (مکبث) دی چې دري جادوګرې ورته په مرموزه توګه وړاندوینه کوي چې ته به په راتلونکې کې د سکاټلنډ پاچا شې. (مکبث) د پادشاهۍ د لاس ته راوړلو لپاره هلې ځلې پیلوي. د خپلې ښځې په مرسته پادشاه په ناڅوانه توګه وژني. خو په هېڅ وجه د وینې رنګ دده او دده د ښځې له لاسونو څخه نه ځي. په پای کې همدغه وینه د دوی ګرېوان نیسي او سزا مومي.

(انتوني او کلوپاترا) يې په (۱۶۰۷م.) کال کې ولیکله. دا د شکسپیر يوه بله تراژیدي وه چې کیسه يې د روم د سردار انتوني او د مصر د ملکې کلوپاترا په مینه څرخي. له (۱۶۰۰م.) نه تر (۱۶۰۹م.) پورې يې يو لړ طنز ډوله ډرامې هم ولیکلې. وروستۍ نندارې يې دوې کومیډي وې چې د (ژمي داستان) او (توپان) نومېږي. شکسپیر (۳۸) نندارې ولیکلې او په نړۍ کې يې د لوی ډرامه لیکونکي نړیوال شهرت ګټلی دی. دده شعرونه د انګلیسي ژبې په مشهورو شعرونو کې حسابېږي.

شکسپیر د لویو غنایي شاعرانو له ډلې څخه دی. د هغه غزلې چې له (۱۵۹۳م.) نه تر (۱۶۰۱م.) کال پورې يې ویلي دي، د نړۍ له ښکلو غزلو څخه دي. له انسان سره د شکسپیر همدردي ژوره وه او دغه احساس د هغه د ډرامو په اشخاصو کې ځلېده. د هغه شعرونو به د نندارو اشخاصو ته تلپاتې ژوند ورکاوه. دلته د شکسپیر د یوې منظومې پښتو ژباړه د بېلګې په توګه راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې زما محبوبې!

ډېر ځله د خپل بخت له ستم او رسوايۍ نه د خلکو په منځ کې يوازې پر خپلې بېنوايۍ اوښکې څڅوم او د اسمان کانې غوږونه په خپلو بېهوده فريادونو ځوروم. پر خپلې طالع نفرت وايم چې ولې د فلاني غوندې نه يم چې زړه يې زما له زړه نه هيله من دی او يا مې ولې څېره د هغه بل په شان نه ده چې ټولو ته په زړه پورې او د خوښې وړ دی.

په دغه حال کې له ځانه سخت بېزاره کېږم او هغه څه چې لرم يې، په هغه باندې خوشحاله کېږم، خو کله چې ستا په يادکې ولوېږم، نو بېدريغه مې روح لکه د مرغۍ غوندې له توپاني ځمکې نه والوزي او ستا د مينې له يادولو نه يو داسې دولت په لاس راشي چې دغه وخت يې له پادشاهانو سره په بدلېدو راته ننګ درېږي.

هر کله چې د تېرو ورځو ياد د خپلو افکارو په خاموشۍ باندې راچاپېر وينم، نو ډېر څيزونه دي چې د هر يو په غوښتلو زيات رنځېږم. په پای کې ناهيلی شم. پخواني غمونه او ګران ياران چې په يوه بې نښانه شپه کې په مرګ پټ شوي دي، يو ځل بيا زما سترګو ته نېغ ودرېږي او زما سترګې چې په ژړا نه دي اموخته، يو ځل په اوښکو کې ډوبې شي. بيا د عشق په هغو اندېښنو کې ولوېږم چې کلونه پخوا ما له خپله خاطره ايستلي دي.

هغه ستمونه مې چې په تېر وخت کې ليدلي او هېر کړي دي، له سره ورته په ګيلو شم. د تېر وخت يوه يوه شېبه شمارم او هرې يوې ته اوښکې څڅوم، داسې لکه دا دنده چې مې پخوا سرته نه وه رسولې.

خو اې زما مهرباني محبوبې! که په دغه وخت کې تا يادە کړم، نو هر ستم مې چې ايستلی هغه جبران کېږي او ټول غمونه مې پای ته رسي.

***

مرمر او د شهزادګانو مجسمې به له دې قوي شعر نه اوږد ژوند ونه کړي او ستا نوم به په دې کرښو کې د تل لپاره ځلېږي. د هرې تېرې نقش به د زمان ناپاک لاسونه سولوي او د هرې قوي مانۍ بنسټ به په جنګ ويجاړ او له خاورو سره خاورې شي، خو ستا نښان به په دې دفتر کې د جنګ له ګټې او زمان نه خوندي وي.

مرګ او دښمني چې ټول څيزونه د هېرولو څاه ته غورځوي، ستا نوم ته زيان نه شي رسولای. ټول راتلونکي نسلونه چې د نړۍ تر وروستي ساه پورې به په دې جهان کې وي، ستا ستاينه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شوندو لري.

نو ارامه کېنه! د حشر تر ورځې چې بيا له سره ژوند پيلوي. په دې شعر کې به ژوندۍ پاتې وي او د عاشقانو په سترګو او زړونو کې به ځای ولري.

***

لکه څنګه چې بې اختياره څپې د ساحل خوا ته شړل کېږي، زمونږ د عمر شېبې هم د مرګ پر لور منډې وهي. هره شېبه چې د پخوانۍ شېبې ځای نيسي، نو په دې سخت يون او زيار کې هېڅکله ځنډ او پاى نه قبلوي.

نوى زېږېدلى ماشوم چې د روښنايۍ له چينې نه يې ژوند اخيستى، په پرله پسې توګه مخ ته ځي چې بلوغ ته ورسېږي خو ډېر ژر بد زړې تيارې له هغه سره په جګړه پيل کوي چې د ځوانۍ تاج يې له سره وتښتوي.

روزګار د عمر پسرلى په توپاني خزان اخته کوي او د زړورو په ورين تندي ګونځې راپيدا کوي. د طبيعت نادره شيان خپله مړۍ کوي او د مرګ په لور د هستۍ ټول درمندونه لو کوي. خو ته اې زما محبوبې! له هر ډول ضرر نه په امن کې يې ځکه چې د هغه د ستم لاس زما له شعر نه لنډ دى. زما کرښې به تر ډېره تلپاتې وي لکه ستا د ښکلا ستاينه چې تا تلپاتې ساتي.

د متن لنديز:

د نړۍ له نامتو څېرو څخه يو هم ويليام شکسپير دى چې له (۱۵۶۴م.) کال نه تر (۱۶۱۶م.) کال پورې ژوندى و. دى د انګلستان د سترانفورد په ښار کې زېږېدلى و. په ښوونځي کې يې لاتيني او يوناني ژبې زده کړې.

کله چې په (۱۵۸۵م.) کال لنډن ته لاړ نو بيا د تياتر له يوې ډلې سره وترل شو او د نندارو په ليکلو يې پيل وکړ. د نړۍ لوى ډرامه ليکونکى شو او ډرامو يې هم نړيوال شهرت وګاټه.

شکسپير (۳۸) نندارې وليکلې چې په دې ډرامو کې تاريخي، تراژيدي، کوميډي او طنز ډوله نندارې هم وې. د شکسپير ټولې نندارې مشهورې دي خو ډېرې مشهورې يې رومیو او ژوليت، هملت، اتللو، مکبث، انتوني او کلوپاترا او نورې دي.

شکسپير د انګرېزي ژبې وتلى شاعر هم و چې ډېرې نندارې يې منظومې دي. دده غزلونه خورا زيات مشهور دي او په لوړو غنايي اشعارو کې حسابېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د شکسپیر ژباړل شوې منظومه په وار سره ولولي او پر مفهوم دې وغږېږي.

۲ـ زده کوونکي دې د شکسپیر د مشهورو تراژیدیو نومونه واخلي او د هرې نندارې د موضوع لنډیز دې وویایي.

۳ـ د شکسپیر د شعر خوا درنه ده او که د نثر؟ زده کوونکي دې خپل نظر په خو کرښو کې وليکي او په ټولګي کې دې یې ولولي.

۴ـ زده کوونکي دې د شکسپیر د پېژندګلوی په اړه لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- شکسپیر دکوم هېواد و؟
- د شکسپیر ډرامې د مضمون له پلوه په کومو برخو وېشلای شئ؟
- شکسپیر شاعر و که ډرامه لیکونکی؟
- د شکسپیر لومړی تراژیدي څه نوم لري؟
- تاسې ته د شکسپیر په تراژیدیو کې کومه یوه په زړه پورې ده؟

په وار سره خپل نظر ټولګیوالو ته څرګند کړئ.

کورنۍ دنده

په کور کې ټول متن په غور سره ولولئ. له لوستلو وروسته د شکسپیر د ژوند او هنر په اړه خو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ او په بله ورځ یې په پښتو درسي ساعت کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمن سپينه

ښځې د ټولنې نيمه برخه جوړوي او د تاريخ په اوږدو کې له نارينه وو سره څنګ په څنګ د ژوندانه په ښلابښلو ډګرونو کې ځلېدلې دي. زمونږ تاريخونه ددغسې اتلو مېرمنو په کارنامو ډک دي. د دوی اتلولۍ سرښندنې او له ويارې ډکې کارنامې زمونږ د تاريخ برخې دي. کله چې د هېواد تماميت او استقلال ته خطر پېښ شوی، نو دوی د خپلو غازيانو وروڼو په څنګ کې درېدلي دي او تر سنګرونو د دوی مرستندوی شوي دي.

کله کله يې د زلمو د هڅونې او د دوی د احساساتو راپارولو لپاره نارې، لنډۍ او شعرونه هم ويلي دي چې په ډېرو حساسو شېبو کې اغېزمنې واقع شوي دي. په ادب کې د ښځو برخه ډېره درنه ده او بيا په ځانګړې توګه د وطني او ملي شعرونو برخه يې ډېر ارزښتمنه ده، ځکه چې له يوې خوا ادبي رنګ لري او له بلې خوا ملي.

زمونږ په ښځينه شاعرانو کې يوه هم سپينه ده چې په دغه کتار کې راځي او ملي وطني اشعار يې تاريخونو ترمونږه رارسولي دي. دادی په دې لوست کې د مېرمن سپينې په اړه لنډ معلومات لولئ.

_ د سپينې په اړه مو څه اورېدلي يا لوستلي دي؟

_ کومې ښځينه شاعرانې پېژنئ چې هېوادني شعرونه يې ويلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمن سپينه يوه پښتنه شاعره وه چې د وزير يار محمد خان الکوزي د حکومت په وخت کې د هرات په شاوخوا کې اوسېدله. دا پښتنه مېرمن د نور محمد خان الکوزي لور وه. هغه وخت چې ايراني لښکرو په (۱۲۵۵هـ.) کال کې هرات کلابند کړ او د هرات پښتنو له دوی سره په مېړانه مقابله کوله، نو زمونږ دغه پښتنه شاعره ژوندۍ وه. د هرات محاصره يو کال او اته مياشتې اوږده شوه، خو پښتنو ځانونه تسليم نه کړل او هرات يې پرې نه ښود.

په دې جګړو کې د پښتنو سرداران شاه کامران سدوزي او وزير يار محمد خان الکوزی وو. دوی په دې جګړو کې خپل ربښتينی مقاومت څرګند کړ. زمونږ دغه پښتنه شاعره هم په دې ملي جګړو کې ژوندۍ وه او د پښتنو توريالیو د مېړانې په اړه يې د ملي احساساتو ډک شعرونه ويلي دي. له دغو شعرونو څخه د پښتني ښځو حماسي احساسات ښه څرګندېږي. سپينه ددغې کلابندۍ او جګړې په ټولو پېښو ښه خبره وه. ددې له شعرونو څخه څرګندېږي چې دا او ددې کورنۍ په دغه جګړه کې د افغاني اړخ په څنګ کې ولاړه وه.

سپيني ددغې جګړې ټول واقعات پخپلو سترګو ليدلي دي او پخپلو شعرونو کې يې انځور کړي دي. د نومیالي ليکوال او شاعر عبدالرؤف بېنوا د اټکل له مخې سپينه په دغه وخت کې پخه ښځه وه ځکه چې افکار او احساسات يې هم پاخه دي. نو د هرات د کلابندۍ په وخت کې به ددې عمر له ۳۵ نه تر ۴۰ کالو پورې و چې په دې حساب يې د زېږېدو کال د (۱۲۰۰هـ.) په شاوخوا کې اټکل کېدای شي. د سپيني له شعرونو څخه دا هم څرګندېږي چې ددې کورنۍ يا خو د وزير يار محمد خان له کورنۍ سره د خپلوۍ اړيکې درلودې او يا يې ورسره د پېژندګلوۍ اړيکې وې.

دې شاعرې په پښتو ژبه کې مونږ ته يوه مفصله کيسه پرې ايښې ده چې د هرات د محاصرې منظوم تاريخ ګڼل کېږي.

په دې کيسه کې سپينه د خپلو وروڼو مېړانه ستايي او په ساده او سپېځلو الفاظو کې ددې جګړې مختلف مناظر ترسيموي. سپيني دغه پېښې د مثنوي په چوکاټ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راخیستي چې ځینې برخې یې بشپړې نه دي. سپینه ددې مثنوي لومړۍ برخه په حمد او نعت پیل کوي او ورپسې د حضرت محمد (ص) د یارانو ستاینه کوي.

په دویمه برخه کې د پاچا او وزیر ستاینه کوي. په دریمه برخه کې د سدوزو د پاچاهۍ لنډه تاریخي یادونه کوي او په څلورمه برخه کې د کلابندۍ د جګړې حال انځوروي.

دلته موږ له هرې برخې نه ځینې شعرونه غوره کوو:

لومړۍ برخه:

لومړی څښتن د ټول عالم ستایمه — بیا محمد رسول اکرم ستایمه
درود په واړو اصحابانو دې وي — د پاک نبي پر ټښو یارانو دې وي

دویمه برخه:

اوس نو شروع کړم د پاچا په صفت — زموږ شاهزاده دی ننګیالی په غیرت
دی دی ډیوه د سدوزو د تېر — په څرېنو کې نن دی دی لکه لمر
د احمد شاه غازي پښتون له کوره — نن دی کامران شهزاده کښلې توره

دریمه برخه:

راسه چې تاته حکایت کومه — د سدوزو د سلطنت کومه
پخوا تر دې وو د هرات پاچاهان — د سدوزو ذوالفقار زمان خان

څلورمه برخه:

د هرات د کلابندۍ حال

غلیم پر ټښهر بیا هجوم راوړی
مخ ته یې ولاړ دی یار محمد پیاوړی
زموږ پښتانه لکه زمري جنګېږي
ولې د وینو پر حصار بهېږي
هرات په وینو د پښتون شو ګلرنګ
پښتون زخمي دی د غلیم په خدنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يـــار مـحـمـد وايـــي پـښـتـنـو زمـــا زمـــرو
تـولـــه راووځـــــئ وســلـــه دار لـــه کـــورو
پـــه غـلـيـم وکـــــړئ يـــو هـــجـــوم ګـړنـدی
هـــــرات لـــه لاســـه پـــه ژونـــــدون مـــه بـاسـئ
دا خـــو زمـــوږ کـــور دی زمـــوږ وطـــن دينـه
دا زمـــوږ تـاتـوبـی زمـــوږ مـامـن دينـه
کـــفـــن پـــه غـــــاړه دا وطـــــن وســاتـــئ
زمـــوږ د پـلـرو ښـکـلـی مـدفـن وســاتـــئ
دلـتـــه پـــراتـــه دي نـنـګـيـالـي نـيـکـه ګـان
دلـتـــه بـهـيـرې ويـنـــي تـــل د افـغـــان
هـــــرات زمـــــوږ دی زمـــــوږ کـــــور دينـه
زمـــــوږ نـــغـــری دی زمـــــوږ ګـــــور دينـه
دښـمـــــن راغـــلـــی تـــر ديـــوالـــه د کـــور
ولاړ ســـئ دادی د پـښـتـون لـــوی پـيـغـور
کـــامـــران نـــاري کـــړي چـــې پـښـتـون قـامـه
تـــــوره رابـــاســـه مـــــړه پـــر نـنـګـه نـامـه
مـــه بـايـلـه ځـــان اوســـه ولاړ پـــر حـصـار
د پـښـتـانـه پـــر نـنـګـه ځـــان کـــړه ايـثـار
بـويـه غـيـرت چـې مـو نـامـوس خـونـدي سي
نـــوم د پـښـتـون د ولـــس خـــونـــدي سي
زلـمـــو چـــې واورېـــــدې نـــاري غـلـبـلـې
لـــه يـــار مـحـمـده او کـامـرانـــه دلـې
لـــه کـــلا و واتـــــه زمـــريـانـــو پـــه څـېـر
پـــر دښـمـنـانـو يـــې جـــوړ کـــړ لـتـېـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرونه يې غوڅ کړه د دښمن په توره
موريې کړه پر غليمانو بوره
دښمن شو مات راغی دوران د کامران
د يار محمد د بري ستوری ځلان

د متن لنديز:

سپينه د هرات يوه پښتنه شاعره وه. د يار محمد خان الکوزي په وخت کې يې ژوند کاوه. دا د نور محمد خان الکوزي لور وه. کله چې په (۱۲۵۵هـ.) کې ايرانيانو د هرات ښار محاصره کړ او پښتنو دکامران سدوزي او وزيريار محمد خان الکوزي تر مشرۍ لاندې په مېړانه وجنګېدل نو دې شاعرې ددغې جګړې حالات د مثنوي په بڼه چې د پښتو ژبې يوه حماسه ده، انځور کړل. دا حماسه په سلګونو بيتونو کې ويل شوې ده خو موږ ته يې ډېره کمه برخه رارسېدلې ده. د سپينې پښتنې شاعرې حماسي احساسات په دغه حماسه کې ډېر پياوړي دي.

وينا يې د حماست يوه ټوټه ده. د سپينې نور اشعار موږ ته نه دي رارسېدلي. يوازې ددغې منظومې ځنې ټوټې تر موږه رارسېدلي دي. ددې د شعرونو له مضامينو څخه داسې ښکاري چې سپينه يوه عالمه او فاضله ښځه وه او هم د پښتنو په حال او تاريخ خبره مېرمن وه. که څه هم اشعار يې ټول تاريخي دي خو تاريخي پېښې د حماسې په بڼه بيانوي. شعرونه يې روان، خواږه او د پوهېدنې وړ دي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې د درس له لوستلو څخه وروسته لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- سپينې څه وخت او چېرته ژوند کاوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د سپينې شعر په کوم شعري چوکاټ کې ويل شوی او موضوع يې څه ده؟
- تاسې د سپينې د شعر په څېر له کوم بل شعر سره اشنا ياست؟ د شاعر نوم او موضوع يې روښانه کړئ.

۲ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته شعر په لوړ اواز ولولي او مفهوم دې يې پخپلو خبرو کې څرګند کړي.

۳ـ زده کوونکي دې دغه پېښه او د شعر مهم ټکي په څو کرښو کې وليکي او بيا دې يې په ټولګي کې واوروي.

۴ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي:

غليم، هجوم، پياوړی، حصار، تاټوبی، مامن، مدفن، ايثار، لټيږ، بوره.

۵ـ په شعر کې خاص نمونه او صفتونه په نښه کړئ.

خاص نوم: هغه دی چې خاص څيز او خاص نوم نومولی لکه رحمان بابا، خوشحال خان خټک، مېرمن ملاله.

صفت: د نوم څرنګوالی څرګندوي. لکه: تور، سپين، ښه، بد او نور...

۶ـ د سپينې له حماسي پرته په پښتو ژبه کې نورې کومې کومې حماسي پېژنئ نومونه يې له ويونکو سره واخلئ؟

۷ـ تاسې له سپينې پرته نورې کومې اتلې مېرمنې پېژنئ، نومونه يې له کارنامو سره بيان کړئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په ټولنه کې د ښځو د رول په اړه يوه لنډه ليکنه وکړي او په بله ورځ دې يې په پښتو درسي ساعت کې خپلو ټولګيوالو ته واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانې
(لنډه کیسه)

(مهدي)

په پښتو ادب کې لنډه کیسه د شلمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې پیل شوه. لومړنۍ بنسټ ایښودونکی یې سید راحت زاخیلی دی. بیا وروسته د لنډې کیسې لیکلو لړۍ وغزېده او ډېرو لیکوالو لنډې کیسې ولیکلې، لکه: ماستر عبدالکریم، میر مهدي شاه مهدي، قلندر مومند، موسی شفیق، حبیب الله تېږی، محمد دین ژواک، امین افغانپور او نور...

اوس په پښتو ادب کې د لنډو کیسو په سلګونه مجموعې شته او له یوې ورځې نه بلې ته وده او پراختیا مومي. لنډه کیسه د هنري نثر یو په زړه پورې ډول دی چې د ژوندانه بېلابېلې پېښې انځوروي. که د کیسو لوستل له یوې خوا د وخت تېرولو سره تړاو لري نو بنسټیز مقصد یې ښوونیز دی. مور باید له کیسې لوستلو څخه پند واخلو. ښه اړخونه یې په ژوند کې پلي کړو او له بدو اړخونو څخه یې ځانونه وژغورو. دلته د (کانې) په نوم د میر مهدي شاه مهدي یوه لنډه کیسه تاسو ته وړاندې کوو:

_ تاسې د کوم لیکوال کومه کیسه لوستې ده؟

_ تاسې کولای شئ د خپل ژوند یوه کیسه ټولګیوالو ته په شفاهي ډول وویئ!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره مې یاد شي چې ډاکټر وویل: دده محرقه ده.

نور بیا هغه وخت پوه شوم چې زما نظر بې انتها تېز شو. د لیدو او اورېدو طاقت مې له اول نه یو په لس زیات شو. خو حیران په دغه وم چې ګېرچاپېره په کوټه کې د ښځو ژړا وه. څوک خو لا په ما راپرېوتی و او په ساندو کې به یې ویل: خدای دې وبخښه!

تا له دې خدای اته واړه جنتونه درکړي.

ما به ورسره په زوره امین وکړو، خو ما به داسې محسوسه کړه لکه چې دوی زما امین نه وي اورېدلی.

خدای خبر چې دغه سلسله به څومره جاري وه چې په دې کې زما د کورنۍ یو څو کسان زما کټ ته مخامخ کېناستل او هغه یو کس پکې وویل:

ـ هسې د غورځولو سړی نه دی، ښه یاد سړی دی چې مړی درنه سپک نه شي.

یو بل پکې اواز وکړو: ده هم ډېره موده د خلکو خوړلې ده. نن به ورله دا ټول بدل په یو ځل خلاصوو.

همدغه شان په لږ ساعت کې ټولې جرګې دا فیصله وکړه چې څومره کېدای شي نو مړی به یې درنوو.

دغلته زما په زړه نوره نه ځائیده. په اوچت اواز مې دغې جرګې ته وویل:

ـ اې زما خپلو خپلوانو مسلمانانو تاسو ته معلومه ده چې زما په کور کې یوه پیسه هم نشته. په قرضونو کې تر سره ډوب یم. بچي مې ماشومان دي. ښځه مې کونډه شوه. زما غوندې غریب د پاره چې څنګه د اسلام فیصله ده، هغه شان وکړئ او هغه دا چې په کفن ضروري کې مې ښخ کړئ چې زما جامې دي. د قرضونو له وجې تاسې زما لازمه فدیه نه شئ ادا کولی نو خیرات خو لا لویه خبره ده. زه لا لګیا وم نورې خبرې مې هم کولې، خو په دغه کې د یوې زنانه په ژړغوني اواز کې وویل شو: لالا هر چا چې پیسې ولګولې نو یوازې دا کور یې پاتې دی. دا به په قرض کې ورپسې ولیکم. خو اوس درنه مړی بې عزته نه شي.

ما خپل اواز نور هم په زوره کړ چې د وړو مورېې واوري خو زما دا خیال راغلو چې دا ټول کاڼه دي. زما جنازه چې اوچتېده نو دومره مې واورېدل چې د حلوا او وریژو دېګونه پاخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت هم ما يوه چيغه و وهله چې: دغه هر څه حرام دي.

خو دغه خلک هم ټول کانړه وو.

کوم وخت چې جنازه وشوه، نو سخات ته خلک کېناستل او کله چې سخات وېشل کېده نو ما اواز وکړو:

ـ زه مرض وصيت ته نه يم پرېښی او که لږه موقع راته په لاس راغلې وای نو ما به د قرضونو په رنړاکې وصيت کولو. خو اوس تاسې څه کوئ!

ولې زما بچي خواروئ؟

خو دلته هم زه پوه شوم چې دا ټول خلک کانړه وو. ځکه چې ما خبرې کولې او هغوی يو بل ته سخات بخښلو او کوم وخت يې چې سخات تقسيمولو نو عجيبه خبره پکې دا وه چې غريبانو ته لس روپۍ او مالدارو ته پکې پنځوس روپۍ وې. د سخات د تقسيم نه وروسته چې زما جنازه اوچته کړی شوه او د قبر په څنډه کېښودل شوم، نو ماته خپله تور سړې او واړه بچي او د دوی غريبي رامخکې شوه. ما لا د دوی په غريبۍ او بې وسۍ ژړاکوله چې په دې کې زه په قبر کې کوز کړی شوم او په لږ ساعت کې راباندې د خاورو غر جوړ کړای شو. خو زه حيران په دغه وم چې ماته په قبر باندې ښل ښل سړي ښکارېدو. د هغوی خبرې مې اورېدې. ما باالکل خپل ځان د هغوی په منځ کې ولاړ ليدو. کوم وخت چې په قبر د قرآن کريم تلاوت شروع شو نو زما زړه خوشحاله شو.

ما ويل اوس به دغه ټول مسلمانان د قرآن کريم د هدياتو په رنړاکې زما د غريبانو بچو او تور سړې لپاره څه بندوبست وکړي او هغه وخت خو نور هم ډېر خوشحاله شوم چې په ټولو کې يو مشر عالم مسئلې ته پاڅېده. په دغه وخت کې دا اواز هم وشو چې: تاسو خدای وبخښه! فاتحه به د خيرات په ځای کې اخيستل کېږي.

خدای خبر چې ما به ددغه تقرير په هکله نور څومره سوچ کولو چې په دې کې ملا صاحب د ميراث په مسئله شروع وکړه او وې ويل:

ـ که چېرې مال يې پاتې نه وي نو تجهيز تکفين د مړي اول د ده په نژدې خپلوانو دی، که خپلوان يې نه وي او يا يې وسه او غريبان وي، نو په بيت المال باندې او که بيت المال نه وي، نو بيا په ټولو مسلمانانو دی.

هغه لا خپل تقرير کولو چې زما زړه را ډک شو. صبر مې ختم شو او چې په ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېدم نو هغه مې د مرۍ نه نيولی و او ما ورته په غوصه کې ويل چې: ولې دا زه درته مومن مسلمان نه ښکارېدم څه؟

گور کفن مې په تاسو کېدو او کور مو زما لوټ کړو.

زه هم لګيا وم او هغه هم لګيا و خو زما خبره نه هغه اورېده او نه نورو خلکو.

او چې يو څو ورځې پس زه خبر شوم چې زمونږ دکلي غريب الله کاکا مړ شو او بچو ته يې په غير د قرضونو او لوړو نور څه پرې نښودل نو د نورو خلکو غوندې زه هم د هغه په قبر کوڼ ولاړ وم.

د ليکوال پېژندګلوي:

سيد مير مهدي شاه مهدي د پښتو ژبې له نومياليو کيسه ليکوالو څخه دی. دی د پښتونخوا د داودزو د سيمې کنکوله نومې کلي کې په درنې علمي کورنۍ کې وزېرېد. د زېرېدو نېټه يې ۱۹۲۶م. کال دی او په (۱۹۹۴م.) کال يې له نړۍ سترګې پټې کړې. د پلار نوم يې سيد عبدالتواب شاه دی چې د خپلې سيمې مشهور عالم و. مهدي شاه د خپل وخت مروجه علوم ولوستل او له ليکوالۍ سره يې د ژورنالیزم په ډګر کې کار پيل کړ. مهدي شاه د ژوند تر وروستيو شېبو پورې په مختلفو جريدو او مجلو کې د ليکوال او مدير په توګه کار وکړ. دی د خدايي خدمتګارانو د غورځنګ يو فعال غړی و او د مبارزې په لړ کې يې ډېر زندانونه ګاللي دي. دده د کار اصلي برخه کيسه ليکنه وه، خو ددې تر څنګه شاعر هم و. دده داستانونه د پښتنو د سياسي او تاريخي ژوند عکاسي کوي چې ټولې کيسې يې د انګرېزي ښکېلاک او په راوروسته کې د جابرو حکومتونو په وړاندې د پښتنو د مبارزو او قربانيو څرګندونه کوي.

د مهدي شاه مهدي د لنډو کيسو يو شمېر کتابونه چاپ شوي دي، چې په لاندې ډول دي: نشان، د بودۍ ټال، پت، لاله ګلونه، تور داغونه. د شعرونو مجموعه يې د (رونړ سحر) په نوم ده. مظلوم امام يې د کربلا د پېښې تاريخي بيان دی. د قرآن کريم د فاتحې د سورې ژباړه يې هم په پښتو کې چاپ شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

د مهدي شاه مهدي په دغه لنډه کيسه کې هغه دودونه غندل شوي چې اسلامي شرعي بڼه نه لري او په خلکو کې د يو دود په ډول راروان دي. له دغو دودونو څخه يو هم هغه بې ځايه او اضافي لګښتونه دي چې د مړي په وخت کې يې خلک د سيالۍ له مخې کوي. په دغه وخت کې د مړي خپلوان خپله غريبي او بې وسي له پامه غورځوي خو په زياتو لګښتونو غواړي چې خپل مړی دروند وښيي او په سيالۍ کې له چا نه وروستو نه شي. په داسې حال کې چې د مړي درنښت د هغه په اعمالو پورې اړه لري.

په دې وخت کې دکورنۍ غړي يا وارثان که غريب هم وي ځانونه پوروړي کوي او د مړي سخات او خيراتونه په لوړ شان کوي. پايله يې دا وي چې بچي يې خوار و زار کېږي او تر عمره له پوره نه خلاصېږي. مهدي شاه هم دې خبرې ته ګوته نيولې او ويلي يې دي چې د مړي په مراسمو کې د اسلامي شريعت سره سم عمل وکړئ او بې ځايه دودونو ته غاړه مه ږدئ.

دا کيسه په فني لحاظ هم يوه بشپړه کيسه ده چې پېښه يې زمونږ د روان ژوند نماينده ګي کوي. د ويلو ژبه يې خوږه او روانه ده. کرکټرونه يې هم بېګانه نه دي او تلوسه هم پکې شته.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې په وار سره کيسه په لوړ غږ ولولي او د کيسې مفهوم دې په خپلو خبرو کې څرګند کړي.

۲ـ که زده کوونکو ته ورته کومه کيسه معلومه وي او يا يې په چم او ګاونډ کې تېره شوي وي په ډېر لنډيز سره دې په خپلو کتابچو کې وليکي او په ټولګي کې دې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واوروي.

۳ـ زده کوونکي دې د کيسې متن په غور سره ولولي او نومړي دې په نښه کړي. بيا دې يې په ټولګي کې ولولي.

ضمير: هغه کلمه ده چې د نوم پر ځای استعمالېږي يا د نوم د تکرار مخه نيسي، لکه: زه، ته، هغه.

ملکي ضميرونه: هغه دي چې د ملکيت څرګندونه کوي، لکه: ستا، زما، د دوی.

استفهامي ضميرونه: هغه دي چې پوښتنه کوي، لکه: څوک، چېرې، کوم او نور...

۴ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- په پښتو ژبه کې کوم کيسه ليکونکي پېژنئ نومونه يې واخلئ؟
- د کيسو لوستل څه ګټه لري؟
- تاريخ او کيسه څه توپير لري؟
- د مهدي شاه د لنډو کيسو د ټولګو نومونه کوم دي؟

۵ـ د مهدي شاه ددغې کيسې په اړه خپل نظر څرګند کړئ او ستاسې د خوښې وړ ټکی خپلو ټولګيوالو ته وواياست.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ له غړو يو کيسه واوري او بيا دې په خپل قلم وليکي. په بله ورځ دې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لفظي صنعتونه

د بديع علم د عباسيانو په وخت کې رامنځ ته شو چې بيا له عربي نه فارسي، پښتو او نورو ژبو ته راغی. له همدې کبله ټولې اصطلاحګانې يې هم عربي دي. لومړنی سړی چې بديعي صنعتونه يې راټول کړل او کتابي بڼه يې ورکړه عبدالله بن معتز و. تر ده د مخه د عربو شاعرانو دا علم نه پېژانده. عبدالله بن معتز په (۲۸۴هـ) کې په دې کار لاس پورې کړ او د (البديع) په نوم يې د بديع د علم کتاب تاليف کړ. وروسته بيا نورو ليکوالو هم په دې برخه کې کتابونه وليکل او دا علم دود شو. په پښتو ژبه کې هم په دې اړه ډېر کتابونه ليکل شوي دي. لکه د عبدالرؤف بېنوا ادبي فنون، د سيد تسنيم الحق کاکاخيل روح ادب، د عبدالحليم اثر سالارزي پښتو ادب، د سمندر خان سمندر د ادب مناره، د نور احمد شاکر بديع او بيان او نور. دا دی په دې درس کې به د بديع د علم او صنعتونو په اړه يو لړ معلومات ولولئ.

_ د بديع علم څه ته وايي؟

_ د شعر لفظي او معنوي ښکلاوې څه ډول وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بديع عربي کلمه ده. په لغت کې نوي شي ته وايي. په اصطلاح کې هغه علم دی چې د هغه په واسطه د کلام د ښه والي وجه څرګندېږي. بديع دوه ډوله صنعتونه لري: لفظي او معنوي. لفظي ښکلاوې هغه دي چې له لفظ سره سروکار لري او معنوي هغه دي چې د معنا رعايت پکې کېږي. لفظي صنايع په لاندې ډول دي:

۱ـ توشيح: هغه ادبي صنعت ته ويل کېږي چې د شعر د بيتونو يا مسرو لومړي توري سره يوځای شي، له هغه څخه نوم، مسره، بيت يا کومه جمله جوړه شي، لکه په دې لاندې شعر کې:

ګمراهانو سره مه ګډوه ځان　　فرمايلي دي نبي اخر زمان
له فضولو بدکارانو صحبت مه کړه　　بل خبرې ته غوږ مه ږده د نادان
مدام ګرځه په مجلس کې د نيکانو　　قايم اوسه په خپل دين کې مسلمان
له ګناه به منزه وي هغه څوک　　چې ثنا صفت تل وايي په زبان
ورکول بل ته د خدای په نامه ښه دي　　په قرآن کې داسې وايي پاک سبحان

که دې ګنج لکه قارون په دنيا ډېر شي
بې کفنه ټوښه نشې وړی د ځان

پورتنی شعر ګل ملوک پخپل نامه ويلی دی، که د ټولو بيتونو لومړي توري سره يوځای شي، ګل ملوک ځني جوړېږي.

۳ـ تجنيس: هغه صنعت ته وايي چې شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې راوړي، چې شکل يې يو او معنا يې بېله وي، لکه داود خان چې وايي:

چې د چا په زړه کې اور د مينې بل شي　　په وربل يې لمبې ګډې حال يې بل شي
اور د مينې کله مري د زړه له مينې　　د وربل مينه که تل د زړه په تل شي

د لومړي بيت په لومړۍ مسره کې (بل) د اور د لګېدلو په معنا دی او په دويمه مسره کې (بل) د بدل په معنا دی. دواړه کلمې په شکل کې يو ډول دي خو معناګانې يې بېلې دي. د دويم بيت په دويمه مسره کې لومړی (تل) د همېشه او دويم (تل) د ښخ په معنا دی.

تجنيس په اووه ډوله دی لکه: تام، ناقص، زايد، مرکب، مکرر، مطرف او خطي تجنيس. دلته يې د ځينو ډولونو مثالونه راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

تام تجنيس: هغه تجنيس دی چې شاعر په خپل کلام کې داسې دوې کلمې راوړي چې شکل يې يو او معنا يې بېله وي لکه پير محمد کاکړ چې وايي:

فراق په ما خوري د زړګي وينې اشنا مې نشته الله مې وينې

په لومړۍ مسره کې (وينې) د وينو په معنا او په دويمه مسره کې (وينې) د ليدلو په معنا دی.

ناقص تجنيس: هغه تجنيس دی چې د متجانسو کلمو شکل يو او معنا بېله وي، خو په حرکاتو کې توپير ولري، لکه:

د يار غم راسره څه وايم چې څه کړي تل مې وينې د زړه روي لکه روې

چې پخوا تر قضا خپله رضا غواړي بېهوده په لوتو ولې اسمان ولې

د لومړي بيت په دويمه مسره کې لومړی (روي) د رودلو په معنا او دويمه (روې) د يو ډول کوچني حيوان په معنا دی چې دا کلمې په حرکاتو کې توپير لري. په دويم بيت دويمه مسره کې لومړی (ولې) د پوښتنې ضمير دی او دويم (ولې) د ويشتلو معنا ورکوي چې دواړه کلمې په حرکاتو کې توپير لري.

مرکب تجنيس: هغه تجنيس دی چې د متجانسو کلمو څخه يوه کلمه بسيطه او بله يې مرکبه وي. مرکب تجنيس په دوه ډوله دی. متشابه مرکب او مفروق مرکب.

الف: متشابه مرکب: هغه دی چې بسيطه او مرکبه کلمه دواړه يو ډول شکل ولري. لکه احمد شاه بابا چې وايي:

ستا پرمخ باندې اوربل دی ځکه اور بل مې په ګوګل دی

په لومړۍ مسره کې (اوربل) د تندي ويښتانو يا پيکي ته وايي او يوه بسيطه کلمه ده خو په دويمه مسره کې (اور بل) له (اور) او (بل) څخه يوه مرکبه کلمه ده چې (اور) او (بل) بېلې معناګاني لري.

ب: مفروق مرکب: هغه تجنيس دی چې بسيطه کلمه د بسيطې او مرکبه د مرکبې شکل ولري، لکه په لاندې بيت کې:

چې په سترګو څراغ وويني پتنګ څو ونه مري له ژوندونه وي په تنګ

په پورتني بيت کې پتنګ بسيطه کلمه او (په تنګ) مرکبه کلمه ده.

قلب: قلب په لغت کې سرچپه کولو ته وايي، په اصطلاح کې د دو و يا زياتو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلمو راوړل دي چې توري يې په بڼه (ډول) او عدد کې يو ډول او په ترتيب کې اوښتی وي، لکه:

د دوران لـه انـقلابه لا بقا شي اعتماد به دانا څه په دا اقبال کا

په پورته بيت کې د ((لا بقا)) کلمه په ((اقبال)) اوښتې ده.

ترصيع: عربي کلمه ده. په لغت کې د جواهرو کينولو ته وايي، په اصطلاح کې که يو شاعر خپل يو بيت په څو برخو ووېشي او هره برخه يې د بلې په مقابل کې راوړي او په وزن کې سره يو وي ترصيع بلل کېږي.

دلـبـران يـې خـادمـان خـرقـه بـدوش شـول

سـرووران يـې غـلامـان حـلـقـه بـگـوش شـول

* * *

څـوک چـې دنـيـا غـواړي هـغـه رنـځـور دی

څـوک چـې عـقـبـا غـواړي هـغـه مـزدور دی

په پورته مثالونو کې گورو چې شاعر خپله وينا په متناظرو کلمو يا فقرو باندې ويشلې او يوه برخه يې د بلې په مقابل کې راوړې ده.

سجع: سجع په لغت کې دکوترې موزون اواز ته ويل کېږي او په اصطلاح کې د جملو يا فقرو وروستی هم اهنگی ته سجع ويل کېږي. سجع په نثر کې راځي او دغه ډول نثر ته مسجع نثر ويل کېږي.

د خوار يا ژړا ده يا ښېرا

تضمين: هغه صنعت ته وايي چې شاعر د سند او مثال په توگه يا د خپل کلام د تقويې لپاره د مضمون اړوند د بل چا د نظم يوه ټوټه، نيم بيتي، يو بيت يا څو بيتونه راوړي، لکه:

دا دنـيـا ده خـدای لـه عـشـقـه پـيـدا کـړې

دې چـمـن پـه دې نـسـيـم ده پـرده سـپـړې

په پورته بيت کې لومړی مسرع د رحمان بابا او دويمه مسرع د حميد مومند ده. حميد

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپل دغه بيت کې د رحمان بابا نيم بيتي راخيستې او تضمين کړی يې دی.

د رحمان بابا اصلي بيت دادی:

دا دنيا ده خدای له عشقه پيدا کړې

د جمله و مخلوقاتو پلار دی دا

د متن لنډيز:

د بديع علم د عباسيانو په وخت کې دود شو. ددې علم بنسټ ايښودونکی عبدالله بن معتز و. نوموړي د لومړي ځل لپاره ادبي صنعتونه راټول کړل او يو کتاب يې د (البديع) په نامه تاليف کړ.

له ده نه وروسته نورو کسانو هم په دې برخه کې کتابونه وليکل. بديع هغه علم دی چې د هغه په واسطه د کلام د ښه والي وجه څرګندېږي. په بديع کې دوه ډوله ادبي صنعتونه څېړل کېږي چې يو ډول يې لفظي صنايع دي او بل ډول يې معنوي صنايع. په لفظي صنايعو کې د لفظ رعايت کېږي او په معنوي کې له معنا سره سروکار لري.

په لفظي صنايعو کې مو ځينې ډولونه وپېژندل او معنوي صنايع به په جلا لوست کې ولولئ. لفظي او معنوي صنايع د منځنۍ دورې شاعرانو پخپلو شعرونو کې ډېرې راوړې دي او د پښتو کلاسيک ديوانونه پرې ډک دي. د ادبي فنونو په برخه کې پښتنو ليکوالو او څېړونکو هم يو شمېر کتابونه ليکلي او د شعر د فنونو په برخه کې يې څېړنې کړې دي. لکه عبدالرؤف بېنوا، سمندر خان سمندر، سيد تسنيم الحق کاکاخيل، عبدالحليم اثر سالارزی، نور احمد شاکر او نورو... په اوسني معاصر شعر کې اوس دغو صنعتونو ته دومره پاملرنه نه کېږي او په شعر کې په تخيل، انځور، وزن، اهنګ، مفکوره او عاطفه باندې حساب کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته په وار سره متن په لوړ غږ ولولي او بیا دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- د بدیع د علم بنسټ ایښودونکی څوک و ؟
- د بدیع علم څه ته وایي او له څه شي نه بحث کوي؟
- لفظي صنایع څه ته وایي؟
- معنوي صنایع څه ته وایي؟

۲ـ زده کوونکي دې لاندې شعر په غور ولولي او په هغه کې دې ادبي صنعت پیدا کړي چې په کومو کلمو کې راغلی دی:

پلو واخله له سپوږمۍ مخه مې‌رمنې ستا بې مخه راته شپې دي وږغې سپینې
ستا له وره تللای نه شوای هوړې دوړې درته ناست یم په دربار پرې مې دي سپینې
درست‌بدن‌مې‌دښېلتون‌په‌اورکې‌وریت‌شو په ګوګل کې مې ویلېږي تورې سپینې
زه پښتون یم نه وېرېږم له رقیبه ورته وبه کړم بیا ښې سپینې سپینې

مشرقي دې په تیاره د ښېلتون ژاړي
ورته لمر د مخ ښکاره کړه په مخ سپینې

۳ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او په متن کې دې خاص نومونه، صفتونه او ضمیرونه په نښه کړي. بیا دې یې په وار سره په ټولګي کې واوروي.

۴ـ زده کوونکي دې د تجنیس تعریف وکړي او ودې وایي چې تجنیس څو ډوله دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه له یو دیوان څخه یو شعر ولیکي او په هغه کې دې لفظي صنعتونه پیدا کړي، په بله ورځ دې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هجري او د هغه حبسيات

حبسيات يا حبسيه شعرونه په ادبياتو کې هغو شعرونو ته ويل کېږي چې شاعر په زندان کې ويلي وي. په دې شعرونو کې د زندان کړاوونه، سختۍ او له کور کلي نه د لرېوالي ستونزې انعکاس مومي.

په پښتو کلاسيک شعر کې دا لړۍ خوشحال خان خټک هغه وخت پيل کړه چې د مغلي پاچا اورنګزيب له خوا د هند د رنتبور په زندان کې بنديي شو. بيا ورپسې دده زوی اشرف خان هجري چې د همدغه پاچا په حکم د ګوالیار او بيجاپور په زندانونو کې څوارلس کاله زنداني شو نو د حبسياتو دغه لړۍ يې پسې پراخه او غني کړه. اوس موږ په پښتو ادبياتو کې د حبسياتو درنه برخه د هجري په ديوان کې مومو چې د څوارلسو کالو د زندان سوې ناري دي. يو خوا د زندان کړاوونه او بل خوا له وطن او کورنۍ نه لرېوالی د هجري د شعر عامه موضوع ده. په دې لوست کې به د اشرف خان هجري د ژوند او دده د حبسيه شعرونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

_ تاسې ته د حبسيه شعرونو کومه نمونه زده ده؟

_ حبسيه شعرونه له نورو شعرونو څه توپير لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشرف خان هجري د خوشحال خان مشر زوی دی. په (۱۰۴۴هـ.ق.) کال د روژې په میاشت کې زېږېدلی دی. کله چې خوشحال خان زنداني شو نو اشرف خان د خپلې قبيلې سردار و. د اشرف خان بل ورور بهرام خان غوښتل چې د قبيلې سردار شي، نو په دې توګه يې په دسيسو لاس پورې کړ. دا وخت خوشحال خان د مغلو له بند نه خلاص شوی و. بهرام خان له مغلو سره لاس يو کړ او د خپل پلار او ورور په وړاندې يې سازشونه او دسيسې پيل کړې. څرنګه چې له يوې خوا د بهرام خان سازشونه وو نو له بل پلوه د کابل صوبيدار امير خان هم له اشرف خان نه خوابدی و. د امير خان د خوابدۍ دوه علتونه ځرګند دي، يو دا چې امير خان چې کله کابل ته روان و نو له اشرف خان نه يې غوښتنه وکړه چې له ده سره لاړ شي، خو اشرف خان يې غوښتنه ونه منله او ورسره لاړ نه شو. بله وجه دا وه چې د اشرف خان يو خپښ ازاد ګګيانې د امير خان له حکم نه سرغړونه کړې وه او اشرف خان هجري دی په لاس ورنه کړ، بلکې دی يې سوات ته ولېږه او دده کورنۍ يې له ځان سره وساتله.

بل دا چې د مغلو د حکومت اوامرو ته بهرام خان لاس په نامه ولاړ و، نو په دې توګه صوبيدار له پاچا نه د اشرف خان د بندي کېدو اجازه وغوښتله. پاچا اجازه ورکړه او صوبيدار اشرف خان هجري په ډېر نيرنګ د سيد بهولا په کورکې په (۱۰۹۲هـ.) کال کې ونيو او هند ته يې بندي واستاوه. اشرف خان هجري لومړی په ګوالیار او بيا په بيجاپور کې څوارلس کاله زنداني شو. هجري له ديارلسو کالو زياته موده په زندانونو کې تېره کړه او هماغلته په (۱۱۰۶هـ.) کې وفات شو.

اشرف خان هجري د خپل وخت منلی شاعر و. په پښتو او فارسي کې د شعرونو ديوانونه لري چې چاپ شوي دي. دده په اشعارو کې د عشقي، اخلاقي او اجتماعي مضامينو تر څنګه د وطن ياد او له هېواده د جلاوالي حسرتونه او نارې تر بلې هرې موضوع ډېر دي. هغه وخت چې دی نيول کېږي او د هند پر لورې يې بيايي نو کله چې يې پر اټک اړوي دا چيغه کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـا هـالـه مـــــاتـم د ځـان وکـــــړو پـه وينو
چـې اټـک وتـــه مـې شـــاه کـړه پـه ژړا شـوم

اشرف خان هجري پخپلو شعرونو کې خپل تخلص، هجري، روهي او اکرم راوړی دی.
د هجري شعرونه له درده ډک دي، د وطن ياد، د زندان مشقت او له خپلوانو لرې والی دده شعر ته ځانګړی خوند ورکړی دی چې همدا رنګ يې په قصيدو کې هم تر سترګو کېږي.
په قصيده ويلو کې ډېر غښتلی دی او په پښتو ادب کې يې ساری لږ ليدل کېږي.
د حبسياتو برخه يې ډېره درنه ده او د څوارلس کلن زندان يو بشپړ انځور وړاندې کوي.
د ده حبسيات له سوزه ډک دي او هر لوستونکی يې په لوستلو غمجن کېږي. دلته يې د حبسيه شعرونو څخه يو يو بيت رااخلو چې څومره له درد او سوز نه ډک دي:

نـــن اغـــاز د لـسـم کـــال دی بـــاور وکـــړه
چـــې پـــه بـنـد کـــې يـــې زهـــرېـــږم بـــې ګـنـاه

* * *

هـجـري تـش صـورت نـصـيـب پـه دکـن بـنـد کړو
پـه خـدمـت يـې د يـار زړه دايـم حـضـور وي

* * *

د مـاهـي پـه نـس کـې پـروت لـکـه يـونـس يم
مـګـر خـــلاص مـې پـه کـــرم حـق تـعـالـی کا

* * *

هـجـري تـــه خـو تـل هـــوس د ولايـــت کـړې
ولـــې سـتـا ورتـلـــه مـحـال مـګـر نـصـيـب وي

* * *

د ځـيـګـر ويـنـــې مـــې وځـښـلـــې غـمـونـو
مـرګـه جـګـې جـګـې راشـــه اوس رضـــا يم

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

قـاصـدان لـه روه نـه رائـي مـدت وشـو
سـلام بـاد رارسـوي مـنـت يـې تـم دی

د اشرف خان هجري د اشعارو درنه برخه حبسيات دي چې د ګوالیار او بیجاپور په زندانونو کې يې ویلې دي:

دغه شعر يې د کلام د نمونې په توګه راوړو:

څـو د يـار د مـسـتـو سـتـرګـو نـه جـدا يم
لاهـو کـړی د حـيـرت خـونـي دريـا يم
د ځـيـګـر وينـې مـې وخـوړې غـمـونـو
مـرګـه جـګـې جـګـې راشـه اوس رضـا يم
کـه زمـا پـه خـون مـين يـې نـن دې وار دی
د يـار غـم مـې سـبـا وژنـي درتـه وايـم
د کـفـن حـاجـت يـې نـشـتـه شـهـيـدان دي
چـې پـه تـېغ د هـجـر مـړه دي زه ګـويـا يم
زه پـه بـنـد د اورنـګ نـه يـم چـې بـه خـلاص شم
بـنـدي کـړی شـيـخ رحـکـار زيـړي بـابـا يم
پـه دکـن کـې پـاړو نـشـتـه چـې مـې دم کا
زه خـوړلـی اژدهـا تـوري بـلا يم
يـا دکـن د غـم وطـن ښـادي يـې نـشـتـه
يـا پـه مـا غـمـونـو شـپـه کـړه مـبـتـلا يم
هـر نـفـس پـه مـا عـشـور کـا يـزيـدانـو
ګـويـا زه حـسـيـن د وخـت پـه کـربـلا يم
هـسـې رنـګ جـدايـي مـه شـه لـه مـراده
لـکـه زه فـلـک بـېـل کـړی پـه جـفـا يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اورنـــگ جـــور دا شـــان چې پـــه صـــورت دی
پـــه فـــريـــاد د فـــرقـــتـــونـــو لـــه غـــوغـــا يـم
جـــودانـــه صـــبـــر مـــې کـــلـــه دی پـــه زړه کې
زه روهـــي د يـــار پـــه مـــخ پـــسـې تـــالا يم

د متن لنديز:

د وطن ياد، د زندان کړاوونه، له کورنۍ لرې والی او فريادونه د اشرف خان هجري د شاعرۍ عامه موضوع ده. د عشقي مضامينو تر څنګه اخلاقي مضامين هم لري. په پورتني شعر کې هم د وطن ياد او له خپلوانو د جلا والي فريادونه کوي. اشرف خان هجري په دې شعر کې هغې مهمې پېښې ته اشاره کوي چې د شېخ رحمکار کاکا صاحب زوی يې له لاسه وژل شوی دی. له بهرام خان سره د قبيلې د سرداری په جګړو کې خپل اخښی شيخ ضياء الدين د شيخ رحمکار زوی له دې کبله بندي کوي چې هغه د بهرام خان په خوا وي. اشرف خان هجري چې کله شيخ ضياء الدين بندي کوي بيا يې د زهرو په واسطه وژني.

کاکا صاحب د خپل زوی په وژل کېدو خپه کېږي. نو په دې توګه اشرف خان هجري وايي چې زه اورنګزېب نه يم بندي کړی. زه شيخ رحمکار بندي کړی يم، ځکه چې هغه ماته ښېرې کړي دي ځکه له زندانه نه خلاصېږم.

اشرف په ځينو شعرونو کې په دغه پېښه خپله پښېماني څرګندوي او وايي:

هـــجـــري مـــه شـــه نـــا امـــيـــد کـــه ګـــنـــاهـــګـــار يې
الـــبـــتـــه بـــه انـــعـــام وکـــا مـــهـــربـــان دی
لـــه عـــطـــا دې ډېـــر امـــيـــد لـــرم غـــفـــوره
زه هـــجـــري ځـــکـــه دايـــم پـــه اســـتـــغـــفـــار يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د لوست له لوستلو څخه وروسته دغو پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- هجري څه وخت بندي شو ؟
- هجري په کومو زندانونو کې بندي و ؟
- هجري چېرته او په کوم حالت کې وفات شو ؟
- په پښتو کې د حبسیه شعرونو ویونکي څوک دي ؟

۲ـ زده کوونکي دې له ښوونکي وروسته شعر په لوړ اواز ولولي او مفهوم دې یې پخپلو خبرو کې څرګند کړي.

۳ـ زده کوونکي دې په یو یا دوه پاراګرافه کې د هجري د زنداني کېدو عوامل په ګوته کړي او په ټولګي کې دې یې په وار سره واوروي.

۴ـ زده کوونکي دې ووایي چې په لاندې بیت کې کوم ادبي صنعت شته:

هر نفس په ما عشور کا یزیدانو

ګویا زه حسین د وخت په کربلا یم

۵ـ زده کوونکي دې لاندې بیتونه ولولي او په مفهوم دې یې خبرې وکړي:

زه په بند د اورنګ نه یم چې به خلاص شم

بندي کړی شیخ رحمکار زیړي بابا یم

په دکن کې پاڼو نشته چې مې دم کا

زه خوړلی اژدها توري بلا یم

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې لوست په کور کې په غور سره ولولي او د اشرف خان د ژوند او شاعرۍ په اړه دې دوه مخه لیکنه وکړي. بله ورځ دې یې په پښتو درسي ساعت کې خپلو ټولګیوالو ته ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو سفرنامې

سفرنامه لکه د نورو ادبي ډولونو يا ژانرونو په څېر يو ادبي ډول دی. په پښتو ادب کې د سفرنامې ليکل په شلمه پېړۍ کې پيل شول.

په سفرنامه کې د سفر ټول حالات ليکل کېږي او ليکوال د هغو سيمو يادونه کوي چې دی يې د سفر په لړ کې وينې. سفر نامې منظومې هم وي او منثورې هم.

پښتو ادب هم ډېرې په زړه پورې سفرنامې لري چې په دې لوست کې به يې دروپېژنو.

_ سفرنامه څه ته وايي او له څه شي نه بحث کوي؟

_ تاسې د پښتو کومه سفرنامه پېژنئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سفرنامه د داستاني ادبياتو يو ژانر (ډول) دی چې داستان ته ورته دی. سفرنامه هم لکه د داستان په څېر پېښه او يا پېښې لري. ژبه يې هم لکه د داستان د ژبې غوندې ادبي وي.

لکه د داستان غوندې پکې تلوسه هم وي چې سفر کوونکي به د سفر له ستونزو څخه خنګه بريالی وځي. په سفر نامه کې ليکوال د خپل سفر حالات او پېښې بيانوي. ليکوال چې له کومو ځايونو څخه تېرېږي د هغو ځايونو او اوسېدونکو په هکله يې هم معلومات ورکوي. په سفر کې چې له چا سره مخ کېږي د هغه يادونه هم کوي. کله کله د سفر په اوږدو کې د تاريخي ځايونو په هکله هم رڼا اچوي. د سيمې د خلکو د رواياتو او عنعناتو سره هم په ليکنه کې اړيکې نيسي. سفرنامه داستاني رنګ لري خو د معلوماتو په اړه کله کله تاريخي، جغرافيايي او ټولنپوهنې په اړه هم معلومات ورکوي.

په پښتو ادبياتو کې د سفرنامو ليکل په معاصره دوره کې پيل شوي دي. په پښتو ادب کې لومړنی سفرنامه د ميا اکبر شاه ده چې د (آزادۍ تلاش) نومېږي. ميا اکبر شاه چې دغه وخت د پېښور د اسلاميه کالج زده کوونکی و او په ټوله پښتونخوا کې د انګرېزانو په وړاندې سياسي تحريکونه پيل شوي وو نو دی هم د نورو زلميانو سره په دغه نهضت کې ملګری شو او د آزادۍ په تلاش دده سفر ډېر وغځېد او له ډېرو ملکونو تېر شو. ميا اکبر شاه د خپل سفر دغه سختې او کړاوونه په خپله سفرنامه کې وليکل او د آزادۍ تلاش نوم يې پرې کېښود. ميا اکبر شاه خپل دغه سفر په ۱۹۲۰م. کال کې له پېښور نه پيل کړ او له دوو کالو نه يې زيات وخت ونيو.

ميا اکبر شاه په دغه سفر کې له کابل، بلخ، بخارا، سمرقند، تاشکند، ماسکو، باکو، قفقاز او ايران نه تېر شو او په ۱۹۲۲م. کې بېرته راوګرځېد، خو د انګرېزانو حکومت ونيو او دوه کاله او اوولس ورځې يې په زندان کې تېرې کړلې. ميا اکبر شاه په زندان کې خپله سفرنامه وليکله خو د چاپ اجازه نه د انګرېز حکومت ورکړه او نه د پاکستان له آزادۍ نه راوروسته حکومتونو.

دغه سفر نامه څلوېښت کاله وروسته په ۱۹۶۴م. کال کې چاپ شوه. ميا اکبر شاه د خپلې سفرنامې په هکله داسې ليکي:

((په دغو ورځو کې افغانستان د خپل استقلال لپاره د انګرېز پر خلاف په جنګ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشغول و. زمونږ کالج د انګرېزانو د ظالمانه رویې پر خلاف متواتر جلسې کولې. مونږ موقع غنیمت وګڼله، صلاح مو وکړه چې د وطن د آزادولو ښه موقع ده. مونږ څلور ملګري د خپل وطن د آزادۍ په تلاش کې ووتو. زمونږ خیال و چې مونږ به د افغانستان د حمله اور پوځ په ملګرتیا کې د آزادۍ په جنګ کې حصه واخلو، خو مونږ ته نه وه معلومه چې زمونږ د آزادۍ تلاش به تر افغانستانه محدود نه وي او د کابل، بلخ، سمرقند، تاشکند، ماسکو، باکو، قفقاز او ایران کې د مصیبتونو برداشت کولو نه وروسته به زه خپل وطن ته په ۱۶ اګست ۱۹۲۲م. راستون شم.))

په پښتو سفرنامو کې دویمه سفرنامه د عبدالاکبر خان اکبر ده چې د (روسي ترکستان او افغانستان سفر) نومېږي. د عبدالاکبر خان سفر هم د میا اکبر شاه سفر ته ورته دی چې د آزادۍ د تحریک په لړ کې له پېښور نه راوتلی او سفر یې تر تاشکند پورې اوږد شوی دی.

د عبدالاکبر خان دا سفر د افغانستان ځینې سیمې، تاشکند او د لارې په اوږدو کې مختلفې سیمې راچاپېروي. دده سفر هم لکه د میا اکبر شاه غوندې له حیرانونکو پېښو څخه ډک دی.

دا دواړه سفرونه په یو وخت کې پیل شوي او یو مقصد لري. له همدې کبله ورته ټکي لري ځکه چې د سفر تګلوری یو خواته او مقصد یې هم یو دی. خو دومره توپیر لري چې د عبدالاکبر خان سفر تر میا اکبر شاه لنډ دی. همدارنګه د میا اکبر شاه د سفرنامې ژبه د عبدالاکبر خان تر سفر نامې خوږه او روانه ده.

عبدالخالق خلیق د عبدالاکبر خان اکبر د سفر په هکله وایي:

(اکبر صاحب په کالج کې سبق ویلو چې په ملک کې سیاسي بیداري پیدا شوه. د انګرېزي حکومت خلاف زلمي د عمل میدان ته راووتل او چا فیصله وکړه چې د ملک نه هجرت وکړي او له بهر نه په یو منظم طاقت سره د غاصب حکومت نه ملک آزاد کړي. په هغه ډله کې اکبر صاحب هم له خپل خوږ وطن نه هجرت وکړو. افغانستان ته لاړ او له هغه ځای نه روسي ترکستان ته لاړو)

عبدالاکبر خان هم چې کله له سفر نه راستون شو د انګرېزي حکومت له خوا ونیول شو خو د خپلوانو په مرسته زنداني نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالاکبر خان اکبر هم څلوېښت کاله وروسته دغه سفر نامه له خپلو یادښتونو څخه ولیکله او چاپ شوه.

په پښتو سفرنامو کې بله سفر نامه د پوهاند صدیق الله رښتین ده چې د (هند سفر) نومېږي. د رښتین دا سفر د ۱۳۲۹ هـ. ش. کال د قوس په شلمه پیلېږي او د ۱۳۳۰هـ.ش. کال د حمل په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي. دا سفر دري میاشتې او دري ورځې وخت نیسي. سفر د موټر، ریل، الوتکې او کښتۍ په واسطه ترسره کېږي او د هند، ایران او عراق د مختلفو سیمو او ځایونو یادونه کوي.

پوهاند صدیق الله رښتین دغه سفر نامه په خواږه، روان نثر لیکلی او د سفر د لیدنې، کتنې او ټولو کړاوونو انځور یې په ډېره ښه توګه کړی دی.

د پوهاند رښتین سفرنامه په پښتو سفرنامو کې لومړنۍ چاپ شوې سفرنامه ده خو لومړنۍ دوې سفرنامې تر دې پخوا لیکل شوي دي.

په پښتو سفرنامو کې بل د پام وړ لیکوال امیر حمزه شینواری دی.

شینواري د خپلو سفرونو په لړ کې دري سفرنامې لیکلې چې یوه یې (د کابل منظومه سفرنامه) نومېږي او په ۱۹۴۸م. کال کې چې کابل ته راغلی و دغه سفرنامه یې لیکلې وه. د حمزه شینواري دغه سفرنامه منظومه ده او د شعر بڼه یې ترکیب بند دی. له چاپ نه وروسته سانسور شوه. کابل ته په دویم سفر کې یې بله سفر نامه (د نوي پښتون) په نامه ولیکله. په دغه سفر نامه کې حمزه شینواري د کابل د لیکوالو لکه محمد ګل خان مومند، غلام حسن خان ساپي، عبدالرؤف بېنوا، صدیق الله رښتین، قیام الدین خادم، ملک الشعرا بیتاب، نیک محمد پکتیاني او دوست شینواري سره د لیدلو کتنو یادونه کوي. همدارنګه د افغانستان په بدلون او پرمختګ هم بحثونه لري.

د حمزه شینواري بله سفرنامه د (حجاز په لور) نومېږي او دده د حج د سفر حالات پکې راغلي دي. حمزه شینواری په ۱۹۶۹م. کال کې حج ته لاړ او د خپل دغه سفر ټولې خاطرې او د ایران او عربستان د ښارونو، زیارتونو او د حج مراسم یې په دغه سفرنامه کې انځور کړي دي. دا سفرنامه د اسلام د تاریخ په اړه هم یو لړ معلومات لري. د چاپ کال یې ۱۹۷۰م. دی.

له دغو سفرنامو راوروسته په پښتو کې ډېرې سفرنامې ولیکل شوې، لکه نالیدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوات د محمد نواز طاير، سفر په خير د طاهر اثر اپريدي او نوري...

نن سبا په پښتو ادب کې د سفرنامو ليکوال زيات شوي دي او ډېرې سفرنامې ليکل شوي او هم چاپ شوي دي.

د متن لنډيز:

په پښتو ادب کې سفرنامه په شلمه پېړۍ کې رامنځته شوه. لومړنۍ سفرنامه د ميا اکبر شاه وه چې د (آزادۍ تلاش) نومېده. لومړنۍ سفرنامه په پښتونخوا کې د سياسي تحريکونو د پيل پر بنسټ وليکل شوه. په دغه سفرنامه کې څو تنه زلميان د آزادۍ په تلاش له خپل کور کلي نه وځي او ډېر ملکونه په دې نيت گوري چې مرسته ترلاسه کړي او د انگرېزانو پر خلاف وجنگېږي. دويمه سفرنامه د عبدالاکبر خان اکبر ده چې د روسي ترکستان او افغانستان سفر نومېږي او لومړنۍ سفرنامې ته ورته مقصد لري. سفرنامه يو داستاني ژانر دی چې ليکوال پکې د خپل سفر حالات ليکي. په سفر پورې اړوند ټول مسايل په سفرنامه کې راځي. تاريخي، جغرافيايي او د ټولنپوهنې په اړه هم معلومات لري. سفرنامه لکه د داستان غوندې پېښې هم لري. ژبه يې هم داستاني وي خو داستان نه وي. په پښتو ادب کې ډېرې سفرنامې ليکل شوي دي خو لومړني ليکوال يې ميا اکبر شاه، عبدالاکبر خان اکبر، امير حمزه شينواری او پوهاند صديق الله رښتين دي. د سفر نامو اوږدوالی او لنډوالی د سفرونو په لنډوالي او اوږدوالي پورې اړه لري.

سفرنامه د يوې ورځې پر سفر هم ليکل کېږي او د څو ورځو او مياشتو پر سفر هم خو دا په ليکوال پورې اړه لري چې سفرنامه ليکي او که رپوټ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- په سفرنامه کې کوم شیان راځي؟
- د پښتو ژبې لومړنۍ سفرنامه کومه ده؟
- د پښتو سفرنامو د څو تنو لیکوالو نومونه واخلئ؟
- کومې سفرنامې پېژنئ په اړه یې معلومات ورکړئ؟

۲ـ لومړنۍ سفرنامې کومې او په څه ډول حالاتو کې رامنځته شوې؟

په اړه یې په خپلو کتابچو کې معلومات ولیکئ او بیا یې په وار سره په ټولګي کې ولولئ.

۳ـ که تاسې کوم سفر کړی وي، د خپل سفر حال له جزئیاتو سره په ټولګي کې نورو ته وواياۍ.

۴ـ لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروئ:

ټولنپوهنه، تحریک، عنعنات، غاصب

۵ـ څو تنه زده کوونکي دې خپل نظر څرګند کړي چې د سفرنامو لوستل څه ګټې لري؟

۶ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره د هغو سیمو یادونه وکړي چې د آزادۍ تلاش په سفرنامه کې لیکوال لیدلي دي.

۷ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن ځینې ټوټې ولولي او بیا دې د ویل شوې ټوټې مقصد او مفهوم په خپلو خبرو کې ټولګیوالو ته وواياي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو، خپلو سفرونو په اړه لیکنې وکړي چې کوم ځای ته تللي دي؟ څه یې لیدلي دي؟ د ځای، خلکو او لارې په اړه دې معلومات ولیکي او بله ورځ دې یې په درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنوي صنعتونه

په تېر لوست کې تاسې د بديع د علم په اړه ولوستل چې د بديع د علم بنسټ ابنبودونکی عبدالله بن معتز دی او د بديع په نامه يې د لومړي ځل لپاره کتاب هم ليکلی دی. دا مو هم ولوستل چې بديع دوه ډوله صنايع لري: لفظي او معنوي. د لفظي صنايعو ځينې ډولونه مو په تېر لوست کې ولوستل. په دې لوست کې به معنوي صنايع ولولئ. معنوي صنايع هغه دي چې له معنا سره سرو کار لري.

زمونږ په کلاسيکه شاعرۍ کې د لفظي صنايعو تر څنګه د معنوي صنايعو ټول ډولونه شته او څرنګه چې هغه وخت د صنايعو کارولو دود و، نو هر شاعر هڅه کوله چې په خپل شعر کې لفظي او معنوي صنايع راوړي او په دې توګه د خپل شعر ښکلا زياته کړي. په معنوي صنايعو کې ډېر ډولونه راځي، لکه: سوال او ځواب، ارسال المثل، طباق، مراعات النظير، حسن تعليل، لف و نشر، مبالغه، تجاهل العارف، کيسی، حسن مطلع، حسن مقطع او نور... په دې لوست کې يې ځينې نمونې ولولو.

_ تاسې کوم معنوي صنعت پېژنئ؟

_ معنوي صنعتونه څه ته وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ سوال او ځواب: هغه صنعت ته ویل کېږي چې شاعر په خپل شعر کې پوښتنې او جوابونه سره یوځای کړي. په یوه مسره کې پوښتنه وکړي او په بله کې ځواب ورکړي، لکه پیر محمد کاکړ چې وایي:

وې مې زلفې دې پرمخ ولې تاویږي وې نوروز دی شپه او ورځ سره سمېږي
وې مې وروځې دې لیندۍ باڼه دې غشي وې ناوک دي د عاشق په زړه څرخېږي
وې مې سترګې دې ترکومه خونخواري کا وې دا باز د ښکار په وینو نه مړېږي
وې مې ماته ستا د غاښو تعریف وکړه وې ږلې ده په لاله کې چې ویلېږي
وې مې وایه علاج د ژړا څه کړم وې باران د رحمت ښه دی چې ورېږي

وې مې خوار شو پیر محمد په عاشقۍ کې
وې پر ما چې مینه کړي هغه خوارېږي

۲ـ ارسال المثل: که شاعر په خپل کلام کې کوم مشهور متل راوړي، هغه ته ارسال المثل وایي، لکه:

چې اوربشې کړي کله غنم کېږي
دي ربښتیا چې څه کړي هغه اخلې

* *

وصل و هجر د یار دواړه ورور خور دي
په دنیا کې بې زحمته راحت نه وي

۳ـ طباق: دې صنعت ته تضاد یا تقابل هم وایي. که شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې راوړي چې یو د بل ضد وي، لکه: تور او سپین، شپه او ورځ، هجران او وصال، نو دې صنعت ته طباق وایي، لکه:

مرګ له تندې په مذهب زما بهتر دی
نه ژوندون د دون همتو په اوبو

* *

هر سهار سترګې د ګل په اوښکو ډکې
په دا باغ کې بې ژړلو خندا نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴_ مراعات النظیر: دې صنعت ته تناسب او تلفیق هم وایي او هغه دادی چې شاعر په خپل شعر کې داسې کلمې سره یوځای کړي چې یو له بله سره تناسب او نژدېوالی ولري، مثالونه یې دادي:

ستا چشمان به څه نگاه کا په خاکسارو
چې له کبره دې بانه گوري اسمان ته

* *

که هر څو یې په تندي بردي اړې زلفې
شانه نه پرېږدي د مستې خورې زلفې

۵_ حسن تعلیل: هغه صنعت دی چې شاعر د کوم وصف لپاره یو مناسب علت راوړي، لکه:

په غرور د حسن لمر وخوت اسمان ته
زر راپرېوت چې یې ستا ښه بشر ولید

* *

کعبې تور کمیس اغوستی دی له غمه
مظلومان قربانې کېږي بې حسابه

لمر سهار راخېژي او ماښام پرېوزي خو شاعر د لمر پرېوتل له دې څخه ګڼي چې زما د محبوب په لیدو راپرېوت. په دا بل بیت کې شاعر دا دلیل راوړي چې کعبې د مظلومانو د وژلو له غمه تور کمیس اغوستی دی.

۶_ لف و نشر: هغه صنعت ته وایي چې شاعر په خپل شعر کې لومړی څو شیان ذکر کړي او وروسته بیا د هغوی تعریف او بیان وکړي، لکه:

په ځان او په جهان کې ما دوه څیزه دي وکتلي
په ځان کې دواړه سترګې په جهان کې واړه ښکلي

* *

یا به دد یا به لرم یا به منګور یې
که دارل کړې یا چیچل یا په چا نېش یې

د لومړي بیت په لومړۍ مسره کې ځان او جهان ذکر شوی دی. په دویمه مسره کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب سره د هغوی بیان شوی دی. د دوهم بیت په لومړۍ مسره کې دد، لړم او منګور راغلی دی. بیا په ترتیب سره د هر یو تعریف شوی دی. په لومړي بیت کې مرتب او په دویم بیت کې غیر مرتب لف او نشر راغلی دی.

۷_ مبالغه: که شاعر په خپل شعر کې د یو شي وصف تر اندازې زیات بیان کړي او یا یې تصدیق او تکذیب ته شدت او قوت ورکړي، مبالغه ورته وایي. مبالغه په درې ډوله ده:

الف: تبلیغ: چې مدعا او مقصد د عقل او هم د عادت له مخې امکان ولري، لکه:

له خوشحال سره که کېني یو څو کاله
دا د غره خټک به واړه شاعران شي

ب: اغراق: چې مدعا د عقل له مخې امکان ولري خو د عادت له مخې ناشونی وي، لکه:

زه رحمان په زړه نری کړم هغو نجونو
چې یې ملا ده د ویښته په دود نری

ج: غلو: چې مدعا او مقصد هم د عقل له مخې او هم د عادت له مخې ناشونې وي، لکه:

بې له تا هسې ضعیف یم ګلرخساره
پر حباب باندې که پښه ږدم نه ماتېږي

* *

و اسمان ته به د شعر زینې کېږدي
که حمید د غم له سره زنګون وکېښ

۸_ تجاهل العارف: هغه صنعت ته وایي چې شاعر یو معلوم او څرګند شی مجهول وګڼي او سره له دې چې په مطلب ښه پوه وي د کوم نزاکت له مخې خپل ځان ناپامه اچوي، لکه:

دا د کوم ګلرخ له غمه په ګلشن کې
دي ګلان په وینو سره لکه سالو

* *

دا بورا دی چې پر پانې د ګل ناست دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه پـرمـخ د ګـل رخـسـار ده تـوره زخـه

۹ـ کیسې (لغز) چې د یو شي خواص، صفات او نورې نښې وښودل شي او ددغو خواصو او نښو له مخې له مخاطب څخه د هغه شي د نښودلو پوښتنه وشي، لکه:

له پاسه راغی سور بلوخ اغوستی یې پنځه پنځوس
سـور دی صندوقک دی له سـرو غـمیو ډک دی

له لومړۍ کیسې څخه مقصد پیاز او له دویمې څخه انار دی.

۱۰ـ تلمیح: دا هغه صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې یوې مشهورې کیسې یا پیښې ته اشاره وکړي نو که لوستونکی په هغه کیسه او یا پېښې باندې پوه نه وي د شعر معنا ورته ګرانېږي، لکه:

د دنـیـا پـه دښـمـنۍ کـې عـیـسـی وخـوت و آسمان ته
پـه دوسـتۍ کـې یـې لا ځـي تحت الـثـرا تـه قـارون هسې

* * *

د مـاهـي پـه نـس کـې پـروت لـکـه یـونـس یم
مـګـر خـلاص مـې پـه کـرم حـق تـعـالـی کـا

په لومړي بیت کې د عیسی علیه السلام او قارون او په دویم بیت کې د یونس علیه السلام کیسې ته اشاره شوی ده.

۱۱ـ تکرار حسن: هغه صنعت ته وایي چې شاعر په خپل کلام کې کومه کلمه د تدریج، تاکید، ډېروالي یا داسې نورو اغراضو له امله تکرار کړي، لکه:

ستا مـلالو سترګو زړه له ما نه یووړ اهـو چشمه ګلـرخساره راشه راشه
چې همېش دې د اغیار په لور سفر دی یو ځـل یار ته له اغیاره راشه راشه

***

بیا راتلـه دې و جهان ته بل وار نشته بل وار نشته بل وار نـشته وار دی دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنديز

د بديع علم د عباسيانو په زمانه کې رامنځته شو. بنسټ ايښودونکی يې عبدالله بن معتز و چې د بديع په نامه يې کتاب تاليف کړ. وروسته نورو ليکوالو هم په دې برخه کې کتابونه وليکل. پښتنو ليکوالو هم په دې برخه کې بېلابېل کتابونه وليکل. په افغانستان کې عبدالرؤف بېنوا د ادبي فنون يو کتاب وليکو او بيا وروسته نورو ليکوالو دا لړۍ پراخه کړه. بديع هغه علم دی چې د هغه په واسطه د شعر د ښکلا وجه څرګندېږي.

بديع دوه ډوله صنعتونه لري لفظي او معنوي. لفظي له لفظ سره سر و کار لري او معنوي له معنا سره. په دې لوست کې تاسې معنوي صنايع وپېژندل، ځينې نمونې يې لکه سوال و ځواب، ارسال المثل، طباق، مراعات النظير، حسن تعليل، لف و نشر، مبالغه، تجاهل العارف مو ولوستل. د بديع د صنايعو په پېژندنې سره تاسې کولای شئ چې د پښتو ژبې د کلاسيکو شاعرانو شعرونه په اسانۍ ولولئ او معنا يې کړئ.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې له ښوونکي وروسته د لوست يوه يوه برخه په وار سره ولولي او بيا دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- د بديع په برخه کې د لومړي ځل لپاره چا کتاب تاليف کړ؟
- په پښتو ژبه کې د بديع په برخه کې چا کتاب وليکه؟
- معنوي صنايع څه ته وايي؟
- د څو لفظي صنايعو نومونه واخلئ؟

۲ـ زده کوونکي دې په متن کې راغلي شعرونه په وار سره ولولي او بيا دې يې معنا کړي.

۳ـ په لاندې بيتونو کې کوم ادبي صنعتونه شته؟

وې مې زه د رقيب ظلم په عذاب کړم
وې پاداش د خپل عمل درته رسېږي

* *

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زحمته راحت نشته زما وروره
که راحت غواړې زحمت درلره بویه
* *

ښه متل دی څه کړې هغه به رېبې
د عمل جزا موندی شي لاس په لاس

۴ـ زده کوونکي دې لاندې بیتونه په غور سره ولولي او ادبي صنعتونه دې په نښه او په خپلو کتابچو کې وليکي چې کوم ډول صنعتونه دي بیا دې یې په ټولګي کې ولولي:

زه په سرو سترګو ژړا کړم چې ته درومې
ته له ما چې رخصتېږې په خندا ځې
* *

هر ساعت شمه راکښې دار و سنګسار ته
محبت قایم مقام کړم د منصور
* *

تورې سترګې، تورې وروځې تورې زلفې
دا همه تورې بلا دي زه یې خوار کړم
* *

چې نظر یې د ګلرخ ساقي په مخ شو
د نرګس له لاسه جام پرېوت نسکور شو

۵ـ په لاندې بیتونو کې د لف و نشر، مبالغه، تجاهل العارف او طباق صنعتونه په نښه کړئ:

ستا له زلفو له رخساره له سرو شوندو
پیدا شوي شام، شفق و صبح دم دي
* *

دا د ګلو په مخ وینم که د بنکلو
ملغلرې که خولې که شبنمونه
* *

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خندا خندا چې تلمه يې ديدار ته
اوس يې دروم په ژړا ژړا مزار ته

* *

ستا له غمه مې په سر کې هومره شور دی
چې به نه وي هرګز شور د لاهور هومره

۶ـ زده کوونکي دې لاندې شعرونه ولولي او ودې وايي چې کوم ادبي صنعتونه پکې راغلي دي:

هر کله راشه تازه بهاره تا دي راوړي ګلان بې شماره
نرۍ شمال دې دم د عيسی دی سحر چې راشي له جګ کهساره

* *

نشته بوی د ستا کميس په درست جهان کې
څه امکان لري په مصر او کنعان کې

* *

لار د محبت ده تل روغ سلامت نه يم
زه چې په دا هسې لارې تلمه تلم
څه وايي و ماته حال دې څه و په هجران کې
نور خبردار نه يم په زړه سومه، سومه سوم
خلق راته وايي رنګ دې بيا زېړ شو عاشق شوې
هېڅ منکري نه کړم خلقه شومه شومه شوم
دود د عاشق دادی چې په عشق کې ملامت وړي
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه، وړمه وړم

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پخپله خوښه يو شعر له کوم ديوان څخه وليکي او په هغه کې دې معنوي صنعتونه په نښه او په بل پښتو درسي ساعت کې دې يې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپېريال ساتنه

خدای جل جلاله انسان اشرف المخلوقات پیدا کړ او د انسان لپاره يې د ځمکې پرمخ ډول، ډول موجودات پیدا کړل چې د انسان ژوند ورسره ترلی دی. زمونږ شاوخوا چې څه وینو لکه ځمکه، اوبه، حیوانات، نباتات، تیږې، غرونه، ځنګلونه، ژوي او نور هر څه د چاپېریال توکي دي چې ټول په مجموع کې د چاپېریال په نامه یادېږي.

مونږ په چاپېریال کې ژوندکوو او د ژوند ضرورتونه هم له چاپېریال څخه پوره کوو. د چاپېریال ساتنه چې یوه ډېره جدي موضوع ده، زمونږ په ژوند پورې ترلې ده. د چاپېریال ساتنه په ټولو انسانانو پورې اړه لري بلکې ددوی دنده ده چې چاپېریال ته پاملرنه وکړي او چاپېریال له هر ډول ناوړه اغېزو څخه وساتي.

_ چاپېریال څه ته وایي؟

_ د چاپېریال ارزښت په څه کې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د شاوخوا ټولو موجوداتو ته چاپېريال ويل کېږي. چاپېريال په دري ډوله دی لکه ژوندی چاپېريال چې په هغه کې انسانان، حيوانات او نباتات راځي. دويم غير ژوندی چاپېريال لکه هوا، تيږې او اوبه. دريم فرهنګي چاپېريال چې د انساني اړيکو او فرهنګي اړيکو څخه بحث کوي.

انسان خواړه، کالي او کور له چاپېريال څخه لاس ته راوړي. څښتن تعالی د طبيعت د نظام د اجزاوو په منځ کې يو طبيعي تعادل رامنځ ته کړی دی، که دغه تعادل له منځه لاړ شي نو په چاپېريال ناوړه اغېزه کوي. ژوندي موجودات لکه نباتات او حيوانات د غذايي موادو په توليد سره د تعادل په ساتنه کې او د انساني نسل په پايښت کې مهم ځای لري. نباتات د طبيعي اقتصاد اصلي بنسټ جوړوي. حيوانات له نباتاتو څخه او انسانان له ژويو او نباتاتو څخه ګټه اخلي.

له نباتاتو پرته وابنه خوړونکي حيوانات او هم انسانان ژوند نشي کولی. ځکه چې حيوانات پر نباتاتو او انسانان پر دواړو ژوند تېروي.

د چاپېريال ساتنې لپاره پر چاپېريال باندې پوهېدنه ډېره ضروري ده. د چاپېريال د تخريب يو عامل د چاپېريال له اهميت څخه د خلکو بې خبري ده. د چاپېريال ساتنه د نېکمرغۍ دوام دی او تخريب يې د بشري تمدن پای ته رسېدنه ده. د چاپېريال د اجزاو ترمنځ اړيکې د زنځير کړيو ته ورته دي چې د يوې کړۍ له منځه تګ پر ټولو کړيو اغېزه کوي. د مثال په ډول که الوتونکي له منځه لاړ شي حشرات او موږکان زياتېږي. ډېر الوتونکي مرغان ملخان خوري. بازونه موږکان خوري او په دې توګه کرنيزه ځمکه ترې په امن کې پاتې کېږي او د حاصلاتو د زياتېدو سبب کېږي.

همدارنګه که څړ ځايونه له منځه لاړ شي مالداري کمېږي او يا يې په محصولاتو کې کموالی راځي. د کرنيزو ځمکو او حيواني محصولاتو کمښت د انسانانو ژوند په خطر کې اچوي.

ځنګلونه چې يوه طبعي شتمني ده او د ټولو انسانانو طبعي ميراث ګڼل کېږي، که له منځه لاړ شي او يا تخريب شي نو په چاپېريال ناوړه اغېزه کوي. ځکه چې له ځنګلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د اړتيا وړ لرګي لاس ته راځي. همدارنګه هوا تصفيه کوي. د سيلابونو مخه نيسي، طبيعي بڼکلا رامنځته کوي. د ونو ريښې ځمکه ټينګه ساتي او د سختو بارانونو مخه نيسي.

له بل پلوه د وحشي حيواناتو ځای دی چې د نشتوالي له امله له مرګ سره مخامخ کېږي. ځنګلونه له دغو ګټو سره د هوا او تودوخې د درجې په تغير کې هم زياته اغېزه لري.

د چاپېريال مهم توکی چې پرته له هغه نه ژوند امکان نه لري هوا ده. د انسانانو او ژوندیو موجوداتو لپاره د لوی خدای جل جلاله ستر نعمت پاکه او صافه هوا ده. د انسانانو په نه پاملرنې سره هوا ککړېږي او په ټولنه کې د ډول، ډول خطرناکو ناروغيو لکه ساه لنډي، د هډوکو درد، سرطان او نورو لامل کېږي. څومره چې صنعت پرمختګ کوي په هماغه اندازه هوا ککړېږي. د خاورو ذرې، لوګي، بويونه او ډول ډول کيمياوي مواد، زهري ګازونه هوا ککړوي، چې بيا دغه ککړه هوا د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو ژوند له خطر سره مخامخ کوي. د ځنګلونو سوځېدل، قوي بادونه، کارخانې، موټرې، د ډبرو سکرو سوځېدل، د سګرټ څکول هوا ککړوي. د هوا ککړتيا د ځمکې د تودوخې درجه هم زياتوي.

د چاپېريال بل مهم توکی چې له هغه هم پرته ژوند نشي کېدای اوبه دي. په اوبو کې د عضوي او غير عضوي موادو زياتوالی د اوبو فزيکي او کيمياوي ځانګړتياو ته بدلون ورکوي چې بيا د خاصو ضرورتونو د استعمال لپاره وړ نه دي چې دې ته د اوبو ککړتيا وايي.

په اوبو کې د فضله موادو اچول اوبه ککړوي. د ښارونو ناولتيا د کرنيزو ځمکو فضله مواد او د صنعتي موادو زياتوالی د اوبو د اکسيجن اندازه کموي. د چاپېريال بل مهم توکی خاوره ده چې د کاني موادو، عضوي موادو، هوا او اوبو څخه جوړه شوې ده. د کيمياوي سرو، حشره وژونکو داروګانو زيات استعمال د خاورې په خواصو باندې اثر کوي چې په پای کې د نباتاتو په وده اثر پرېږدي. د کانونو، سرکونو او ودانيو د جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره د خاورې کیندل هم په خاوره ناوړه اغیزه کوي. چاودنې او د فضله موادو زیاتېدل هم پر چاپېریال باندې ناوړه اغیزه کوي. کثافات د جامد، مایع او نیمه جامد موادو پاتې شوني دي لکه ډول، ډول پلاستیکونه، کاغذونه، د اوسپنې توټې، شیشه یي بوتلونه، د مېوو، سبزیجاتو، خوراکي توکو، هوټلونو، ساختماني او صنعتي فابریکو د موادو پاتې شوني په هوا، اوبو او خاورې باندې ناوړه اغیزې لري. که چېرې دغه کثافات په مناسب ځای کې وانه چول شي په پایله کې به چاپېریال ته خطرناکې ستونزې پیدا کړي.

د چاپېریال په وړاندې مهم خطرونه د نفوسو ډېروالی، د طبیعي سرچینو، څړ ځایونو، ځنګلونو، وحشي حیواناتو، د خاورې تخریب او نباتاتو له منځه تګ دی. د چاپېریال ساتنې لپاره باید د چاپېریال سازمانونه او قوانین جوړ شي. خلکو ته د چاپېریال د ارزښت په اړه پوهه او خبرتیا ورکړي.

د ښوونځیو، پوهنتونونو، ورځپاڼو، جریدو، راډیو، تلویزیون، پوسټرونو او اعلانونو په واسطه د خلکو په خبرتیا او پوهاوۍ کې کار واخیستل شي.

له طبیعي منابعو څخه معقوله ګټه اخیستل د چاپېریال د ساتنې معنا لري، نه دا چې په خپل حال پرېښودل شي. له طبیعي زیرمو څخه باید ناوړه ګټه وانه خیستل شي. ټول شیان یو له بل سره اړیکې لري که په یو جز کې لاسوهنه وشي نورې برخې متاثره کوي. په طبیعت کې هر شی یوه دنده لري، یو شي ته مضر او یا مفید ویل د انسانانو دګټې له مخې ټاکل کېږي.

ددې لپاره چې خپل چاپېریال او خپل ژوند له خطره وژغورو نو اړ یو چې چاپېریال ته د ورپېښو خطرونو مخه ونیسو او هم د چاپېریال په پاک ساتلو کې زیار وباسو. د چاپېریال پاک ساتل د هر انسان دنده ده چې په ټولو پورې اړه لري. موږ هر یو باید له خپل کور او کوڅې، ښوونځي او لارو نه د چاپېریال په پاک ساتلو کې خپلې دندې په پام کې ونیسو. خپل کور پاک وساتو، د کور کوڅه پاکه وساتو، کثافات په خپل مناسب ځای کې واچوو. په سړک او لارو باندې د مېوو پوټکي او د پلاستیک کڅوړې ونه غورځوو. که بل څوک داسې کوي باید پاملرنه یې راوګرځوو. له طبیعي زیرمو او نورو منابعو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید په معقوله او په مسلکي ډول ګټه واخیستل شي او له بې ځایه لاسوهنې څخه زموږ چاپېریال وژغورل شي. د استوګنې چاپېریال چې موږ او تاسې پکې ژوند کوو که پاک ونه ساتل شي نو له ډول، ډول خطرناکو ناروغیو سره مخامخ کېږو.

د متن لنډیز:

زموږ چاپېره ټولو موجوداتو ته چاپېریال ویل کېږي. د چاپېریال مهم توکي هوا، اوبه او خاوره ده. د طبیعت د نظام د اجزاو په منځ کې خدای جل جلاله یو طبیعي تعادل رامنځته کړی دی. که دغه تعادل له منځه ولاړ شي نو په چاپېریال ناوړه اغېزه کوي.

زموږ په شاوخوا کې د چاپېریال ټول توکي لکه اوبه، هوا، خاوره، نباتات، حیوانات، وحشي ژوي، ځنګلونه او نورې زیرمې او طبیعي منابع یو له بل سره داسې اړیکې لري چې که په یو توکي کې ناوړه لاس وهل کېږي په نورو توکو تاثیر کوي او چاپېریال متضرر کېږي. د مثال په توګه که هوا، اوبه یا خاوره متضرره شي نو ژوند ستونزمن کېږي او یا امکان نه لري.

موږ په چاپېریال کې ژوند کوو، که چاپېریال ته پاملرنه ونه کړو نو ژوند ته مو خطرونه پېښېږي. د بېلګې په توګه که ځنګلونه ووهل شي نو سېلابونه زیاتېږي. ځمکه د بارانونو او سېلابونو له کبله خرابېږي، هوا تودېږي، ځکه چې ځنګلونه هوا تصفیه کوي او د سیلابونو مخه نیسي. موږ ته لازمه ده چې په چاپېریال کې په ناوړه توګه لاسوهنه ونه کړو خو په معقوله او مسلکي ډول په چاپېریال کې لاسوهنه بې ګټې نه ده.

همدارنګه موږ ته لازمه ده چې موږ د استوګنې چاپېریال پاک وساتو او له ډول، ډول مرضونو څخه ځانونه وساتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او بیا دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- د چاپېریال مهم توکي کوم دي؟
- د چاپېریال د توکو ترمنځ څه ډول اړیکې دي؟
- که ځنګلونه ووهل شي څه زیانونه رامنځته کېږي؟
- له طبیعي موادو څخه څه ډول ګټه اخیستل په کار ده؟

۲ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د استوګنې د چاپېریال د پاکۍ په اړه خبرې وکړي.

۳ـ څو زده کوونکي دې چاپېریال ته د ورپېښبنو خطرونو په اړه خبرې وکړي.

۴ـ چاپېریال څنګه پاک وساتو؟ زده کوونکي دې په دې اړه یو پراګراف ولیکي او په ټولګي کې دې یې واوروي.

۵ـ د طبیعت د اجزاو ترمنځ یو تعادل موجود دی دا خبره دې زده کوونکي وڅېړي او بحث دې پرې وکړي.

۶ـ موږ د چاپېریال په وړاندې څه مسؤولیتونه لرو؟

۷ـ زده کوونکي دې په وار سره په لاندینیو موضوعاتو باندې خبرې وکړي خپل کور، کوڅه، ښوونځی او ښار څنګه پاک وساتو؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپل ښار د چاپېریال په اړه په کور کې یوه لیکنه وکړي چې زموږ دکلي یا ښار چاپېریال څه ډول دی؟ بله ورځ دې یې په ټولګي کې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هوتکو ادبي دربار

د دولسمې هجري پېړۍ د دويمې لسيزې په پای کې په کندهار کې ګرګين د صفوي حکومت استازی حکمران و. داسې ظلمونه او ناروا وې يې کولې چې ددغې سيمې ټول خلک يې له ظلمه نارامه وو. تاسې په تېرو ټولګيو کې لوستي چې ميرويس نيکه خپل خلک پر ځان راټول کړل او د کوکران او مانجې له جرګو وروسته يې د ګرګين پر ضد ملي قيام وکړ او په (۱۱۱۹هـ ق) کال يې کندهار دده له ظلمه خلاص کړ.

د ميرويس له مړينې وروسته دده زوی شاه محمود پاچا شو. کله چې شاه محمود اصفهان ونيو نو پخپله په اصفهان کې پاتې شو او په کندهار کې يې خپل ورور شاه حسين پاچا کړ. د هوتکو د دولت حدود له ملتان څخه پيل او د اوسني ايران د دجلې تر سيندې پورې رسېده. ډيره جات اوسنی بلوچستان، غزنی، کندهار، ګومل، هرات هم د دوی په حکمرانۍ کې وو. شاه حسين چې پخپله يو فرهنګپالې کورنۍ ته منسوب و او له ژبې او ادب سره يې زياته علاقه وه نو فرهنګي کارونو ته يې خپله زياته پاملرنه وارولې. په دې لوست کې د شاه حسين په وخت کې تاسې ته د فرهنګي کارونو په اړه لنډې خبرې لرو.

_ شاه حسين هوتک خپلې ژبې او ادب ته کوم کارونه کړي دي؟

_ د ميرويس خان هوتک په کورنۍ کې کوم شاعران پېژنئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هوتکو د پاچاهۍ په دوران کې ډېر پښتانه شاعران او ادیبان پالل شوي او روزل شوي دي.

د هوتکو کورنۍ د علم او پښتو ژبې او ادب د پاللو لپاره ډېر خدمتونه کړي دي. حاجي میرویس خان هم د پښتو ژبې او ادب سره ډېره مینه درلوده. د رحمان بابا اشعار به یې لوستل او زیاته عقیده یې ورته لرله.

په سختو حالاتو کې به یې د رحمان بابا دیوان ته مخه کوله. سیدال خان ناصر، ملا پیر محمد، بابو جان بابي، داود خان او ملا نور محمد دده د دربار عالمان وو.

شاه حسین هوتک پخپله یوې ملي او فرهنګي کورنۍ ته منسوب و. د میرویس نیکه مور نازو انا پخپله د پښتو ژبې ښه شاعره وه چې د شعرونو دیوان یې دوه زره بیته درلودل خو مورِ ته یې یوه څلوریزه پاتې ده.

سحرګه وه د نرګس لـــهمه لانده ځاځکي ځاځکي یې له سترګو څڅېده
ما ویل څه دي کښلی ګله ولې ژاړې ده ویل ژوند مې دی یوه خوله خندېده

د میرویس نیکه په اولادونو کې ددې یو زوی شاه حسین او یوه لور زینبه د پښتو ژبې شاعران وو. د زینب یوه مرثیه چې د خپل ورور شاه محمود هوتک په مړینه یې ویلی مورِ ته راپاتې ده:

ږغ ســو چــې ورور تــېر لــه دنــیــا ســونــا
کــنــدهــار واړه پــــه ژړا ســونــا
دا رونړ جــهــان راتــــه تــورتــم دی نــا
زړه د بــېــلــتــون پــه تــېــغ کــړم دی نــا
هــوتــک غــمــجــن پــه دې مــاتــم دی نــا
د پــاچــاهــۍ تــــاج مــو بــرهــم دی نــا
چــې شــاه مــحــمــود تــېــر لــه دنــیــا ســونــا
کــنــدهــار واړه پــــه ژړا ســونــا

دغه مرثیه تاسې په تېرو ټولګیو کې لوستلې ده شاه حسین چې کله پاچا شو نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوتکیانو دولت یې ترګوملې او کویټې پورې پراخه کړ. دی یو عادل او مدبر پاچا و. دربار یې له عالمانو، شاعرانو او فاضلانو ډک و. پخپله د پښتو ژبې شاعر و. محمد هوتک د پټې خزانې کتاب په ۱۱۴۱هـ.ق. کې دده په سپارښتنه تالیف کړ او د پښتو د لرغونو شاعرانو شعرونه یې پکې خوندي کړل. پټې خزانې د شاه حسین یوه غزله خوندي کړې چې څو بیتونه یې په دې ډول دي:

بېلتانه دې د غمو په چپاو چور کړم په تیارو کې د هجران یې له تا دور کړم
بېلتانه دې هسې اوښکې راڅېرې کړې ستا د فکر په ګرداب کې تل عبور کړم
د فراق پرې مې کېښود ومرې ته په جهان کې یې رسوا لکه منصور کړم
په وصال دې هم نابناد یمه دلبرې د بېلتون فکر په زړه کې ناصبور کړم
د بنو غشی مې وخورې په ځیګر کې غمازانو په غمزو غمزو مهجور کړم

خلق یاد زما د عشق په لیونو کا
زه حسین محبت هسې مشهور کړم

د هوتکو له کورنۍ سربېره نور شاعران هم په دغه وخت کې وو چې شعرونه یې ویل. په دغه وخت کې د پښتو ادبیاتو د ودې لپاره ښه زمینه برابره وه. شاه حسین پاچا به په خپل دربار کې عالمان او شاعران پالل، دوی به یې په انعامونو او جوایزو لمانځل. د نارنج په مانۍ کې یې د ادبي دربار بنسټ کېښود. د کندهار په پاچاهي ارګ کې چې د نارنج مانۍ یې بلله په اوونۍ کې به یو ځل په شاهي کتابتون کې دا ادبي دربار جوړېده. پخپله پاچا او نورو شاعرانو به پکې ګډون کاوه. محمد هوتک به ددې دربار د منشي په توګه هم حاضر و. پښتو حماسې هم په دغه وخت کې په منظم او بشپړ ډول رامنځته شوې. حماسه د ادبیاتو یو موضوعي ډول دی چې په دې ډول کې جنګي مسایل په حکایتي او داستاني ډول بیانېږي. په حماسه کې کله کله د رزم د خبرو ترڅنګه د بزم خبرې هم څرګندېږي. حماسه کېدای شي په نظم کې وي او یا هم په نثر کې وي. هغه اشعار چې جنګي او رزمي خبرې پکې راغلي وي او داستاني شکل ونه لري په حماسو کې نه حسابېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حماسې په درې ډوله دي: تاريخي حماسې، عشقي حماسې او مذهبي حماسې.

په پښتو کې د حماسو ليکل د هوتکو د پاچاهۍ په دوران کې پيل شوي دي. په دغه دوران کې ډېره مهمه حماسه د ريدي خان مومند نظم کړې (محمود نامه) ده، په دې حماسه کې د ميرويس نيکه او شاه محمود هوتک د جنګونو کيسې راغلې دي. دا کتاب ريدي خان مومند تر (۱۱۳۶هـ.ق.) وروسته په خواږه نظم کښلی دی او شاه حسين ورته زر طلاوې د انعام په توګه ورکړي دي.

د ريدي خان مومند د حماسې بشپړ متن په لاس کې نشته. يوازې د ګرګين د وژلو کيسه يې پټې خزانې تر موږه رارسولې ده. ددې وخت بله حماسه (جګړه د محمود افغان او نيول د اصفهان) ده. ددې حماسې ليکوال محمد امين سر پرېکړی نومېږي. محمد امين په (۱۱۳۵هـ.ق.) کال له شاه محمود هوتک سره د اصفهان د نيولو په جګړه کې شامل و. په دې حماسه کې د اصفهان د نيولو د جګړې ټوله کيسه راغلې ده.

د هوتکو په دوران پورې اړوند دريمه حماسه (قصه د برېښنا يا خدی) ده چې د محمد امين سرپرېکړي د زوی حافظ نور محمد ده.

دا حماسه په خواږه نثر کې ليکل شوې ده. د هوتکو په دربار پورې نور ترلې يو شمېر شاعران وو چې دلته يې په لنډيز يادونه کوو.

داود هوتک د قادر خان هوتک زوی د ميرويس نيکه د لښکرو مشر و. په (۱۱۳۶هـ.ق.) کې وفات شوی دی. شعرونه يې ويل او د تجنيس په صنعت کې لوی لاس درلود. په پټه خزانه کې يې دوې رباعياني راغلي دي چې يوه يې په دې ډول ده:

چې د چا په زړه کې اور د مينې بل سي په وربل يې لمبې ګډې حال يې بل سي
اور د مينې کله مري د زړه له مينې د وربل مينه که تل د زړه په تل سي

ددغه دربار بل شاعر ملا محمد يونس توخي د ملا محمد اکبر زوی دی. د شاه حسين پاچا په وخت کې د کندهار د جامع جومات امام و. د شاه حسين په دربار کې بل عالم ملا زعفران تره کی و چې په طب او حکمت کې يې د (ګلدسته زعفراني) په نامه يو کتاب ليکلی دی. دی د پښتو ډېر ښه شاعر و. کله چې د شال او ژوب سيمې فتحې شوې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه حسین پاچا ته یې دغه زیری په دې ډول وکړ:

د حسین بادشاه د بخت نندارهګـورئ چې یې فتح په لښکرو ږوب و شال کا
چې دا زیری یې راوړی دی حضور ته نو زعفران انعام پر سر زعفراني شال کا

شاه حسین پاچا ددې شعر په اورېدلو سره ډېر ژر زعفراني شال ورکړ او په مجلس کې یې ټول حاضرین په یو یو زعفراني شال ونمانځل.

بابوجان بابي دکرم خان زوی چې دکلات حاکم و او د اصفهان په جنګونو کې د شاه محمود هوتک ملګری و ددغه ادبي دربار بل شاعر و چې د پښتو ملي نکل (شها او ګلان) یې په پښتو نظم کړ چې دوه بیته یې په دې ډول دي:

عشـــق یو هسې توریالی دی چې پر هر ځای یې بری دی
د عشق اور هسې سوزان دی چې ســوځلی یې جهان دی

ددغه ادبي دربار بل غړی ستر سپه سالار شاعر سیدال خان ناصر و چې د هوتکو د پاچاهۍ په ټوله دوره کې د لښکرو مشر و. په ټولو جنګونو کې یې برخه درلوده او د نادر افشار په وړاندې دکندهار په دفاع کې په مېړانه وجنګېده.

سیدال خان ناصر د نادر افشار په امر ږوندکړای شو او پاتې عمر یې تر مړینې پورې دکابل په شکر دره کې تېر کړ. د شکر دري د سیاه سنګ په هدیره کې دفن دی. پټې خزانې دده یوه ښکلې بدله خوندي کړې ده چې د سر بیتونه یې دادي:

یار ماله هسې ګران سو راتېر تر ټول جهـــان سو
نور نه وینم په سترګـو جهان ټول راته جانان سو

ملا نور محمد غلجی د ملا یار محمد توخي زوی د هوتکو دکورنۍ د ښځو او نجونو استاد او لوی عالم و. یو کتاب یې د نافع المسلمین په نامه لیکلی دی. دغه کتاب په کابل کې چاپ شوی دی. یو مخمس یې چې پټې خزانې راوړی دی په دې ډول پیلېږي:

ته مؤمن ژوندی په دین یې زما یاره ته ژړا فریادکـــوه په څوکـــو کاره
اســـــتغفار توبه کـــوه د ځان د پاره ته هم ځان ساته پناه غواړه له ناره

بیداري کړه په سهار زما دلداره

بهادر خان د شاه حسین د لښکرو لوی سالار و. د شال او ږوب فتح دده په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې. شاه حسين به ده ته د ورور خطاب کاوه. بهادر خان هم د پښتو شاعر و. يوه بدله يې پټې خزانې ثبت کړې ده.

بهلـتون دې زور دی تـر لهمو مې سهار نم ځاځي
لکـه شبنم ځاځي
دا ســره یاقوت مې په لــمن کې ستا په غم ځاځي
په غــم الم ځاځي
گــوره لیلی باران د اوښــو ســتا په چم ځاځي
څنگه پر چم ځاځي

د هوتکو د ادبي دربار بله مشهوره څېره محمد هوتک د داود خان زوی دی. د هوتکو د دربار منشي او کاتب و. د شاه حسين په هڅونه يې د پښتنو شاعرانو تذکره (پټه خزانه) وليکله. بل کتاب يې د خلاصة الطب په نامه وليکو چې پاچا ورته سل طلاوې انعام ورکړې. يو بل کتاب يې د خلاصة الفصاحت په نامه هم ليکلی و. محمد هوتک د هوتکو د پاچاهۍ له سقوط نه وروسته د کلات سيوري ته راغی. هلته يې کارېز و واهه او کلی يې جوړ کړ. په پټه خزانه کې يې د شعرونو نمونې راغلي دي. د يوې غزلې مطلع يې داده:

ساقي پاڅه د سرو ميو ډک يو جام را ستا لـه غـمـه نـا ارام يـمـه ارام را
بـې لـه ميو د بـهـار نـنـدارې څـه کړم پسرلی سـو د خـوښـۍ ښـه پيغام را
د بهلتون په تاريکۍ کې مې زړه شين سو رنـا لـمـر د جـان د مـيـو پـه ظـلام را
ناکاميو د دنـيـا مـې کـام را تـريـخ کا چې مې خوږ کا کام ترخه و ما ناکام را
نه نشاط سته نه مستي سته نه رندي سته چې سم رند هغه اوبه علی الدوام را
په اوبو مې سوړ زړګی لږ څه راتود کا محمد ته د اور ډک يو هسې جام را

پير محمد مياجي چې د پير افغان په لقب ستايل شوی و. دی هم د هوتکو د دورې عالم او شاعر و. دوه کتابونه يې ليکلي چې يو يې د (افضل الطرايق) په نامه د اخلاقو او عقايدو په بيان کې ليکلی دی. بل کتاب يې د (القرايض في رد الروافض) په نامه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیر محمد د شعر نمونه هم په پټه خزانه کې راغلې ده. بل شاعر نصر الدین خان اندړ دی چې د (پلار ویلي) په نامه یې یو کتاب په پښتو نثر کې لیکلی دی. په پټه خزانه کې یې نمونه راغلې ده:

د خـوار عـاشـق ژړا مـدام وي دا څـه کـار دی نا
کـه وي پـه پټه خـولـه، همدغه يـې گفتار دی نا
د خـــوار عـاشـق مـدعـا داده کـه ژړا کـي نا
چـې ورښـکـاره خـپـلـه زيـبـا مـخ دلـربـا کـي نا
پـه خپل وصـال کـه يـې خوشحاله محبوبا کـي نا
بـل څـه نـه غـــواړي هـمـدغـه امـيـــدوار دی نا

د متن لنډیز:

د هوتکو د پاچاهۍ دوران (۱۱۱۹ ـ ۱۱۵۰هـ.ق.) د پښتو ادبیاتو د منځنۍ دورې یو غوره پړاو دی. په دغه دوره کې ادبي دربار ایجاد شو. عالمان او شاعران راټول شول. عالمان او شاعران به په انعامونو نمانځل کېدل.

تحریري حماسي اثار په همدغه مهال کې رامنځته شول. تاریخي بشپړې حماسې او عشقي حماسې ددغه دوران لاسته راوړنې دي. ددې دوران نمونې د ولسي ادب ډېرې ښکلې نمونې دي. ددغه دوران د اثارو روحیه هېواد پالنه ده. د هنري ارزښتونو له پلوه ددغه دوران شعرونه په لوړه سطحه کې نه دي.

په دې دوران کې له نظم سربېره نثري کتابونه هم کښل شوي دي. لکه پټه خزانه، جگړه د محمود افغان او نیول د اصفهان او ځینې کیسې او نکلونه چې د پښتو د نثر په تاریخ کې خاص ځای لري.

ددغه وخت بله مهمه حماسه د ریدي خان مومند نظم کړې (محمود نامه) ده. قصه د برېښنا یا خدۍ عشقي حماسه ده چې په نثر لیکل شوې ده. د هوتکو په شاهي کورنۍ کې ښځو هم شاعري کوله. د هوتکو د پاچاهۍ په وخت کې په لسګونو نور شاعران او عالمان هم وو چې له دغه دربار نه لرې وو او ادبي هستونې یې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او لاندې پوښتنې دې ځواب کړي:

- میرویس نیکه په څه ډول هېواد له پردیو اشغالګرو څخه خلاص کړ؟
- ادبي دربار د چا په وخت کې جوړ شو او څه کارونه یې سرته رسول؟
- د ادبي دربار کوم عالمان او شاعران پېژنئ نومونه یې واخلئ؟
- د هوتکو په کورنۍ کې کومې ښځې شاعرانې پېژنئ؟

۲ـ زده کوونکي دې ددغه دوران مهم ادبي کارونه په یو پراګراف کې وليکي او بیا دې یې په ټولګي کې واوروي.

۳ـ څو زده کوونکي دې د هوتکیانو هغه خدمتونه په شفاهي ډول ووایي چې ژبې او ادب ته یې کړي دي.

۴ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. یوه ډله دې ددغه وخت د شاعرانو نومونه واخلي او بله ډله دې ددغه وخت د کتابونو نومونه ووایي.

۵ـ د هوتکو د پاچاهۍ په وخت کې کومې حماسي د کومو شاعرانو له خوا رامنځته شوې نومونه یې واخلئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې متن په غور سره ولولي او بیا دې د هوتکو د پاچاهۍ د وخت مهم ادبي کارونه په یو یا دوه مخونو کې وليکي او په بله ورځ دې یې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماين خطرونه

افغانستان د نړۍ له هغو هېوادونو څخه دی چې زيات ماينونه او ناچاودي توکي پکې موجود دي، په افغانستان کې اوږد مهاله جګړه تېره شوې او د جګړې په دوران کې له مختلفو ماينونو څخه کار اخيستل شوی دی. خومره چې ماينونه زيات کارول شوي، هماغومره د ماين د قربانيانو شمېره هم زياته ده. اوس هم ډېر ماينونه تر خاورو لاندې دي او په هره مياشت کې له پنځوسو څخه زيات کسان د ماين قرباني کېږي.

ماينونه هغه چاودېدونکي توکي دي چې له لرګيو، اوسپنې او پلاستيک څخه جوړ او دننه يې ناچاودي توکي ځای پر ځای شوي وي. دا وسله هغه وخت چوي چې د انسان لاس يا پښه ورسره ولګي. دغه چاودېدنه د انسان د تپې کېدو او يا مړينې سبب کېږي. مختلف ډولونه او شکلونه لري چې د انسانانو او لېږدېدونکو وسيلو د له منځه وړلو لپاره تري کار اخيستل کېږي.

- که تاسې له ماين سره مخامخ شئ نو څه بايد وکړئ؟
- که په يو ځای کې څوک په ماين والوزي نو تاسې بايد څه وکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماینونه او ناچاودي توکي په هر ځای کې پیدا کېدای شي. ماینونه د ځانګړو سیمو د ساتنې لپاره لکه نظامي پوستو ته د تلو د مخنیوي لپاره او یا د ډار او وحشت د رامنځته کولو لپاره کارول کېږي.

د جګړو په اوږدو کې زمونږ په هېواد کې ډول، ډول وسلې استعمال شوي دي چې یو له دغو څخه ماین او ناچاودي توکي دي. د ماینونو پېژندل سخت کار دی، ځکه چې زیات ماینونه په ځمکه کې ښخ شوي دي.

د ناچاودو توکو پېژندنه دومره ستونزمنه نه ده ځکه چې ناچاودي توکي د ځمکې پر سر پراته وي، په دې توګه امکان لري چې یو وخت تاسې د ماین پر سیمه وربرابر شئ. که چېرې داسې پېښه شوه، نو تاسې باید وارخطا نه شئ او یو خوا بلې خواته ونه تښتئ. په دغه وخت کې باید دا لاندې لارښوونې عملي کړئ او تل یې په نظر کې ولرئ:

- په خپل ځای ودرېږئ.
- نورو خلکو ته وویاست چې حرکت ونه کړي ځکه چې دا سیمه خطرناکه ده.
- له هغه کس یا کسانو څخه چې په خوندي ساحه کې موقعیت لري، مرسته وغواړئ چې هغوی د ماین پاکۍ دفتر یا سیمه ییزو مقاماتو (پولیسو، سپین ږیرو، مشرانو...) ته خبر ورکړي.
- د مرستې تر رسېدو پورې باید صبر وکړئ، له خپل ځای نه ونه خوځېږئ.

همدارنګه که چېرې په کوم ځای کې د ماین پېښه رامنځته کېږي او تاسې د ماین قرباني وینئ نو هڅه وکړئ چې قرباني ته نژدې نه شئ، ځکه ددې امکان شته چې د یو قرباني پر ځای دوه تنه قرباني شي.

- کله چې له داسې پېښې سره مخامخ کېږئ نو لاندې لارښوونو ته پاملرنه وکړئ:
- هېڅکله د خطر سیمې ته د ننوتلو کوښښ مه کوئ، ځکه ستاسې ننوتل دې سیمې ته د نورو چاودنو سبب کېږي. تاسو او قرباني ته نور زیان رسېدلی شي. دا مو باید په یاد وي چې په کومه سیمه کې چې د یو ماین پېښه رامنځته کېږي هلته د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماینونو د شتون احتمال هم شته.

- قرباني يا د ماين تپي ته ډاډ ورکړئ، له هغه سره خبرې وکړئ چې دده روحي حالت بيخي خراب نه شي.
- د مسلکي مرستو لپاره ماين پاکانو، پوليسو، کلنيکونو او روغتونونو ته خبر ورکړئ چې د ماين له تپي سره لازمه مرسته وکړي.
- تر هغه چې مسلکي مرسته نه وي ترلاسه شوې د خطر سيمې ته مه داخلېږئ، له قرباني سره خبرې وکړئ او هغه ته ووايئ چې له خپل ځای څخه ونه ښورېږي. هېڅکله کوم شی د هغه پر لور مه غورځوئ.
- که چېرې يې له بدن څخه وينه بهېږي مشوره ورکړئ چې د وينې بهېدل د لاس، پټکي او يا دستمال په واسطه بند کړي.

په دې توګه لازمه ده چې زده کوونکي دغه معلومات له خپلو خپلوانو او دوستانو سره هم شريک کړي چې هغوی هم د ماين له خطرونو څخه په امن کې پاتې شي.

همدارنګه لازمه ده چې د ماين لرونکو او ناچاودو توکو سيمې چې د ماين پاکانو له خوا په سره رنګ نښه شوي دي هلته داخل نه شي، ځکه په سره رنګ نښه شوې تيرې دا معنا لري چې دلته ماينونه شته. که کوم ځای په سپين رنګه تيرو نښه شوي وي نو دا معنا لري چې دغه ځای د ماين پاکانو په واسطه له ماينونو څخه پاک شوی دی. همدارنګه په ابي رنګ نښه شوې تيرې د هغه ځای څرګندونه کوي چې دلته ناچاودي توکي شته. دلته هم بايد د ننوتلو څخه مخنيوی وشي.

د سفر په وخت کې بايد په شاړو لارو تګ ونه شي ځکه هغه لارې چې تګ راتګ پرې نه کېږي هم ددې معنا لري چې دلته ماينونه شته.

که چېرې د سفر په وخت کې ياست او نه پوهېږئ چې په کومه لاره لاړ شئ نو د محل له خلکو نه پوښتنه وکړئ او کومه لاره چې هغوی درته ښايي په هغه لاره لاړ شئ. زړې کلاګانې او هم هغه سيمې چې جګړه پکې تېره شوي وي لکه پخوانۍ نظامي مورچې او يا هغه ځايونه چې په اغزي لرونکو سيمونو پوښل شوي، هلته مه داخلېږئ، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د ماینونو خطر شته.

ماشومان پوه کړئ چې د اوسپنې توټې او د وسلو خولونه ټول نه کړي ځکه چې په دې کې ناڅاودي توکي وي او د ژوند په بیه یې تمامېږي.

ماینونه مختلف شکلونه لري، که تاسې له یو نا اشنا شي سره مخامخ کېږئ لاس مه ورورئ خپل مشران یا چارواکي او یا د ماین پاکانو ډلې ته خبر ورکړئ.

ماین پټ دښمن دی دوست او دښمن نه پېژني، کوښښ وکړئ چې د ماین له خطرونو څخه ځانونه وژغورئ.

د متن لنډیز:

زمونږ هېواد په تېرو دهرش کلنو جګړو کې له ماینونو څخه ډک شوی دی. د اړوندو موسسو له خوا دغه ماینونه ایستل شوي او څه یې شنډ شوي دي خو اوس هم تر ځمکې لاندې دهر ماینونه ښخ دي چې مرګ او ژوبلې رامنځته کوي. که چېرې تاسې د ماین پر سیمه وربرابر شئ، نو پر خپل ځای ودرېږئ او د سیمې له خلکو څخه مرسته وغواړئ چې ماین پاکانو ته خبر ورکړي.

د هغې سیمې پولیس راخبر کړي، د مرستې تر رارسېدو پورې باید پر خپل ځای ولاړ واوسئ او مه ښورېږئ. کله چې د مرستې ټیم راورسېد، د هغو په لارښونو باندې عمل وکړئ. داسې سیمې چې د ماین له کبله شکمنې وي، هلته مه داخلېږئ او یا د سیمې له اصلي اوسېدونکو څخه ددغه ځای په هکله پوښتنه وکړئ.

که چېرې د ماین یوه پېښه رامنځته کېږي او یو څوک د ماین په واسطه ټپي یا وژل کېږي، هلته مه ورځئ. په دغه وخت کې هم باید د ماین پاکانو ټیم ته خبر ورکړئ. که چېرې تاسې وغواړئ چې د ماین ټپي ته ورنژدې شئ، نو په حقیقت کې له هغه سره مرسته نه کوئ، بلکې د خپل ځان او د هغه ژوند له نور خطر سره مخامخ کوئ، ځکه چې په کوم ځای کې یو ماین انفجار کوي، هلته کېدای شي نور ماینونه هم وي او ستاسو په ورتګ سره نورې چاودنې رامنځته شي. غوره به دا وي چې له ټپي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې وکړئ، هغه ته داډ ورکړئ او ژر تر ژره د ماين پاکانو ډله راخبره کړئ.

زده کوونکو ته لازمه ده چې هېڅ يو نا اشنا شي ته لاس ورنه وړي، ځکه کېدای شي هغه ماين وي او ستاسې ژوند له خطر سره مخامخ کړي. همدارنګه زده کوونکو ته لازمه ده چې د ماين په اړه معلومات له خپلو نورو دوستانو سره هم شريک کړي چې د ماين له خطر څخه وژغورل شي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په وار سره په لوړ غږ ولولي او بيا دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه وويلای:

- ماين څه ته وايي؟
- که چېرې ماين وويني نو څه بايد وکړئ؟
- که چېرې په کوم ځای کې ماين انفجار وکړي نو موږ ته څه کول په کار دي؟
- که په کومه نا اشنا سيمه وربرابر شئ نو هلته بايد څه وکړئ؟

۲ـ که چېرې تاسې د ماين او يا ناچاودو توکو له قرباني سره مخامخ کېږئ نو څه ډول غبرګون ښکاره کوئ؟

- آيا تاسو د مرستې لپاره د ماين سيمې ته ننوځئ؟
- آيا تاسې د ماين قرباني همداسې پرېږدئ او خپله تښتئ؟
- آيا تاسې ښه ګڼئ چې قرباني ته د مرستې لپاره څه شی ورګوزار کړئ او که همداسې يې پرېږدئ او که د ماين پاکانو ټيم ته به خبر ورکوئ؟

۳ـ زده کوونکي دې د مسلکي مرستو او غير مسلکي مرستو په هکله نيم مخ ليکنه وکړي او بيا دې يې په ټولګي کې واوروي. ښوونکی دې د زده کوونکو نيمګړتياوې سمې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ زده کوونکي دي د ماين د ډولونو او د ماين د ساحو په هکله په وار سره خبرې وکړي.

۵ـ که چېرې له کوم نا اشنا شي سره مخامخ شئ نو بايد څه وکړئ؟

الف: را اوچت يې کړئ؟

ب: په پښه يې ووهئ؟

ج: په تيږه يې وولئ؟

د: ماين پاکانو ته خبر ورکړئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دي په خپله سيمه کې د ماين د هغه قرباني په هکله يوه کيسه وليکي چې دوی يې پېژني، او په بله ورځ دي په درسي ساعت کې ولولي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اصطلاحات او محاورې



- محاوره څه ته وايي؟
- محاوره له متل سره څه توپير لري؟

محاوره هم لکه د متل په څېر د شفاهي ادبياتو يوه مهمه برخه ده چې د خبرو اترو په وخت کې يې ويونکي د خپل مقصد لپاره استعمالوي. اصطلاحات او متلونه که له يوه پلوه د يوې ژبې غنا څرګندوي، نو له بل پلوه ژبه ښکلې کوي.

تاسې په تېرو ټولګيو کې د متل په اړه معلومات ترلاسه کړي دي. په دې لوست کې به د محاورې يا اصطلاح په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصطلاحات او محاورې هغه تعبيرونه دي چې هر ملت يې د خپل ژوند چاپېريال، عنعناتو، اخلاقو، دود دستور او روحياتو مطابق پخپله ژبه کې خلق کوي او د خپلو مقاصدو د اظهار لپاره يې استعاره کوي. د محاورې په ويلو سره د اورېدونکي فکر ډېر ژر اصل مقصد ته رسېږي، پرته له دې چې ويونکی خپل مقصد په عبارت وو وايي.

اصطلاحات او محاورې د ژبې او ادب او د ورځنيو خبرو اترو يوه قوي برخه ده چې د ژبې معنوي لطافت او خوند زياتوي. محاوره دکلماتو داسې يوه مجموعه ده چې په خبرو اترو کې د حقيقي معنا پر ځای په مجازي معناکې استعمالېږي لکه د سترګو تور يعنې ډېر خوږ او ګران.

محاوره په لغت کې خبرو اترو ته وايي او په اصطلاح کې د ويونکو د ورځنيو خبرو اترو يا د اسلوب د بيان نوم دی.

محاوره په دوو کلمو يا له دوو نه په زياتو کلمو کې وي. محاورې د يو قام، مزاج، طبيعت، دود دستور، کړو وړو، ذهن او فکر عکاسي وي. که څوک د يو قوم مطالعه غواړي نو ضرور ده چې ددغه قام د ادب د مطالعې تر څنګه محاورې او متلونه هم مطالعه کړي.

متل هم لکه د محاورې په شان د حقيقي معنا پر ځای د مجازي معنا په توګه د استعارې او کنايې په ډول استعمالېږي، لکه: ځنګل د زمرو نه خالي نه دی.

متل يو بشپړ عبارت يا بشپړه جمله وي چې مطلب او مفهوم يې هم بشپړ او پوره وي. محاوره د متل برعکس بشپړ عبارت او بشپړه جمله نه وي، بلکې په خبره کې د استعمال په وجه ترې مطلب اخيستل کېږي، لکه په لاندې بېلګو کې:

د متل بېلګه: لمر په ګوته نه پټېږي. دا يوه بشپړه جمله ده او مطلب يې هم واضح دی.

د محاورې بېلګې: لور په لوټه تېره کول، له عقل سره ډزې کول، د زړه وينې څښل، د مرچو په څټه کېناستل، د بوسو لاندې اوبه تېرول. په دغو مثالونو کې وينو چې بشپړې جملې نه دي او مطلب يې هم په بېکاره توګه څرګند نه دی. که دغه محاورې په نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبارتونو کې استعمال شي نو مطلب يې هم واضح کېږي، لکه: زلمی لور په لوټه تېره کوي يعني وخت ضايع کوي. نسيم له عقل سره ډزې کړي دي. يعني له عقل څخه کار نه اخلي او هر کار په بې عقلۍ سره کوي. له عزيز سره بحث کول د زړه د وينو څښل دي. يعني خبرې ته غوږ نه ږدي. خبره نه مني. اکبر نن د مرچو په څټه ناست دی، يعني ډېر غوسه دی.

تورګل د بوسو لاندې اوبه بيايي، يعني اصلي خبره نه کوي چل او فريب کوي.

د متل او محاورې ترمنځ توپير همدادی چې په متل کې د کلماتو د يوې مجموعې مفهوم واضح وي او نورو کلماتو ته ضرورت نه لري.

متل په خپله جمله او عبارت کې واضح وي. په محاوره کې مفهوم واضح نه وي او د مفهوم د واضح کولو لپاره نورو کلماتو ته اړتيا لري. لکه په دې متل کې (څه چې کړې هغه به رېبې) مفهوم واضح دی او نورو کلماتو ته اړتيا نه ليدل کېږي، خو په دې محاوره کې (اوږه ورکول) واضح معنا نه لري خو که نور کلمات ورسره يوځای شي نو معنا ورکوي، لکه: احمد خپل ورور ته اوږه ورکړه. يعني مرسته يې ورسره وکړه. يا لکه: (له خوږې ګوتې نيول) دا محاوره ځانته معنا نه لري خو کله چې ورسره نور کلمات يوځای شي نو معنا ورکوي، لکه: ستار وحيد له خوږې ګوتې نيولی. يعني مجبور کړی يې دی.

يا تر لمن لاندې کول چې ځانته معنا نه لري خو که و وايو زليخا ترور خپل لمسيان تر لمن لاندې کړل. نو دا معنا چې د لمسيانو ساتنه او پالنه يې په غاړه واخيستله.

محاوره په ژبه کې يو ځانګړی مقام لري او د ژبې او ادب يوه مهمه پانګه ګڼل کېږي. محاورې د سپين ږيرو له خولې وتلي دي او د ولس په تهذيب، تمدن او ثقافت باندې رڼا اچوي. محاوره هم لکه د متل په څېر ډېر خواږه لري. محاوره هم د متل په څېر لنډه وي. د متل غوندې د محاورو ويونکي هم معلوم نه دي او سينه په سينه له يو نسل څخه بل ته لېږدېدلي دي.

متل او محاوره په پښتو شاعرۍ کې د استعمال ځای لري او کلام ښکلی کوي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر کې فصاحت او بلاغت پیدا کوي او ورځنۍ ژوند ته یې نژدې کوي. په لاندې بیتونو کې د محاورو بېلګې وینئ.

هسې شـان مـې تـر دوه سترګو بـاران اوري
چې مـې سپین شـول پـه ژړا د کـسـو تـوري
(معز الله مومند)

ویـنـې سپینې شـوې د خلقو لـکـه اوښکې
خـپـل اجـــزا دي لـــه جـگـــره گـــرېـــزان هم
(کاظم خان شیدا)

د اصطلاحاتو ځینې بېلګې:

ـ په خوله کې لویدل.
ـ په غوږ وهل.
ـ اوبه خړول.
ـ په سر ګرځېدل.
ـ سترګې درنول.
ـ سترګې سپینول.
ـ غاړه اېښودل.
ـ لاس تنګېدل.

د متن لنډیز:

محاوره په خبرو اترو کې د حقیقي معنا پر ځای په مجازي معنا استعمالېږي. محاوره له دوه او یا له دوو څخه له زیاتو کلمو جوړه وي. محاوره بشپړ عبارت او بشپړه جمله نه وي، بلکې په خبره کې د استعمال په وجه ترې مطلب اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متل په خپله جمله او عبارت کې واضح وي خو په محاوره او اصطلاح کې مفهوم واضح نه وي. محاوره د مفهوم د واضح کولو لپاره نورو کلماتو ته اړتیا پیدا کوي. متل بیا نورو کلماتو ته اړتیا نه لري.

محاوره هم لکه د متل په څېر د خپل مقصد لپاره په خبرو کې استعمالېږي. محاوره هم لکه د متل په څېر د یو ولس د ټولنیز ژوند عکاسي کوي. د محاورې ویونکي هم معلوم نه وي او له یو نسل څخه بل ته لېږدېدلي وي. محاوره هم د ژبې یوه پانګه ده چې ژبه خوندوره کوي. په پښتو شاعرۍ کې هم لکه د متل په څېر محاورې راغلي دي. شعر یې خوږ او روان کړی دی او ورځني ژوند ته یې نژدې کړی دی. محاوره هم لکه د متل په شان په ورځنیو خبرو کې ډېره کارول کېږي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د ښوونکي له لوستلو څخه وروسته د متن یو، یو پراګراف ولولي او مفهوم دې یې پخپلو خبرو کې ووایي.

۲ـ ښوونکی دې څو زده کوونکي په وار سره د تختې مخ ته راولي او په متن کې راغلي محاورې دې یوه، یوه په تخته ولیکي او بیا دې یې په وار سره معنا کړي.

۳ـ زده کوونکي دې له ځانه یوه، یوه محاوره ولیکي، د محاورې مقصد دې په ګوته کړي او ټولګیوالو ته دې یې په وار سره واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- متل څه ته وايي؟
- محاوره څه ته وايي؟
- د متل او محاورې توپير څه دی؟
- د متل او محاورې استعمال په ژبه کې څه ګټې لري؟

۵ـ زده کوونکي دې د لاندې محاورې په اړه خپل نظر په وار سره څرګند کړي.

(په پچه ختل)

۶ـ زده کوونکي دې په وار سره یو یو متل له ځانه ووایي او د متل مقصد او د استعمال ځای دې څرګند کړي.

۷ـ زده کوونکي دې د لاندې اصطلاحاتو پر مفهوم او مقصد خبرې وکړي او د هرې اصطلاح د استعمال ځای دې څرګند کړي:

- لاس په سر کول
- وینه سپینېدل
- آسمان ته کتل

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د کورنۍ د غړو په مرسته پنځه، پنځه محاورې له معنا او مفهوم سره وليکي او په بله ورځ دې يې په پښتو درسي ساعت کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روږديوالي لاملونه

روږديوالی (اعتياد) يو پرله پسې مسموميت دی چې د نشه يي توکو له استعمال څخه په بدن کې راپيدا کېږي. روږديوالی د ځاني او روحي زيانونو سبب کېږي او ټولنيزې ستونزې رامنځته کوي. په نشه يي توکو اخته کېدل او عادت يا د نشه يي توکو سره ځاني او روحي تړاو چې پرېښودل يې ستونزمن او ناشونی دی، روږديوالی بلل کېږي.

په نشه يي توکو عادت کېدل هغه وخت رامنځته کېږي، کله چې څوک په پرله پسې توګه نشه يي توکي استعمال کړي. هغه کسان چې نشه يي توکي کاروي او ورځنی عادت يې ګرځېدلی وي، دغه کسان د روږدو کسانو (معتادينو) په نامه يادېږي. له بده مرغه زمور په ګران هېواد کې هم يو شمېر معتادان شته چې ځوانان دي او عمرونه يې د ۱۸ او ۳۰ کلونو ترمنځ وي. دغه کسان په کورنۍ او ټولنه کې هېڅ عزت نه لري. له ټولنې څخه جلا کړی شوي دي او د ټولنې د اوږو بار دي. په دې لوست کې به تاسې ولولئ چې روږديوالی څنګه پيدا کېږي او لاملونه يې څه دي؟

_ تاسې کوم نشه يي پېژنئ، وايئ چې هغه ولې په نشه اخته شوی دی؟

_ څنګه وکړو چې له نشو څخه ځان وژغورو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

روږديوالی هغه متناوب او پرله پسې مسمومیت دی چې د ځینو مخدره توکو کیمیاوي او یا مصنوعي ترکیباتو د تدریجي مصرفولو له وجې په مصرف کوونکي شخص کې پیدا کېږي. د ځاني او روحي دواړو د زیانونو سبب کېږي. دا روږديوالی په پایله کې ځانګړې او ټولنیزې ستونزې رامنځته کوي.

په بله وینا د یو شخص عادت کېدل او یا له نشه یي توکو سره دده ځاني او روحي تړاو چې ترک کول یې ورته ستونزمن او یا بیخي ناشونی کار وي روږديوالی (اعتیاد) بلل کېږي.

په نشه یي توکو عادت کېدل هغه وخت منځ ته راځي کله چې روږدی شخص په پرله پسې توګه مخدره مواد لکه: اپین، چرس، هیروییین او یا مورفین استعمال کړي او د وخت په تېرېدو سره یې ورته علاقه زیاته شي. په تدریجي توګه د مخدره توکو په استعمال کې زیاتوالی راولي.

کله چې د مخدره توکو مصرف کوونکی داسې یو حالت ته ورسېږي چې په جبري توګه د نشه یي توکو مصرف ته اړوي نو هغه ته معتاد ویل کېږي.

که څه هم په نشه یي توکو اخته کسان هېڅکله دا نه مني چې هغه دې ګواکې معتاد وي، خو دا یو حقیقت دی چې هغه روږدی دی. یو مشهور متل دی چې ((هېڅ معتاد خپل د اعتیاد لومړی ورځ په یاد نه لري)).

دا یو څرګند حقیقت دی چې هېڅوک دا نه غواړي چې د اعتیاد په لومو کې دې راګیر شي او هېڅکله دا اراده هم نه لري چې په مخدره توکو دې اخته شي او خلک دې د یو نشه یي په توګه یاد کړي.

هغه کسان چې معتاد کېږي په لومړي سر کې د یو ازمایښت په توګه نشه یي توکي استعمالوي او یا د ناوړه دوستانو او ملګرو له خوا نه ورته بلنه ورکول کېږي چې په دغسې کوچنۍ تېروتنې سره د نشه یي توکو په لومو کې راګیر شي چې بیا ورڅخه د ځان ژغورل مشکل او یا ناشونی وي.

په حقیقت کې همدغه حالت ته روږديوالی یا اعتیاد ویل کېږي. روږديوالی هغه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويه ټولنيزه، روغتيايي او اقتصادي ستونزه ده چې بشري ټولنه يې له يو جدي خطر او تهديد سره مخامخ کړې ده چې د ټولنې د وروسته والي، اخلاقي انحطاط او ټولنيز فساد سبب کېږي.

د نشه يي توکو استعمال او پر هغو باندې رو ېدېدل ېهلابهل لاملونه لري، لکه ځانګړي لاملونه، ټولنيز، سياسي، فرهنګي، اقتصادي، جګړې، مهاجرتونه او داسې نور... ددغو ياد شويو لاملونو په منځ کې دوه لاملونه د انسانانو په رو ېدېدنه کې خورا زيات اغېزمن دي، چې يوه ډله يې ځانګړي لاملونه دي او بله ډله يې ټولنيز.

ځانګړي لاملونه: ټول هغه اسباب او علتونه چې پخپله په شخص پورې اړه لري او د هغه د معتاد کېدو سبب کېږي، د ځانګړو لاملونو په نامه يادېږي، لکه:

ـ د ځلميتوب دوره: د نوې ځوانۍ دوره هغه مرحله ده چې د روحي ناورين سره يوځای پيلېږي او د هر شخص په ژوندانه کې يوه ډېره مهمه دوره بلل کېږي. دغه د زلميتوب دوره چې له ناورين سره پيلېږي يو عمده لامل دی چې ځوان په مخدره توکو باندې اخته شي. ځکه چې ځوانان په دغه دوره کې له سالمې روزنې څخه بې برخې وي. تل غواړي چې خپلواک واوسي. خپل احساسات بيان کړي، کله ناکله د خپل پلار او مور په وړاندې هم په مخالف دريځ کې درېږي، د هغو د نظريو او خبرو مخالفت کوي.

ددې لپاره چې خپل شتون ثابت کړي، ځينې وختونه دکورنۍ ارزښتونه هم تر پوښتنې لاندې نيسي. همدارنګه د کنجکاوۍ حس چې ددغې دورې يو ځانګړتيا ده، ددې سبب کېږي چې نوي ځوانان د نشه يي توکو په هکله فکر او کنجکاوي وکړي او دغه کنجکاوي او فکر کول يې د نشه يي توکو تر استعماله ورسوي.

په ځان باور نه درلودل: په ځان باور نه درلودل او ځينې نور شخصي لاملونه له رو ېدېدوالي سره اړيکې لري. په هره کچه چې د يو شخص اراده کمزورې وي او په ژوند باندې د کنترول لرلو احساس يې غښتلی نه وي، يا په ځان هېڅ باور ونه لري يا پر ځان يې د باور احساس کمزوری وي، نو په هماغه اندازه يې په مخدره توکو باندې د اخته کېدلو خطر زيات وي.

ـ روحي پرېشانۍ (ژور خپګان): په نشه باندې د اخته کېدلو يو لامل روحي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفسياتي علتونه دي، لکه خپګان، ځاني کمزورۍ او روحي تشويشونه.

دا لامل په سلو کې (۷۰) دی، يا په بله وينا په سلو کې (۷۰) کسان د روحي پرېشانۍ له کبله په نشه يي توکو اخته کېږي.

ـ د سرپرست نه درلودل: ځينې ځوانان کله ناکله په داسې حالاتو او ځايونو کې ژوند کوي چې که خوښه يې وي او که نه په نشه يي توکو اخته کېږي. له بله پلوه د پالونکي نه درلودل او يا د بېلابېلو لاملونو له کبله کور پرېښودل، په هوټلونو او رستورانتونو کې شاګردي کول او داسې نور لاملونه سبب کېږي چې د نشه يي توکو په لومو کې ونښلي او ټول ژوند يې قرباني شي.

د مخدره توکو په هکله مثبت ليد:

د نشه يي توکو د اخته کېدو (اعتياد) په لاملونو کې يو ډېر مهم لامل دادی چې ځوان د نشه يي توکو په هکله مثبت ليد لري او خوشبينانه قضاوت کوي. ځينې روږدي کسان فکر کوي چې ګواکې د مخدره توکو استعمال د هغوی جسمي قوه پياوړې کوي او د ځاني ستړيا په لرې کولو کې اغېزمن دي، روحي سکون او ارامتيا رامنځته کوي. دغه ډول قضاوتونه ددې سبب کېږي چې ناپوهه او بې تجربې کسان نشه يي توکو ته وهڅوي او روږدي شي.

د نشه يي توکو موقت تاثيرات: ټول نشه يي توکي لکه هيروئين، الکول، کوکاين، چرس، اپين او داسې نور په لومړي سر کې يوه غولوونکې ارامتيا او خوشحالي رامنځته کوي چې د نشه يي توکو استعمالونکی هڅوي چې بيا دغه توکي استعمال کړي او هماغه لومړنی خوند تړې واخلي، خو وروسته په سترو بدمرغيو اخته کېږي.

ټولنيز لاملونه: ټول هغه اسباب او علتونه چې په ټولنه او يا کورنۍ کې موجود وي او د روږدېدو سبب کېږي د ټولنيزو لاملونو په نامه يادېږي لکه:

- بې بندو باره کورنۍ.
- د ماشومانو په هکله د مېندو او پلرونو بې پروايي.
- د ناوړه او بدو دوستانو لرل.
- په ټولنه کې د قانون او مقرراتو نشتوالی او يا نه تطبيق کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د مخدره توکو د خرڅلاو د بازارونو شتون.
- بې کاري او د يو سالم کار نه درلودل.
- د نشه يي توکو د ضررونو د خبرتيا د پروګرامونو نشتوالی.
- ټولنيز محروميتونه.
- اقتصادي بې وزلي او يا زياته بډاينه.
- د اسلامي لارښوونو او احکامو څخه بې خبري.
- د مخدره موادو له ضررونو بې خبري په تېره بيا هغه ضررونه چې په اوږده وخت کې راڅرګندېږي.

د متن لنډيز:

په نشه يي توکو باندې اخته کېدل ډېر علتونه لري چې دوه يې خورا مهم دي، ټولنيز عوامل او ځانګړي عوامل. ځانګړي عوامل هغه دي چې پخپله په شخص پورې اړه لري لکه د زلميتوب دوره، په ځان باور نه لرل، روحي پرېشانۍ، د پالونکي نه لرل، نشه يي توکو ته په مثبت نظر کتل.

په ټولنيزو عواملو کې د کورنيو انظباط نه درلودل، د مور و پلار بې پروايي، له بدو دوستانو سره راشه درشه، په ټولنه او کورنۍ کې د قانون نشتوالی او يا نه تطبيق کېدل، د نشه يي توکو د خرڅلاو د بازارونو شتون، بې کاري، بې وزلي، د نشه يي توکو پر ضد د پروګرامونو نشتوالی، ټولنيز محروميتونه، د اسلامي لارښوونو څخه بې خبري، دا ټول هغه عوامل دي چې يو شخص نشه يي توکو ته مخه کوي.

په دې توګه مور ټولو او په تېره ځوانانو ته لازمه ده چې له نشه يي توکو څخه ځانونه لرې وساتي او له نورو سره هم مرسته وکړي چې نشې ته مخه نه کړي، ځکه چې نشه په کورنۍ او ټولنه کې د انسان اعتبار ختموي او په ورو، ورو يې د ژوند له ښکلي نعمت څخه هم بې برخې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ یو زده کوونکی دې وروسته له ښوونکي څخه متن په لوړ غږ ولولي، نور زده کوونکي دې غوږ ونیسي او بیا دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- اعتیاد څه ته وایي؟
- ولې یو شخص په مخدره موادو اخته کېږي؟
- ټولنیز عوامل کوم دي؟
- ځانګړي عوامل کوم دي؟

۲ـ زده کوونکي دې د ښو دوستانو او بدو دوستانو په هکله څو کرښې په کتابچه کې وليکي او بیا دې په وار سره په ټولګي کې واوروي.

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره د نشې په ضررونو خبرې وکړي او د خپلې سیمې د یو نشه یي د ژوند حال دې بیان کړي.

۴ـ زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې پخپلو منځو کې بحث وکړي او د روږدېدنې نور عوامل دې لست کړي، بیا دې د هرې ډلې استازي په ټولګي کې خپل لست واوروي.

۵ـ زده کوونکي دې په وار سره پر دې موضوع (په ځان باور نه درلودل) خبرې کړي او زیانونه دې څرګند کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د زلمیتوب د مرحلې په اړه دوه، دوه مخونه وليکي چې ځوانان څه مسؤولیت لري، ځوان باید څنګه وي او د ټولنې د خدمت لپاره څه ډول وروزل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو لهجې

مور خبرې په ژبه کوو. ژبه د پوهولو او راپوهولو یوه وسیله ده چې په ټولنه کې اجتماعي مناسبات رامنځته کوي. لکه څنګه چې په نړۍ کې ژبې ډېرې دي، همدغسې ځینې ژبې د زیاتو لهجو لرونکي دي.

لهجه له ژبې څخه راوتلې او په یو ټاکلي ټبر او یا ځانګړي جغرافیایي چاپېریال پورې اړه لري. لهجې د ځینو کلماتو په تلفظ او ویلو کې له اصلي ژبې سره توپیر لري. پښتو ژبه هم یوه لرغونې تاریخي اریایي ژبه ده، چې ډېرې لهجې لري.

مور په دې لوست کې د پښتو ژبې په ځینو لهجو بحث کړی دی چې یو له بل سره څه توپیرونه لري او په کومو ځایونو کې کومې لهجې ویل کېږي.

- لهجه څه ته وایي؟
- پښتو ژبې کومې لهجې لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه يوه ټولنيزه کسبي پديده ده چې د هغې په واسطه ټولنيز مناسبات رامنځته کېږي. ژبه د غږونو يو جوړ شوی سيستم دی چې د يوې ډلې له خوا د پوهولو او راپوهولو لپاره کارول کېږي.

په بله وينا ژبه هغه اوازونه دي چې انسانان يې د خپلو افکارو او خيالاتو د څرګندولو په غرض تر يو خاص سيستم لاندې د صوتي غږو په واسطه له خولې څخه راباسي.

کوم بريدونه چې د يوې ژبې لهجې سره ښه لوي، هغه ويېز ګړني، صوتي، ګرامري او لکزيکي توپيرونه دي، ځکه ژبه د يو لړ ويېزو او اوريزو سمبولونو سيستم دی او هر سمبول زموږ د يوه ذهني انځور ښکارندويي کوي او دا انځورونه په خپل وار د انساني چاپېريال او مهال څيزونه، پېښې او کړه وړه را اخلي، نو جوته ده چې دغه انساني چاپېريال، مهالي څيزونه، کړه وړه تل په بدلون کې دی او بيا پخپله د وګړو ترمنځ فزيکي کلتوري، ټولنيزې او وټه ييزې ځانګړتياوې يوه جوته بڼه نه شي درلودای.

نو همدغه اووښتنه د ژبني اوښتنې يا په بله وينا د ژبې د رنګارنګۍ لامل او سرچينه ده او په يوه ژبه کې دا رنګارنګي د ښلابښلو لهجو معنا لري.

سيمه ييز او قومي وېش، پوهه او ناپوهي، بډاينه، لړ عمر او ډېر عمر، نارينتوب او ښځينه توب او داسې نور لهجوي توپيرونه دي.

ژبه يو سيستم دی کوم ډله ييز توپيرونه چې په دغه سيستم کې ليدل کېږي، هغه لهجه ده. لهجوي اختلافات اجتماعي وي چې د صنف او طبقې په اساس راغلي وي يا ښايي محلي وي چې د جغرافيوي توپيرونو په اساس رامنځته کېږي. کوم ګروپي توپير چې په ويلو او غږيز سيستم کې ليدل کېږي، لهجه بلل کېږي. لهجه له اصلي ژبې او سيستم څخه په ځينو کلمو او تلفظونو کې بېله شوي وي. دا بېلتون د قبيلو، سيمو، ښارونو، کليو، باندو، پوهو او ناپوهو، لوستو او نالوستو ترمنځ د خبرو اترو په وخت کې څرګندېږي او د ژبې عمومي جوړښت ساتي.

پښتو ژبه هم د نورو ژبو په څېر په ښلابښلو سيمو کې د ويونکو د شتون له کبله ډېرې لهجې لري چې د ټولو لهجو څېړل اوږده موضوع ده. دلته په لنډه توګه د پښتو لهجو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو عام وېش باندې خبرې کوو.

د غربي هېوادونو خټيځ پېژندونکو د پښتو لهجې په دوو لويو ډلو وېشلي دي چې يوه ډله يې لويديځې لهجې او بله ډله يې ختيځې لهجې دي. دا وېش د دوو تورو (ښ،ږ) د توپير پر بنسټ شوی دی چې په لويديځو لهجو کې (ش، ژ) ته نژدې دی او په ختيځو لهجو کې (خ، ګ) تلفظ کېږي.

د وروستنيو څېړنو په پايله کې درېمه ډله د مرکزي لهجې په نوم هم ورزياته شوه. پښتو لهجې په لومړي سر کې په دوو سترو ډلو اصلي او فرعي وېشل کېږي چې هره ډله يې ځانته ډولونه لري.

اصلي لهجې په درې ډوله دي چې په لنډيز سره ورته اشاره کېږي:

۱ـ لويديځه لهجه: دا لهجه دکندهارۍ لهجې په نوم هم يادېږي. د هېواد په لويديځو او جنوبي سيمو کې ويل کېږي. په دغه لهجه کې دوه ځانګړي تورې (ښ،ږ) د (ش،ژ) اواز ته نژدې تلفظ کېږي او بله مهمه ځانګړتيا يې داده چې په کومکي فعلونو کې د (ش) اواز په (س) بدلېږي لکه د (وشو، شوي دي، شته، نشته) کلمې په (وسو، سوي دي، سته، نسته) ويل کېږي.

۲ـ مرکزي لهجه: دا لهجه د منځنۍ لهجې په نوم هم يادېږي او د افغانستان په مرکزي سيمو لکه غزني، وردګ، لوګر، پکتيا، پکتيکا او نورو کې ويل کېږي.

په دغه لهجه کې د پښتو ځانګړې تورې (ښ،ږ) په خپل اصلي اواز تلفظ کېږي او د تلفظ په وخت کې د ژبې منځنۍ برخه له پورتني تالو سره نښلي.

۳ـ ختيځه لهجه: دا لهجه د ننګرهارۍ لهجې په نوم هم يادېږي. د ننګرهار، مومندو، باجوړ، هشنغر او يوسفزو په سيمو کې ويل کېږي. په دې لهجه کې د (ښ،ږ) تورې د (خ،ګ) په څېر ويل کېږي.

فرعي لهجې: فرعي لهجې په پښتو کې زيات ډولونه لري چې ځينې مهم يې په لاندې ډول دي:

۱ـ وزيرۍ لهجه: وزيرۍ لهجه د (ښ،ږ) تلفظ د لويديځې لهجې په څېر کوي خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينو کلماتو کې له مرکزي لهجې سره اړيکې او نژدېوالی لري. په وزيرۍ لهجه کې هغه (الف) چې د کلمې په منځ او پای کې راغلی وي په (و) بدلېږي لکه (کال، پلار، کابل) په (کول، پلور، کوبل) اړوي او همدارنګه کله چې (و) د کلمې په منځ کې راشي هغه په (ی) بدلوي لکه (مور، لوند، توت) په (میر، لیند، تیت) تلفظ کوي.

۲ـ د ختڼکو لهجه د (ښ،ږ) په تلفظ کې له لويديځې لهجې سره سمون لري خو په لغاتو او اصطلاحاتو کې له ختيځې لهجې سره اړيکې لري.

۳ـ کاکړۍ لهجه: دا لهجه په ځينو کلمو کې لويديځې لهجې او په ځينو کې له مرکزي لهجې سره نژدېوالی لري. مثلاً (ژ) د مرکزي لهجې په څېر (ز) تلفظ کوي او ژوند، ژبه، ژمی د (زبه، زوند، زمی) په بڼه اړوي او تلفظ کوي.

۴ـ د احمدزو لهجه: په دې لهجه کې (ژ) په (ز) او په ځينو کلمو کې (ش) په (س) بدلوي لکه (ژوند، مشر، میاشت) په (زوند، مسر، میاست) تلفظ کوي.

۵ـ د وردګو لهجه: دا لهجه د اصلي مرکزي لهجې په ډله کې راځي.

۶ـ د پکتيا لهجه: دا لهجه هم د مرکزي لهجې په کتار کې راځي خو ځينې ځانګړې نښې هم لري، مثلاً ځدران او ځائي د (راځه، ځي) پر ځای (راڅه، څي) وايي.

۷ـ د اپريدو لهجه: دا لهجه په ځينو کلماتو کې له مرکزي لهجې سره او په ځينو کې له ختيځې لهجې سره اړيکې او نژدېوالی لري. په دې لهجه کې (ا،ی) په (و) بدلېږي او د (راشه، خورئ) پر ځای (روشه، خورو) وايي.

۸ـ د يوسفزو لهجه: دا لهجه په اصلي ختيځه لهجه کې راځي.

۹ـ د باجوړ لهجه: د ختيځو لهجو په ډله کې ده. په دې لهجه کې (غ،ت) په (گ،خ) بدلېږي. لکه (غوښه، غاښ، تښته) په (ګوښه، ګاښ، ځښته) تلفظ کوي.

۱۰ـ د مومندو لهجه: په ختيځه لهجه کې راځي. په دروند او ځيږ غږ سره ويل کېږي.

۱۱ـ د خوګيانو لهجه: په زياتو کلمو کې له مرکزي لهجې سره اړيکې او نژدېوالی لري خو په ځينو کلماتو کې له ختيځې لهجې سره اړيکې پيدا کوي. (و) په (ی) بدلوي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(غوړي) غېړي او (خولې) ته (خيله) وايي.

۱۲_ د شينوارو لهجه: دا هم يو فرعي لهجه ده چې په ځينو کلمو کې زير (کسره) په زور (فتحه) بدلوي لکه (ورمېږ) ته (ورمږ) وايي.

د متن لنديز:

ژبه هغه اوازونه دي چې انسانان يې د خپلو افکارو د څرګندولو په غرض د يو خاص سيستم لاندې د صوتي غړو په واسطه له خولې څخه راباسي. يا ژبه يوه ټولنيزه پديده ده چې اجتماعي مناسبات رامنځته کوي او د پوهولو راپوهولو لپاره کارول کېږي.

که ژبه يو سيستم وګڼو نو په دغه سيستم کې ډله ييز توپيرونه د لهجې معنا لري. دا توپيرونه به يا د طبقې او يا يوې ټاکلې جغرافياوي سيمې له کبله وي. لهجه د اصلي ژبې او سيستم څخه د ځينو کلمو په تلفظ کې بېله شوي وي. دا بېلتون د قبيلو، سيمو، ښارونو، کليو، لوستو او نالوستو خلکو ترمنځ د خبرو په وخت کې څرګندېږي.

د پښتو ژبې لهجې په دري ډلو وېشل شوي دي، ختيځه، لويديځه او منځنۍ لهجه چې دا هره ډله ځانته ويونکي او ټاکلی جغرافيايي چاپېريال لري. د پښتو لهجو وېش د (ږ،ښ) د تورو پر بنسټ شوی دی. سربېره پر دغه وېش په پښتو کې ډېرې فرعي لهجې هم شته چې يو څو بېلګې يې په لوست کې ولوستل شوې. همدارنګه معياري ژبه هم له دغو لهجو څخه رامنځته کېږي او بيا د يو هېواد په مطبوعاتو، راډيو، تلويزيون او نورو خپرونو کې کارول کېږي. د معياري ژبې د ځينو کلماتو په ټاکلو کې پوهان او د ژبې متخصصين سره په يو ګډ ليکدود فيصله کوي او هغه بيا په ټولو خپرونو کې کارول کېږي. معياري ژبه د ليکدود سره ډېر تړاو لري چې ټولې علمي او ادبي ليکنې بايد په واحد ليکدود وي او همدارنګه په رسمي ټولنو، کنفرانسونو کې په ويناکې هم مراعات کړي.

ديوې ژبې نورې لهجې د وخت په تېرېدو سره معياري ژبه پياوړي کوي او پخپله لهجې ورو، ورو خپله بڼه له لاسه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لوست په چوپه خوله ولولي او بیا دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- ژبه څه ته وایي؟
- لهجه څه ته وایي؟
- د پښتو لهجې د کومو تورو په واسطه بېلېږي؟
- په پښتو کې کومې اصلي لهجې پېژنئ؟

۲ـ زده کوونکي دې په وار سره پخپله خوښه د پښتو په یوې لهجې خبرې وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې د خپلې سیمې د لهجې پېژندنه په څو کرښو کې له مثالونو سره ولیکي او بیا دې خپله لیکنه په ټولګي کې واوروي.

۴ـ زده کوونکي دې په وار سره نظر ورکړي چې د ژبو زده کړه څه ګټه لري؟

۵ـ زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي او په لاندې لهجو کې دې نور مثالونه پیدا کړي.

- په وزیري لهجه کې (الف) په (و) بدلېږي، مثالونه وو ایاست؟
- د احمدزیو په لهجه کې (ژ) په (ز) او (ش) په (س) بدلېږي مثالونه وو ایاست؟
- د ځدرانو او ځاځیو په لهجه کې (ځ) په (خ) بدلېږي، مثالونه دې وو ایي.
- د باجوړ په لهجه کې (غ) په (ګ) او (ت) په (څ) بدلېږي، مثالونه یې کوم دي؟
- د اپریدو په لهجه کې (الف) او (ی) په (و) بدلېږي، مثالونه یې کوم دي؟

یادونه: دا بدلون په ځینو کلماتو کې راځي، نه په ټولو کلماتو کې.

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د مثالونو په څېر د خپلې سیمې لس کلمې ولیکي چې لهجوي توپیر پکې څرګند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويپانګه

((الف))

اتل: نابغه، قهرمان، پهلوان

اتلولي: قهرماني

اتغر: اته غرونه، د کلات په جنوب کې يو غای دی چې د هوتکيانو حکومتي اداره په کې وه.

اتوم: د يو کيمياوي عنصر ډېره وړه ذره چې د هستې پروتونونو او الکترونونو څخه جوړه وي او پخپله د هماغه عنصر خواص ولري.

اثر: اغېز

اجرونه: ثوابونه

احتمال: حدس او ګومان

اختناق: خپه کول، د تنفس بندول، د بيان او فکر د ازادۍ بندول

ارشاد: د سمې لارې ښودل

اژدها: ښامار

استعاره: مجازي بيان د تشبه پر بنسټ چې په هغه کې د تشبه له دوو خواو (مشبه يا مشبه به) حذف شوي وي

استغفار: توبه

اسلوب: لاره، طريقه

اشرف المخلوقات: د مخلوقاتو غوره

اطلس: يو ډول ورېښمينه ټوټه

التماس: هيله، ارزو

الحاد: له دين نه ګرځېدل، له خدای ﷻ نه انکار کول، بې ديني او کفر

انحطاط: ځوړتيا، تباهي، پستي

الم: درد

اوتر: وارخطا، پرېشان

اوجار: خراب، ويجار

اوزان: وزنونه، قالبونه (د شعر لپاره)

ايثار: قرباني

ايوادونه: هېوادونه

اټک: د اباسين سيند او هم ددې سيند پر غاړه د يو کلي نوم دی.

ابدا: تل، دايم، ښکاره کول

اروايي: روحي

اغراق: د يو چا په اړه ستاينه چې عقل يې منلی نه شي.

اعتياد: روږدي توب، عادت

اهل بيت: د پيغمبر ﷺ کورنۍ

اودوم: چاره، علاج

الهام: هغه فکر چې ناڅاپه په ذهن کې پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي

((ب))

باب: معمول، رایج، د کتاب یوه برخه، په باره کې

بادار: اقا، سود

بامم: پالم، روزنه

بدرقه: ملګرتیا، مشایعت، په میلمه پسې

شاته تلل

بسیط: ساده او اسان

برهمن: د برهمایي دین لارښود

بری: فتحه، سوبه، کامیابي

بزم: د خوښۍ او مېلمستیا جشن

بصر: نظر، دید

بلاغت: سوچه وینا، روانه وینا، له معنا او مطلب نه ډکه وینا

بها: قیمت، ارزش

بوره: زوی مړې، هغه ښځه چې زوی یې مړ وي

بولي: یادوي

بیت المال: د اسلامي حکومتونو زیرمې لکه خزانه

باري: د خدای ﷻ نوم، خالق، پیدا کوونکی

بدعت: په دین کې یو نوی شی راوړل.

((پ))

پاداش: د یو کار مزد، حقوق

پانګه: زیرمه، سرمایه

پاسوال: ساتونکی، پادشاه

پالل: ساتل، روزل

پارکی: د شعر قطعه

پاړو: جادوګر، دم کوونکی

پلاټ: طرحه، خاکه

پنځولی: تخلیق کړی، ایجاد کړی

پیاوړی: غښتلی، قوي

پېژندوی: پېژندل شوی، د نوم او نښان خاوند

پلن: قدم، پل، پلی، پیاده

پیشوا: رهبر، مقتدا، رئیس

((ت))

تبلیغ: هغه کار چې بل ته یې رسول غواړي یا بل وربانديې خبروي

تاب: قدرت، برابري، مقاومت

تاړاک: چور، لوټول

تجهیز: د وسایلو اماده کول لکه مړی په کفن کول

تجاهل: ځان په نادانۍ وهل

تحریک: راپارېدل، د یو کار د سرته رسولو لپاره یا د یو حالت ښکاره کول، بهیر، غورځنګ، لمسون

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحول: بدلون

تحت الثري: د ځمکې تل

تخيل: خيال

تداوم: دوامداره، پرله پسې

ترپله: تېښته

ترله: د تره لور

ترنم: زمزمه، د شعر ويل، اواز، نغمه

تروږمی: تياره

تشبيه: يو شی د بل شي سره مخې کول چې ورته والی ولري

تعادل: برابري

تعبير: معنا

تعبيرونه: معناګاني

تقوا: پرهېزګاري

تکامل: وده

تصديق: تائيدول، شاهدي ورکول

تکذيب: دروغ يا ناسم ګڼل

تکفين: مړي ته کفن اغوستل

تلطف: مهرباني، خوش رفتاري

تم: درېدل

تمدن: پرمختګ، ترقي

تمنا: ارزو، هيله

تهذيب: پاکېدل او اصلاح کېدل له عيبونو نه

توازن: برابري

توښه: د سفر خوراکه، اذوقه

تور: تور (رنګ) تهمت، تړېدل

تورن: تهمتي

تومن: د ايران غير رسمي پولي واحد

تون: ځای

تيری: تجاوز

تيکی: د تورې غلاف

تښتېدوني: تښتېدل، تښتېدونکي

تحصيل: حاصلول، زده کړه، درس ويل، لاسته راوړل

ترپلل: تښتېدل، ځغاستل

تسکين: ارامول، ارام کول

تقليد: پيروي، پېښې

تلفيق: د دوه يا څو سيزونو يو له بل سره ترتيب ورکول او منظم کول

تلميح: په مالګه کول، په شعر کې يوې مشهورې کيسې ته اشاره کول

تناسب: مناسب، د يو شي په اجزاو و کې هماهنګي

تمرد: مقاومت، د چا پر وړاندې درېدل

((ټ))

ټال: ځنډ، ځنډېدل

ټاټوبی: وطن، هېواد

ټبر: قوم

ټولنپوهنه: جامعه شناسي، هغه پوهنه چې د ټولنې او بشري ډلو په اړه معلومات ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ث))

ثنا: دعا، ستاینه، درود، حمد

((ج))

جاگیر: ځمکه

جبران: د یو تېر بد عمل د تلافی لپاره ښه کار کول

جامد: هغه جسم چې معین حجم او شکل ولري او د شکل د تغیر په وړاندې مقاومت څرګندکړي لکه اوسپنه، تیږه

جدل: جنګ، مشاجره

جذبات: احساسات، ولولې

جرس: ګینګړی، زنګوله

جروم: اوسنی ګرمسیر چې د قندهار په جنوب غرب کې واقع دی

جزم: محکم، استوار، نه تغیریدونکی

جګې جګې: هیله کول، کاشکې

جمال: ښکلا، ښایست

جور: ستم، ظلم کول

جمال: ښکلا، ازلي ښکلا چې د خدای ﷻ ازلي صفت دی.

((ځ))

ځواک: توان، قوت

((چ))

چپاو: حمله، هجوم

چور: تالان، لوټ، غل، غلا

چشتیه: یوه تصوفي طریقه ده

چم: کلی، کوڅه، چل

((ح))

حبیب: دوست، ملګری

حسرتونه: ارمانونه

حصار: دیوال، قلعه

حکایت: قصه، نکل

حکمت: پیژندنه، هوښیاري، پند، خدایي علم

حنفي: د څلورګونو مذهبونو نه یو مذهب دی، ابو حنیفه نعمان بن ثابت ته منسوب

حیرت: حیراني

((خ))

خدنګ: تیر، هغه کلک لرګی یا ونه ده چې له هغه نه نیزه، تیر او د اس زین جوړوي

خروش: چیغه، کړیکه

خلق: ایجاد، پیدا کول، په وجود راوړل، د یو هنري اثر منځ ته راوړل

خلقت: پیدایښت

خودبینه: متکبر، مغرور

خودنمای: ځان ښودونکی، ریا

خول: تاج، افسر، خولۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

((د))

د سالو وړمه: د ریګستان نسیم

دد: دارونکی حیوان

دُر: مرغلرې

دربیله: تیاره

درناوی: احترام

درهمونه: د اماراتو پولي واحد، درهم جمع درهمونه

دروه: دروغ، فریب

دریځ: منبر، موقف

دم ختلی: مړ (چې ساه یې وتلی وي)

دم: ساه

دمن: د غره لمن د دښتې پراخوالی

دون: پست، ټیټ، ناځیزه

دښمن: دښمن

دښمنه: د دښمن جمع یعنې دښمن

دغه بازي: فریب کول، مکر کول

دانشمند: پوهه، عالم

((ذ))

ذلت: خواري، شرمنده ګي

((ر))

ربړې: ستونزې

رپي: رپېدل، لړزېدل

رحلت: کوچ، سفر، وفات

رزم: جنګ، جګړه

رکاب: فلزي حلقه ده چې د اس په زین پورې تړلې وي

رکیبی: غاب

رندي: زیرکي، ازادي، بې پروایي، هغه عمل یا چار چې د ټولنې له دود دستور څخه لرې وي.

رهبر: لارښود، مشر، رهنما

روحیات: هغه علم چې د روح او ژوند څېړنه کوي

روش: لاره، طریقه

رومان: یو ډول ناول چې پېښې او د مینې داستانونه پکې وي

رومانتیک: داستاني، تخیلي، افسانوي

رونلی: رونول

رویدار: مخور

ریا: تظاهر، خپل ځان خلکو ته په نیکۍ ظاهرول

ریاضت: د نفس د پاکۍ او ښو اخلاقو لپاره د رنځونو زغمل

رجا: ویره، امیدواري

ردیف: په یو شعر کې له قافیې وروسته د هم وزنه کلمو تکرار، چې معنا یې یو ډول وي، ردیف ګنډل کېږي.

رغبت: میل، ارزو

روحي: روح ته اړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

روضه: مقبره، هديره، قبر

((ز))

زبون: بيچاره، ناتوان، عاجز، خوار

زعفران: ترکيبي رنگ لکه د زعفران رنگ، ژيړ نارنجي رنگ ته ورته

زل: منحرف کېدل، ښويېدل، له حق او صواب نه

زنگاره: زنگ، د اوسپنې او فلزاتو زنگ

زنگي: زنگ وهلی، تور

زهد: عبادت کول، دنيا ترک کول

زهير: ناتوانه، کمزوری، غمجن، خوابدی

زيارنه: کوښښ، زحمت

زيب: زينت، ښکلا

زړن: زړور، شجاع، دلاور

زيب: هغه څه چې د ښکلا سبب کېږي،

زېور، لياقت، مناسب

زميندار: په غورکې د يوه پخواني ځای نوم و

((ژ))

ژوبله: جگړه

((س))

ساد: سم، رښتيا ويونکي

سالو: ميده شگه

سانسور: کنترول او سخت گيري په رسنيو، د ځينو شيانو حذفول په اخبارونو، کتابونو، مجلو او نورو کې

سبحان: پاک

سروپای: شال، دستيار

سرور: رهنما، سرپرست، پيشوا، د کورنۍ مشر

سرښندنې: قربانی

سخاوت: عطاء، بخشش، کرم

سعادت: نېکمرغي

سمبال: اماده

سوبه: فتح، ظفر

سور: سوري کورنۍ، د پښتنو يو خيل

سمبول: نښه

سيرت: کړه وړه، خوی عادت، لاره

((ش))

شاکر: شکر کوونکی

شفاهي: د ژبې په وسيله ويل شوی، ژبنی

شفاعت: د عفې غوښتل، يا د مرستې غوښتل له يو چا نه

شواخون: غم، رنځ، تکليف

((ښ))

ښکلونکي: ښکلی کوونکی

ښندم: قربانوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ص))

صوبیدار: د مغلو د حکومت په اداري تشکیلاتو کې د والي څوکۍ

((ض))

ضیافت: مېلمستیا

((ط))

طاعت: بنده‌ګي، فرمانبرداري

طامع: طمعه‌کوونکی، حریص

طیلسان: یو ډول جامه وه، چې لستونې یې نه لرل، لکه چپنه، چې قاضیانو او خطیبانو به پر اوږو اچوله.

((ظ))

ظلمت: تیاره، تورتم

ظلام: تیاره، تورتم

((ع))

عابد: عبادت‌کوونکی

عامل: سبب، وجه

عبور: تېرېدل

عدالت: برابري، نیاو، انصاف

عرفان: د خدای ﷻ پېژندنه

عشور: لسمه

عطا: بخښش، بخښل

عقیق: تور بخن زینتي کانۍ چې یمني عقیق یې ډېر مشهور دی

عنا: رنځ ایستل، د سختیو لیدل، مشقت، سختي

عنایت: مهرباني، شفقت

عنعنات: دودونه، رواجونه

عواطف: مینه، علاقه، نژدیتوب

عارف: د معرفت خاوند، پېژندونکی

عصیان: نافرماني، سرغړونه، شورش

علی الدوام: پرله پسې، دوامداره

عقبا: اخرت، هغه دنیا

عیان: ښکاره، څرګند، ظاهر

((غ))

غاصب: غصب‌کوونکی، څوک چې د بل چا له رضا نه په غیر د هغه حق واخلي

غبرګون: ځواب، عکس العمل

غرج او غرجستان: هغه سیمې چې د غور او هرات له شماله پیل او تر امو پورې رسېږي، غرباً تر مرغاب او مروالرود او شرقاً د بلخ څنډو ته رسېږي

غشی: تیر

غفور: بخښونکی د ګناهونو

غلیم: دښمن

غلبلې: چغې، نارې، سورې

غلو: مبالغه چې عقل یې نه مني

غمزه: کرشمه، د سترګو او وروځو حرکت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل چا د پاملرنې لپاره

غنا: بډاينه، د مال زياتېدنه

غوغا: چيغې، ناري، سوري

((ف))

فاضلان: عالمان، د فضل خاوندان

فتنه: عذاب، بيماري، د خلکو ترمنځ اختلاف

فديه: هغه مال چې د چا د ازادۍ په غرض ورکول کېږي يا هغه مال چې د بلا د رفع لپاره ورکول کېږي

فراق: جدايي، بېلتون

فرقت: جدايي، فراق

فرهنګيالی: د فرهنګ خاوند، فرهنګپال

فصاحت: خرګنده او روانه وينا

فضله مواد: بېکاره مواد، خځلې

فضيلت: برتري، په علم کې لوړه درجه

فيض: بخښش، برکت، ډېرېدل

فيروزکوه: د سفيدکوه وروستۍ لړۍ، چې د هرات په شمال غزني برخه کې واقع ده. د فيروزکوه په نامه يادېږي.

فوشنج: په هرات کې د يو ځای نوم

فضول: بيهوده

فلک: آسمان

((ق))

قافله: کاروان، هغه ډله چې په سفر روانه وي او يا له سفره راځي

قاموس: د لغاتو کتاب

قبيله: طايفه، هغه ډله خلک چې د يو سړي اولاده وي

قضا: تقدير، سرنوشت، د قاضي عمل او شغل، قضاوت

قطر: د عربي اماراتو يو ملک

قلندر: دروېش، هغه مجرد شخص چې دنيا ته يې شا کړې وي

قضاوت: د دوه کسانو ترمنځ عدالت کول

قادر: توانمند، د توان لرونکی، د خدای ﷻ له نومونو او صفتونو څخه يو دی.

قافيه: په لغت کې وروسته ته وايي او په يو بيت کې د دوه مسرعو د وروستيو کلماتو هم اهنګي ته وايي، چې په معنا کې توپير لري.

قايم: توان مند، محکم، ولاړ

((ک))

کان: پښت، نسل

کام: ارزو، اراده، قصد

کبريا: عظمت، لويي، بزرګي

کثافات: بېکاره شيان، خځلې

کرکټرونه: دکيسې، ناول او ډرامې شخصيتونه

کرور: محکم، سخت، کلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړم: غوڅ، ژوبل، زخمي

کنايه: هغه وينا ياکلمه چې د خپلې اصلي معنا نه په غير يعنې مدلول باندې دلالت وکړي

کنعان: په عراق کې ديوې تاريخي سيمې نوم دی

کهاله: کهول، کورنۍ

کهول: خاندان، کورنۍ

کوډې: جادو

کول: کهول، کورنۍ

کونين: دواړه جهانونه (دنيا او اخرت)

کوټ: کلا

کوټوال: کلاوال، کلا لرونکی، کلا ساتونکی

کجل: رانجه

کوټه: ناڅل

کيميا: د پخوانيو په اصطلاح هغه ماده چې د هغې پواسطه به يې مس په سرو زرو بدلول کڅ: د سيند د غاړې کلی

کويله: ديو هندي مرغه نوم دی لکه بلبل چې ښه اواز لري

کهسار: غريزه سيمه، غرنۍ سيمه

((گ))

گاهې: کله

گرداب: په سيندکې هغه ځای چې اوبه يې تاوېږي، د اوبو غولۍ

گروه: عقيده

گروهبدل: عقيده لرل

گلبدن: دگل په څېر نرم او نازک بدن

گلرنگ: دگل په رنگ

گلرخسار: گل مخی

گلرخ: گل مخی

گمراه: هغه څوک چې لاره يې غلطه کړي وي

گنج: خزانه

گوښې: يوازې، تنها

گروهبدل: دين، عقيده لرل

گوهر: قيمتي کانۍ لکه الماس، زمرد، ياقوت، مرغلره

((ل))

لتار: ويجار

لرغون: قديم، لومړنی، پخوانی

لطافت: نرمي، نازکي، ښکلا، نرمه او نيکه وينا

لمانځل: درناوی کول، لمونځ کول، عبادت، تجليلول

لور: لورېنه، پېرزوينه، مهرباني، شفقت، رواداري

لټېر: حمله، د حملې يو بد حالت

لکزيکي: لغوي پانگه

لوني: شيندي، ورېږي، پاشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

((م))

ماتم: غم، مصيبت

ماتېدوني: شكست خوړونكي

مامن: وطن، ټاټوبی

ماهيت: حقيقت، د يو شي سرشت

مايع: اوبلن

مبالغه: د چا په ستيانه كې زياتی چې له اعتدال نه لرې وي

مبتلا: روږدی، اخته

مجازي: غير حقيقي

محتوا: منځپانګه، مضمون

محشر: د خلكو د راټولېدو ځای، د قيامت ورځ

محكوم: تر حكم لاندې، حكم پرې شوی

مخسور: سرخرويي، سرلوړي

مدبر: تدبير كوونكی، باتدبيره، عاقبت انديش

مدت: وخت، زمان

مدعا: مقصد، هغه څه چې ادعا شوي وي

مدفن: قبر

مرتبې: درجې، مقامونه، موقفونه

مرثيه: ويرينه، هغه شعر چې د چا د مړينې ويړ پكې كېږي.

مرصع: په جواهرو تزين شوی

مرو: د تركمنستان په جنوب كې د يو ښار نوم دی

مركب: تركيب شوی، هغه كلمه چې له دوو يا څو توكو څخه جوړه وي

مزاج: طبيعت

مساوات: برابري، يو له بل سره برابرېدل

مسموميت: زهري كېدل

مشورت: مشوره، مفاهمه

مشابه: ورته، يو ډول

مصفی: تصفيه شوی، پاک شوی، خالص، بې عيبه

مظلوم: بيچاره، ځپلی، چې ظلم پرې شوی وي

معتاد: روږدی، اخته

معتزر: عذر غوښتونكی

معصيت: گناه، نافرماني

مقبول: قبول شوی، خوښ شوی

مكر: حيله، فريب

مل: ملگری

مكلف: گومارل شوی، متعهد كېدل

ملحد: هغه څوک چې په خدای عقيده نه لري او يا له دين نه اوښتی وي

ملونه: د مل جمع، ملگري

من: زړه، اراده

مناسبات: راشه درشه، اړيكې

منافقي: دوه مخي

منزه: پاک، سپېڅلی

منشاء: سرچينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظرکشي: د منظرونو ترسیمول

منګور: مار

منښت: قبلول

مهجور: مبتلا په هجران، لرې، تبعید شوی

مهذب: پاک او سپېځلی، له عیبونو نه پاک، د ښو اخلاقو خاوند

مواس: ساتونکی، محافظ

مورفولوژي: اواز پېژندنه

موعظه: پند او نصیحت

موفقیت: کامیابي، بریالیتوب، بری

مفروق: هغه عدد چې له بل عدد نه کمېږي

مؤرخین: تاریخ لیکونکي

میرځمن: دښمن

متعلق: تړلی، متصل، یو چا یا څه شي ته منسوب

متجانس: همجنس، هم شکل، یو ډول

متناظر: ورته، یو شان

متناوب: وار په وار، یو په بل پسې

مطایبه: شوخي، هغه وینا چې شوخي او طنز پکې وي.

معیار: د اندازه کولو وسیله، سرمشق

مغلوب: شکست خوړلی، ماتې خوړلی

مناهي: د منع جمعه، منع شوي کارونه

منشور: هغه کلام چې وزن او قافیه ونه لري

مندیش: د غوریانو پایتخت، یوه ټینګه مشهوره کلا

مُل: شراب

محرقه: یو ډول ناروغي ده، چې دوامداره تبه لري.

محاوره: خبرې اترې، اصطلاح

مجازي: غیر واقعي، غیر حقیقي.

مجهول: هغه څه چې نامعلوم او نااشنا وي

منفور: د نفرت وړ

موضوعي: چې په یوه خاصه نقطه او یا یو ځای پورې تړلی وي

منصور: کامیاب، حسین بن منصور

حلاج چې د وحدت الوجود د فلسفې لوی علمبردار و.

منظوم: هغه کلام چې وزن او قافیه ولري

منعکس: انعکاس شوی، څرګند

مورفیم: د ژبې تر ټولو کوچنی معناد او واحد چې که تجزیه شي خپله معنا له لاسه ورکوي.

میرځي: دښمن، دښمني، دښمنان

مهر: محبت، دوستي، مینه

((ن))

ناتار: تاراج، یلغار

نار: اور

نانغتان: نااوربدونکي

ناورین: مصیبت، ماتم، غم

ناصبور: بې صبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نتلی: زار، زبون، افسرده

نشاط: خوښي، ارزو، هيله

ندامت: پښېماني

نصرت: فتحه، سوبه

نغوړه: اوړېدل، اوره

نوا: اواز، نغمه

نياو: عدالت، مساوات

نيرنگ: فريب، مکر، حيله

نصاب: ټاکلې اندازه چې زکات پرې

واجبېږي، درجه، مقام

نفسي: هوا او هوس، روحي، روحاني

((و))

ورم: پند، نصيحت

وعظونه: نصيحتونه کول

ويار: افتخار

ويرنه: وير، ماتم، سوگ

وبله: يو تر بله

ودنه: وده، نمو، غوړېدنه

وستاکار: د ټوپکو جوړوونکی

وکوراوه: باطل کول

وټه ييز: اقتصادي

وصف: ستاينه، توصيف

وصال: ديدن

((هـ))

هجوم: ناڅاپه حمله، يرغل

هدايت: لارښوونه

هذب: بې عيبه، صاف

هريوا: د هرات پخوانی نوم

هستوني: تخليقات، ايجادات

هسک: آسمان، لوړ

هنريت: د هنر لرونکی

هوري: هلته

هوډ: عزم، اراده

هيجان: حيرانېدل، په احساساتو راتلل، جذباتي کېدل

هيرو: اتل، قهرمان

هزل: هر ډول غير جدي وينا، شعر يا نثر چې غير اخلاقي مضامين ولري او د اجتماعي ادب مخالف وي.

هوا: خواهش، نفس، هوس، ميل، تمنا

((ی))

يرغ: هغه اس چې تېز رفتار کوي، اسلحه

يرغالم: يرغل کوم

يرغل: حمله، هجوم

يون: حرکت، تگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخځليکونه

۱ـ ادب پوهنه، سید محی الدین هاشمي، د اریک ګرځنده کتابتونونو اداره، پېښور، ۱۳۸۱ هـ. ش. کال.

۲ـ ادبي بحثونه، ګل پاچا الفت، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۱ هـ. ش. کال

۳ـ بدیع او بیان، پوهندوی نور احمد شاکر، خپرونکی: د پوهنې وزارت د تالیف او ترجمې ریاست، ۱۳۵۵ هـ. ش. کال.

۴ـ بدیع او د پښتو شعر، اورنګزېب ارشاد، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۶۹ هـ. ش. کال.

۵ـ په پښتو ادب کې د سولې انعکاس، څېړنوال محمد عارف غروال، د علومو اکاډیمي، کابل، ۱۳۸۸ هـ. ش. کال.

۶ـ پښتنې مېرمنې، عبدالرؤف بېنوا، دولتي مطبعه، ۱۳۲۳ هـ. ش. کال.

۷ـ پښتو ادب کې متل، داور خان داود، یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار، پېښور، ۱۹۹۰م. کال

۸ـ پښتو لنډۍ، عبدالرؤف بېنوا، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ هـ. ش. کال.

۹ـ پټه خزانه، محمد هوتک، د پوهنې وزارت، د دارالتالیف ریاست، دویم جلد، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۳۹ هـ. ش. کال

۱۰ـ په افغانستان کې چاپېریال ته ورپېښ خطرونه، پوهنمل شیر احمد ګردیوال، د افغانستان د مطالعاتو مرکز، دانش کتابتون، پېښور، ۱۳۷۸ هـ. ش. کال.

۱۱ـ پښتو ګرامر، پوهاند صدیق الله رښتین، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، ۱۳۷۲ هـ. ش. کال.

۱۲ـ پښتو لهجې، څېړنپوه علي محمد منګل، د علومو اکاډیمي، ۱۳۸۷ هـ. ش. کال.

۱۳ـ پښتو نحوه، پوهندوی ډاکټره زرغونه رښتین زیور، د ساپې د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، ۱۳۸۲ هـ. ش. کال.

۱۴ـ پښتو اصطلاحات او محاورې، محمد ګل نوري، پښتو ټولنه، ۱۳۲۰ هـ. ش. کال.

۱۵ـ تاریخ ادبیات جهان، باکنر تراویک، ژباړونکی عربعلي رضایي، دویم جلد، تهران، ۱۳۸۳ هـ. ش. کال.

۱۶ـ تاریخ مرصع، افضل خان خټک، د دوست محمد کامل مومند په مقابله او سریزه، پېښور، ۱۹۷۴م. کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷_ ځانځانی خامار، سید بهاو الدین مجروح، خپرونکی د کلید د کتاب خپرولو اداره، دویم چاپ، ۱۳۸۵ هـ. ش. کال.
۱۸_ د استاد الفت نثري کلیات، د اسمعیل یون په زیار، خپرونکی د اطلاعاتو او کلتور وزارت، دولتي مطبعه، ۱۳۷۰ هـ. ش. کال.
۱۹_ د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنی دورې) سرمحقق زلمی هیوادمل، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ هـ. ش. کال.
۲۰_ د بدیع فن او پښتو شاعري، پوهنیار محمد ابراهیم همکار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۸ هـ. ش. کال.
۲۱_ د مهدي داستاني کلیات، تدوین او سریزه د زرین انځور، د افغانستان د لیکوالو انجمن، کابل، ۱۳۶۷ هـ. ش. کال.
۲۲_ د اشرف خان هجري دیوان، تحقیق، ترتیب او سمونه، همېش خلیل، خپرونکی پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۰۱م. کال
۲۳_ د لیکوالی فن، سید محی الدین هاشمي، میرویس کتاب پلورنځی، ۱۳۸۲ هـ. ش. کال.
۲۴_ دریای گوهر، دکتر مهدي حمیدي، دویم جلد، تهران، ۱۳۶۹ هـ. ش. کال.
۲۵_ د پښتو ټپې او ژوند، سلما شاهین، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، جدون پریس، ۱۹۸۹م. کال
۲۶_ د پښتو ادبیاتو منځنی دوره، پوهاند ډاکټر زیور الدین زیور، د ساپي څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، ۱۳۸۶ هـ. ش. کال.
۲۷_ د پښتو نثر هنداره، پوهاند صدیق الله رښتین، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور
۲۸_ د ادبیاتو په لړکې، پوهنمل بریالی باجوړی، خپرونکی حسام ادبي ټولنه، کابل، ۱۳۸۷ هـ. ش. کال.
۲۹_ د پښتو ادبیاتو تاریخ، کاندید اکاډمیسن سرمحقق محمد صدیق روهي، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ هـ. ش. کال.
۳۰_ د خوشحال ختک کلیات، د افغانستان د علومو اکاډیمي، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت، د ادب او فولکلور څانګه، کابل، دولتي مطعه، ۱۳۵۹ هـ. ش. کال.
۳۱_ د نړۍ ولسي کیسې، صفیه حلیم، میوند کلتوري ټولنه، کندهار، ۱۳۸۴ هـ. ش. کال.
۳۲_ د خواجه محمد بنګښ دیوان، ترتیب او تدوین: خیال بخاري، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۶۵م. کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۳_ د پښتو ژبې لنډ ګرامر، محقق سید محی الدین هاشمي، د اریک ګرځنده کتابتونونو اداره، پېښور، ۱۳۸۳ هـ. ش. کال.
۳۴_ زرینې څانګې، حبیب الله رفیع، د افغانستان د علومو اکاډیمي د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز، پښتو ټولنه، ۱۳۶۰ هـ. ش. کال.
۳۵_ که سوله وي، رولاند جیز، د یونسکو او بي بي سي د تعلیمي پروژې خپرونه، پېښور، پبلک ارټ پریس، ۱۹۹۷م. کال
۳۶_ لیکوالي ((املاء او انشاء)) ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۹ هـ. ش. کال.
۳۷_ نا اشنا سندرې، سید بهاو الدین مجروح، دکلید دکتاب خپرولو اداره، دویم چاپ، د نبراسکا تعلیمي مطبعه، ۱۳۸۵ هـ. ش. کال
۳۸_ ننګیالی د زمانې، سرمحقق زلمی هېوادمل، د افغانستان د کلتوري وډې ټولنه، ۱۳۸۰ هـ. ش. کال.
۳۹_ نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل، حبیب الله تږی، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ هـ. ش. کال.
۴۰_ پښتو پښویه، پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۶۲ هـ. ش. کال
۴۱_ د پښتو ادب تاریخ، پوهاند صدیق الله رښتین، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۲۵ هـ ش. کال
۴۲_ پښتو څېړنې (د مقالو ټولګه) لومړی ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۵۴ هـ. ش. کال دولتي مطبعه
۴۳_ د حاجي جمعه بارکزي دیوان، سریزه او لغتنامه د پوهاند عبدالشکور رشاد، خپرونکی: د افغانستان د علومو اکاډیمي، ۱۳۶۰ هـ. ش. کال
۴۴_ ادبي فنون (بدیع او بیان) پوهنمل محمد اقا شېرزاد، کابل، ۱۳۸۴ هـ. ش. کال
۴۵_ فولکلوري وړمې، سرمحقق علي محمد منګل، کابل، ۱۳۸۷ هـ. ش. کال
۴۶_ توریالی پښتون (د خوشحال د سیمینار د مقالو ټولګه) پښتو ټولنه، ۱۳۵۰ هـ. ش. کال، دولتي مطبعه
۴۷_ معلومات اساسي در مورد دوا و مواد نشه اور، جان الن، پروژه های تعلیمي برای افغانستان، بي. بي. سي، پبلک ارت پریس، پیشاور، سال ۲۰۰۰م.
۴۸_ فرهنگ فشردۀ سخن، (جلد ۱ _ ۲) داکتر حسن انوری، تهران، سال ۱۳۸۲ هـ ش.
۴۹_ پښتو _ پښتو تشریحي قاموس، (۱ _ ۴ټوک) د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو انستیتوت، کابل، ۱۳۵۸، ۱۳۶۰، ۱۳۶۱، ۱۳۶۵ هـ. ش. کلونه.
۵۰_ اوسني لیکوال (درې ټوکه) عبدالرؤوف بېنوا، کابل، دولتي مطبعه کلونه، ۱۳۴۰، ۱۳۴۱، ۱۳۴۶هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library